# د شمېر کِتاب ـ د تورات شريف

# څلورم کِتاب

## پېژندګلو

د شمېر په کِتاب کښې حضرت موسیٰ علیه السلام د کنعان د سفر قيصه بيانوی، کوم سفر چې هغوئ لوظ کړے شوی وطن ته کړے وو. اګر چې د مِصر نه تر وعده شوی شوی مُلک پورې سفر دومره اوږد نهٔ دے خو هلته په رسېدو کښې بنی اِسرائيلو څلوېښت کاله وخت واخستلو. هم په دې کِتاب کښې د دې وجه هم بيان شوې ده. د بنی اِسرائيلو د نافرمانئ او د ايمان د کمزورتيا په وجه خُدائ پاک هغوئ په بيابان کښې سرګردانه وګرځول. په ټول کِتاب کښې خُدائ پاک ته خپل هغه لوئ مقام حاصل دے څوک چې بې‌اعتقادی او بغاوت نهٔ نظرانداز کوی خو هغه داسې هم څرګندېږی څوک چې خپل لوظ په وفادارئ سره قائموی او په صبر سره د خپلو خلقو حاجتونه پوره کوی. کوم سفر چې مونږ ته دا هم رايادوی چې خُدائ پاک زمونږ مل دے لکه څنګه چې زمونږ سفر د جنت طرف دے. د حفظ کولو دپاره شمېر ۱۹:۲۳ آيت، ”خُدائ پاک د بنی آدم په شان نهٔ دے، چې دروغ ووائی، هغه بنی آدم نهٔ دے چې خپله فېصله بدله کړی. هغه چې کومه وعده وکړی، نو هغه پوره کوی، هغه چې څهٔ وائی، نو هغه کوی.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بنی اِسرائيلو اوله مردم‌شماری

١ ١ د دوېم کال د دوېمې مياشتې په وړومبۍ ورځ بنی اِسرائيلو د مِصر مُلک
پرېښودو نه پس، د سينا په بيابان کښې مالِک خُدائ د خپل حضور په مقدسه
خېمه کښې موسیٰ ته وفرمائيل، ٢ "تهٔ او هارون د ټولو بنی اِسرائيلو د قبيلو او
کورَنو مردم‌شماری وکړئ. د هغه ټولو سړو نومونه وليکئ ٣ چې عُمر يې شل
کاله يا د دې نه زيات وی او چې جنګ کولے شی. ٤ د هرې قبيلې نه يو يو
مشر راوغواړه چې ستا مدد وکړی." ٥-١٦ دا هغه سړی دی چې د خپلو قبيلو
مشران دی، کوم چې ستاسو د ملګرتيا دپاره د قوم نه خوښ کړے شوی دی
يعنې د روبين د قبيلې نه اليصور د شدِيُور زوئ، د شمعون د قبيلې نه سلومی‌اېل
د صوری‌شدی زوئ، د يهوداه د قبيلې نه نحشون د عمی‌نداب زوئ، د يساکار د
قبيلې نه نتنی‌ايل د ضُعر زوئ، د زبولون د قبيلې نه اِلياب د حيلون زوئ، د
اِفرائيم د قبيلې نه اليسمع د عميهود زوئ، د منسی د قبيلې نه ګملی‌اېل د
فداهصور زوئ، د بنيامين د قبيلې نه اِبدان د جدعونی زوئ، د دان د قبيلې نه
اخيعزر د عمی‌شدی زوئ، د آشر د قبيلې نه فجعی‌اېل د عکران زوئ، د جاد د
قبيلې نه اِلياسف د دعواېل زوئ، د نفتالی قبيلې نه اخيرع د عينان زوئ. ١٧ د
دې دولسو سړو په مدد سره موسیٰ او هارون، ١٨ د دوېمې مياشتې په اوله ورځ
د بنی اِسرائيلو ټول قوم راغونډ کړو او د ټولو خلقو نومونه يې د قبيلو او کورَنو په
مطابق وليکل. د هغه ټولو سړو نومونه وليکلے شول او وشمېرلے شول چې عُمر
يې شل کاله يا د دې نه زيات وو، ١٩ هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم
ورکړے وو. د سينا په بيابان کښې، موسیٰ خلق وشمېرل. ٢٠-٤٦ هغه ټول
سړی چې عُمر يې شل کاله يا د شلو کالو نه زيات وو او چې جنګ يې کولے
شو نو د هغوئ نومونه د قبيلو او کورَنو په مطابق وليکلے شول، شروع د روبين
د قبيلې نه وشوه، چې د يعقوب مشر زوئ وو. ټول شمېر دا دے. د روبين اولاد
شپږ څلوېښت زره او پينځهٔ سوه کسان وُو، د شمعون اولاد يو کم شپېتهٔ زره او



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

درې سوه کسان وُو، د جاد اولاد پينځۀ څلويښت زره شپږ سوه او پنځوس کسان
وُو، د يهوداه اولاد څلور اويا زره او شپږ سوه کسان وُو، د يساکار اولاد څلور
پنځوس زره او څلور سوه کسان وُو، د زبولون اولاد اووۀ پنځوس زره او څلور
سوه کسان وُو، د اِفرائيم اولاد څلويښت زره او پينځۀ سوه کسان وُو، د منسى
اولاد دوه دېرش زره او دوه سوه کسان وُو، د بنيامين اولاد پينځۀ دېرش زره او
څلور سوه کسان وُو، د دان اولاد دوه شپېتۀ زره او اووۀ سوه کسان وُو، د آشر
اولاد يو څلويښت زره او پينځۀ سوه کسان وُو، د نفتالى اولاد درې پنځوس زره
او څلور سوه کسان وُو. دا ټول په شمېر کښې شپږ لاکه درې زره او پينځۀ سوه
پنځوس کسان وُو. ۴۷ د ليويانو نومونه د نورو قبيلو سره نۀ وُو ليکلے شوى،
۴۸ ځکه چې مالِک خُدائ موسىٰ ته فرمائيلى وُو چې، ۴۹ ”کله چې تۀ د هغه
سړو مردم‌شمارى کوې چې جنګ کولے شى، نو د ليوى قبيله په کښې مۀ
شامله. ۵۰ خو ليويان زما د حضور مقدسې خېمې او د دې د ټول سامان
مشران مقرر کړه. هغوئ به خېمه او د دې سامان وړى، خِدمت به کوى او د دې
نه ګېرچاپېره به خېمې لګوى. ۵۱ هر کله چې تاسو خېمې بل ځائ ته اوړئ نو
ليويان به مقدسه خېمه راټولوى او په هر يو نوى ځائ کښې به يې لګوى. بل هر
څوک چې مقدسې خېمې ته ورنزدې شى نو ويه وژلے شى. ۵۲ او نور
اِسرائيليان به قبيله په قبيله خېمې ودروى، هر يو سړے به د خپلې قبيلې سره وى
او د خپلې جنډې لاندې به وى. ۵۳ خو ليويان به د مقدسې خېمې د حِفاظت
دپاره د دې نه ګېرچاپېره خېمې ولګوى، چې څوک نزدې رانۀ شى، هسې نه چې د
بنى اِسرائيلو قوم ته زۀ په قهر شم.“ ۵۴ نو بنى اِسرائيلو هم هغه شان وکړل
څنګه چې مالِک خُدائ موسىٰ ته حُکم کړے وو.

## هرې قبيلې ته د خېمو ځايونه په نښه کول

**۲** ۱ بيا مالِک خُدائ موسىٰ او هارون ته دا اصُول وښودل. ۲ کله چې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِسرائيليان کېمپ جوړوی، نو هر سړے به د خپل لښکر د جنډې لاندې خېمه
ودروی. خېمې به د مقدسې خېمې نه ګېرچاپېره لګولے شی. ۳-۹ نمرخاتهٔ
طرف ته، چې څوک د يهوداه د لښکر د جنډې لاندې وی نو هغوئ به په خپلو ډلو
کښې خېمې ودروی، د هغوئ د قبيلو د مشرانو نومونه دا دی. د يهوداه قبيلې مشر
نحشون زوئ د عمی‌نداب، د قبيلې شمېر څلور اويا زره او شپږ سوه کسان دی،
د يساکار قبيلې مشر نتنی‌ايل زوئ د ضُعر، د قبيلې شمېر څلور پنځوس زره او
څلور سوه کسان دی، د زبولون قبيلې مشر اِلياب زوئ د حيلون، د قبيلې شمېر
اووهٔ پنځوس زره او څلور سوه کسان دی. دا ټول په شمېر کښې يو سل او شپږ
اتيا زره او څلور سوه کسان دی. د يهوداه لښکر به مخکښې روان وی. ۱۰-۱۶
جنوب طرف ته، څوک چې د روبين د لښکر د جنډې لاندې وی نو هغوئ به په
خپلو ډلو کښې خېمې ودروی، د هغوئ د قبيلو د مشرانو نومونه دا دی. د روبين
قبيلې مشر اليصور زوئ د شدِيُور، د قبيلې شمېر شپږ څلوېښت زره او پينځهٔ
سوه کسان دی، د شمعون قبيلې مشر سلومی‌اېل زوئ د صوری‌شدی، د قبيلې
شمېر يو کم شپېتهٔ زره او درې سوه کسان دی، د جاد قبيلې مشر اِلياسف زوئ د
دعواېل، د قبيلې شمېر پينځهٔ څلوېښت زره شپږ سوه پنځوس کسان دی. دا ټول
په شمېر کښې يو سل او يو پنځوس زره او څلور سوه پنځوس کسان دی. دويم
به د روبين لښکر روان وی. ۱۷ بيا دې د اولنو دوه لښکرو او د وروستنو دوه
لښکرو په مينځ کښې ليويان روان شی چې مقدسه خېمه يوسی. هر يو لښکر به
هم په هغه ترتيب روان وی چې څنګه خېمې ودروی، هر يو به په خپل خپل ځائ
د خپلې جنډې لاندې وی. ۱۸-۲۴ نمرپرېواتهٔ طرف ته، څوک چې د اِفرائيم د
لښکر د جنډې لاندې وی نو هغوئ به په خپلو ډلو کښې خېمې ودروی، د هغوئ د
قبيلو د مشرانو نومونه دا دی. د اِفرائيم قبيلې مشر اليسمع زوئ د عميهود، د
قبيلې شمېر څلوېښت زره او پينځهٔ سوه کسان دی، د منسی قبيلې مشر ګملی‌اېل
زوئ د فداهصور، د قبيلې شمېر دوه دېرش زره او دوه سوه کسان دی، د بنيامين
قبيلې مشر اِبدان زوئ د جدعونی، د قبيلې شمېر پينځهٔ دېرش زره او څلور سوه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کسان دی. دا ټول په شمېر کښې يو سل او اتۀ زره او سل کسان دی. درېم به د
اِفرائيم لښکر روان وی. ۲۵-۳۱ شمال طرف ته، څوک چې د دان د لښکر د
جنډې لاندې وی نو هغوئ به په خپلو قبيلو کښې خېمې ودروی، د هغوئ د قبيلو
د مشرانو نومونه دا دی. د دان قبيلې مشر اخيعزر زوئ د عمی‌شدی، د قبيلې
شمېر دوه شپېتۀ زره او اووۀ سوه کسان دی، د آشر قبيلې مشر فجعی‌اېل زوئ د
عکران، د قبيلې شمېر يو څلوېښت زره او پينځۀ سوه کسان دی، د نفتالی قبيلې
مشر اخيرع زوئ د عينان، د قبيلې شمېر درې پنځوس زره او څلور سوه کسان
دی. دا ټول په شمېر کښې يو لاک اووۀ پنځوس زره او شپږ سوه کسان دی. په
آخر کښې به د دان لښکر روان وی. ۳۲ د بنی اِسرائيلو د ټولو لښکرو شمېر شپږ
لاکه درې زره پينځۀ سوه او پنځوس کسان وُو چې قبيله په قبيله د هغوئ نومونه
وليکلے شول. ۳۳ هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ موسىٰ ته حُکم کړے
وو، ليويان د نورو بنی اِسرائيلو سره يو ځائ ونۀ شمېرلے شول. ۳۴ بنی
اِسرائيلو هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ موسىٰ ته حُکم کړے وو.
هغوئ هر يو د خپلې جنډې لاندې خېمې ودرولې او هر يو د خپلې قبيلې سره
روان وو.

## د حضرت هارون زامن

٣ ۱ دا د هارون او د موسىٰ د خاندان د هغه وخت خبره ده کله چې مالِک
خُدائ د سينا په غرۀ باندې د موسىٰ سره خبرې وکړې. ۲ د هارون څلور
زامن وُو، ندب چې د ټولو مشر وو، ابيهُو، اِلی‌عزر او اِتمر. ۳ د هغوئ سرونه
غوړ کړے شول او د اِمامانو په توګه مقرر کړے شول، ۴ خو ندب او ابيهُو
هغه وخت ووژلے شول چې کله هغوئ د سينا په بيابان کښې مالِک خُدائ ته
هغه اور پېش کولو چې د هغې اجازت نۀ وو. د هغوئ هيڅ اولاد نۀ وو، نو اِلی‌عزر
او اِتمر د خپل پلار هارون په ژوندون کښې د اِمامانو په توګه خِدمت کولو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د لیویانو ذمه واری

۵ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل، ۶ ”د لیویانو قبیله نزدې راوله او
هغوئ د هارون اِمام دپاره خِدمتګاران مقرر کړه. ۷ هغوئ به زما د حضور په
مقدسه خېمه کار کوی او د اِمامانو او د ټول قوم دپاره به ذمه واری پوره کوی.
۸ هغوئ به د مقدسې خېمې د ټول سامان خیال ساتی او د نورو بنی اِسرائیلو
دپاره به ذمه واری پوره کوی. ۹ لیویان د هارون او د هغهٔ د زامنو د خِدمت
دپاره وقف شوی دی. ۱۰ تهٔ به هارون او د هغهٔ زامن مقرر کړې چې د اِمامانو
په توګه ذمه واری پوره کړی، بل هر څوک چې مقدسې خېمې ته د ورنزدې کېدلو
کوشش وکړی نو هغه به ووژلے شی.“ ۱۱ نو مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل،
۱۲-۱۳ ”لیویان دې اوس زما شی. کله چې ما د مِصریانو وړومبی پېدا شوی
نران ووژل، نو د بنی اِسرائیلو د هر خاندان مشر زوئ او وړومبے پېدا شوے
څناور وقف کړے شول چې زما شی. خو اوس د بنی اِسرائیلو د مشرانو زامنو په
ځائ لیویان به زما شی. زهٔ مالِک خُدائ یم.“

## د لیویانو مردمشماری

۱۴ مالِک خُدائ د سینا په بیابان کښې موسیٰ ته حُکم وکړو ۱۵ چې د لیویانو
د قبیلو او کورَنو نومونه ولیکی، هغه هر یو نر دې وشمېری چې عُمر یې د یوې
میاشتې یا د دې نه زیات وی، ۱۶ او موسیٰ د مالِک خُدائ د حُکم په مطابق د
هغوئ نومونه ولیکل. ۱۷-۲۰ د لیوی درې زامن وُو، جیرسون، قُهات او مراری،
هغوئ د هغه قبیلو پلار نیکهٔ وُو کومې قبیلې چې د هغوئ په نومونو یادیږی. د
جیرسون دوه زامن وُو، لِبنی او سِمعی. د قُهات څلور زامن وُو، عُمرام، اِضهار،
حبرون او عُزیایل، او د مراری دوه زامن وُو، محلی او موشی. هغوئ د هغه
قبیلو پلار نیکهٔ وُو چې د هغوئ په نومونو یادیږی. ۲۱ لِبنی او سِمعی دواړه د
جیرسون قبیلې وې. ۲۲ هغه ټول نران په شمېر کښې اووهٔ زره او پینځهٔ سوه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کسان وُو چې عُمر يې يوه مياشت يا د دې نه زيات وو. ﴿٢٣﴾ جيرسونيانو
نمرپرېواتۀ طرف ته د مقدسې خېمې نه وروستو خېمې ودرولې، ﴿٢٤﴾ د اِلياسف
سره چې د لااېل زوئ او د جيرسون قبيلې مشر وو. ﴿٢٥﴾ هغوئ د مقدسې خېمې
دننني پړدې، پاسنى پړدې، د ننوتلو دروازې د پړدې د خيال ساتلو ذمه وار وُو،
﴿٢٦﴾ د هغه پړدو چې د خېمې د دربار او د قربان‌گاه نه گېرچاپېره وې او دربار ته
د ننوتلو د دروازې پړدې. هغوئ د هغه ټول خِدمت ذمه وار وُو چې د دې څيزونو
سره يې تعلق لرلو. ﴿٢٧﴾ عُمرام، اِضهار، حبرون او عُزى‌اېل څلور واړه خاندانه د
قُهات د قبيلې نه وُو. ﴿٢٨﴾ د هغه ټولو نرانو شمېر اتۀ زره او شپږ سوه کسان وُو
چې د هغوئ عُمر يوه مياشت يا د دې نه زيات وو. ﴿٢٩﴾ قُهاتيانو د مقدسې خېمې
جنوبى طرف ته خېمې ودرولې، ﴿٣٠﴾ د اليصفن سره چې د عُزى‌اېل زوئ او د
قبيلې مشر وو. ﴿٣١﴾ د هغوئ ذمه وارى د دې څيزونو خيال ساتل وُو يعنې د لوظ
صندوق، مېز، ډيوټ، قربان‌گاه، د هغه لوښو چې اِمامان يې په مقدس ځائ کښې
استعمالوى او زيات مقدس ځائ ته د ننوتلو پړده. هغوئ د هغه ټول خِدمت ذمه
وار وُو چې د دې څيزونو سره يې تعلق لرلو. ﴿٣٢﴾ د ليويانو مشر د هارون اِمام
زوئ اِلى‌عزر وو. د هغۀ مشرى په هغه کسانو باندې وه چې کومو په مقدس ځائ
کښې کار کولو. ﴿٣٣﴾ د محلى او موشى دواړه خاندانه د مرارى د قبيلې نه وې.
﴿٣٤﴾ د هغه ټولو نرانو شمېر شپږ زره او دوه سوه کسان وُو چې د هغوئ عُمر يوه
مياشت يا د دې نه زيات وو. ﴿٣٥﴾ مراريانو د مقدسې خېمې شمالى طرف ته
خېمې ودرولې، د صورى‌اېل سره چې د ابى‌خېل زوئ او د قبيلې مشر وو. ﴿٣٦﴾
هغوئ د مقدسې خېمې د چوکاټونو، دُرشلو، ستنو، پېښو او د دې په نورو ټولو
څيزونو ذمه وار مقرر شول. هغوئ د هغه ټول خِدمت ذمه وار وُو چې د دې
څيزونو سره يې تعلق لرلو. ﴿٣٧﴾ هغوئ د ستنو، پېښو، موږو او د دربار د بهرنى
رسو د خيال ساتلو ذمه وار وُو. ﴿٣٨﴾ موسىٰ، هارون او د هغۀ زامنو نمرخاتۀ
طرف ته د مقدسې خېمې په مخکښې خېمې ودرولې. هغوئ د هغه خِدمت ذمه
وار وُو چې د بنى اِسرائيلو دپاره په مقدس ځائ کښې کېدلو. بل هر چا چې د دې
د کولو کوشش کړے وے نو هغه به وژلے شو. ﴿٣٩﴾ د مالِک خُدائ په حُکم



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې چې موسیٰ او هارون د لیویانو کوم شمېر وکړو هغه ټول نران دوویشت زره وُو چې د هغوئ عُمر یوه میاشت یا د دې نه زیات وو.

## د لیویانو د مشرانو زامنو په ځائ مقرر کېدل

۴۰-۴۱ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل، ”د بنی اِسرائیلو ټول مشران زامن زما
دی. نو د اِسرائیلو د هر مشر زوئ نوم ولیکه، چې عُمر یې یوه میاشت یا د دې نه
زیات وی. خو د هغوئ په ځائ زۀ دا د دعوې سره وایم چې ټول لیویان زما دی.
زۀ مالِک خُدائ یم. زۀ دا هم وایم چې د ټولو وړومبو پیدا شوو څاروو په ځائ د
لیویانو څاروی زما دی.“ ۴۲ موسیٰ هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ
حُکم کړے وو او د بنی اِسرائیلو ټول مشران زامن یې وشمېرل ۴۳ چې د هغوئ
عُمر یوه میاشت یا د دې نه زیات وو، هغوئ ټول په شمېر کښې دوویشت زره
دوه سوه او درې اویا کسان وُو. ۴۴ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل، ۴۵
”اوس د بنی اِسرائیلو د ټولو مشرانو زامنو په ځائ لیویان وقف کړه چې زما شی
او د بنی اِسرائیلو د وړومبو پیدا شوو څاروو په ځائ د لیویانو څاروی وقف کړه.
زۀ مالِک خُدائ یم. ۴۶ خو د بنی اِسرائیلو مشران زامن د لیویانو نه دوه سوه او
درې اویا کسان زیات دی، نو تۀ به هغه زیات زامن واپس اخلې. ۴۷ د هر یو
دپاره د منلے شوی معیار په مطابق پینځۀ د سپینو زرو سیکې ورکړه، ۴۸ او دا
پیسې هارون او د هغۀ زامنو ته ورکړه.“ ۴۹-۵۰ موسیٰ هم هغه شان وکړل او د
سپینو زرو سیکې یې واخستلې چې یو زر درې سوه او پینځۀ شپېته وې ۵۱ او د
مالِک خُدائ د فرمان په مطابق یې هغه هارون او د هغۀ زامنو له ورکړې.

## د قُهات د قبیلې د لیویانو ذمه واری

۴ ۱ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل چې، ۲ ”د لیویانو مردمشماری
وکړه چې هغوئ قُهاتیان دی. هغوئ دې قبیله په قبیله او خاندان په خاندان



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وشمېرلے شی، ۳ او د هغه ټولو سرو نومونه دې ولیکلے شی چې د هغوئ
عُمر د دېرشو کالو نه تر پنځوسو کالو پورې وی او چې د مالِک خُدائ د حضور
په مقدسه خېمه کښې کار کولے شی. ۴ د هغوئ خِدمت به د ډېرو مقدسو
څیزونو خیال ساتل وی." ۵ مالِک خُدائ موسیٰ ته دا اصُول وښودل. کله چې
د کېمپ د وړلو وخت شی، نو هارون او د هغهٔ زامن به مقدسې خېمې ته ننوځی،
د لوظ د صندوق په مخکښې پرده به راکوزه کړی او د لوظ صندوق به ورباندې
پټ کړی. ۶ هغوئ به په دې باندې د څرمنې یوه ښهٔ ټوټه واچوی، د آسمانی
رنګ کپړه به دپاسه ورباندې خوره کړی او د وړلو دپاره به بازوګان وردننه کړی.
۷ هغوئ به په مېز باندې د آسمانی رنګ کپړه خوره کړی چې په کوم مېز
باندې د مالِک خُدائ روټئ وی او په دې به لوښی، د خوشبویئ جامونه، د نذرانو
جامونه او د څښلو نذرانو دپاره منګی کېږدی. په مېز به همېشه روټئ پرته وی.
۸ هغوئ به په دې هر څهٔ باندې یوه سره کپړه خوره کړی، د څرمنې یوه ښهٔ
ټوټه دې ورباندې واچوی او د وړلو دپاره به بازوګان وردننه کړی. ۹ هغوئ به
د آسمانی رنګ یوه کپړه واخلی او ډیوټ، ډیوې، سرپوښونه، مجمعې او د زیتُونو
تېلو ټول لوښی به ورباندې پټ کړی. ۱۰ هغوئ به دا او د دې ټول څیزونه د
څرمنې په یوه ښهٔ ټوټه کښې تاو کړی او په وړُونکی چوکاټ به یې کېږدی چې په
کوم باندې وړلے شی. ۱۱ بیا به هغوئ د سرو زرو په قربانګاه باندې د آسمانی
رنګ کپړه خوره کړی، د څرمنې یوه ښهٔ ټوټه به ورباندې واچوی او د وړلو دپاره
بازوګان به وردننه کړی. ۱۲ هغوئ به په مقدس ځائ کښې هغه ټول لوښی
واخلی چې په خِدمت کښې استعمالیږی، د آسمانی رنګ په یوه کپړه کښې به یې
تاو کړی، د څرمنې یوه ښهٔ ټوټه به پرې واچوی او په وړُونکی چوکاټ باندې به
یې کېږدی. ۱۳ هغوئ به د قربانګاه نه ایره لرې کړی او په قربانګاه به د
کاسنی رنګ کپړه خوره کړی. ۱۴ هغوئ به په دې باندې هغه ټول سامان کېږدی
چې د قربانګاه په خِدمت کښې استعمالیږی. لکه د اور لوښی، د غوښې دپاره
درې غاښی، بېلچې او ښانکونه. بیا به هغوئ په دې باندې د څرمنې یوه ښهٔ ټوټه
واچوی، د وړلو دپاره به بازوګان وردننه کړی. ۱۵ کله چې د خېمو د وړلو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخت راشی او هارون او د هغهٔ زامن دا او د دې ټول سامان راونغاړی نو قُهاتيان
به د مقدس سامان وړلو دپاره راشی. قُهاتيان به مقدس سامان له ګوتې نهٔ
وروړی، ګني مړهٔ به شی. دا هغه څيزونه دی چې د هغې د وړلو ذمه واری د
قُهاتيانو ده، په کوم وخت کښې چې مالِک خُدائ د حضور خيمه وړلے شی.
۱۶ د هارون اِمام زوئ اِلىعزر به د ټولې مقدسې خيمې او د ډيوو دپاره د تېلو،
د خوشبويۍ، د غلې نذرانو، د غوړولو تېلو او په خيمه کښې د نورو ټولو څيزونو
ذمه وار وی کوم چې مالِک خُدائ ته وقف شوی دی. ۱۷ بيا مالِک خُدائ
موسیٰ او هارون ته وفرمائيل چې، ۱۸ ”قُهاتيان مهٔ پرېږدئ ۱۹ چې ډېرو
مقدسو څيزونو ته نزدې راشی هسې نه چې مړهٔ شی. د هغوئ د بچ کېدو د
خاطره هارون او د هغهٔ زامن به دننه ځی او هر سړی ته به خپل کار حواله کوی
چې څهٔ څيز به وړی. ۲۰ خو کهٔ قُهاتيان مقدسې خيمې ته دننه لاړل او اِمامان
يې وليدل چې د مقدسو څيزونو د وړلو تيارے کوی، نو دوئ به مړهٔ شی.“

## د جيرسونيانو د قبيلې ذمه واری

۲۱ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل چې، ۲۲ ”د هغه ليويانو مردم‌شماری
وکړه چې جيرسونيان دی، هغوئ دې قبيله په قبيله او خاندان په خاندان
وشمېرلے شی، ۲۳ او د هغه ټولو سړو نومونه دې وليکلے شی چې عُمر يې د
دېرشو کالو نه تر پنځوسو کالو پورې وی او چې د مالِک خُدائ د حضور په
مقدسه خيمه کښې کار کولے شی. ۲۴ هغوئ به د دې سامان د وړلو ذمه وار
وی يعنې ۲۵ مقدسه خيمه، د دې دننه او بهر پرده، د دې دپاسه د ښې څرمنې
ټوټه، د مقدسې خيمې پرده، ۲۶ د مقدسې خيمې او قربان‌ګاه نه ګېرچاپېره د
دربار پردې او رسۍ، دربار ته د ننوتلو د دروازې پردې او هغه ټول سامان چې د
دې په ودرولو کښې استعمالېږی. هغوئ به هغه ټولې ذمه وارۍ سر ته رسوی چې
د دې څيزونو سره تعلق لری. ۲۷ موسیٰ او هارون به جيرسونيانو ته د خدمت
کولو هدايت ورکوی او د هغوئ کارونه به ګوری چې هغه څهٔ يې سر ته رسولې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی کۀ نه کوم چې هارون او د هغۀ زامنو ورته حواله کړې دی. ۲۸ په مقدسه
خېمه کښې د جيرسونيانو ذمه وارئ دا دی، هغوئ به دا د هارون اِمام زوئ اِتمر
د ښودنې لاندې تر سره کوی.“

## د مراريانو قبيلې ذمه وارئ

۲۹ مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل چې، ”د هغه ليويانو مردم‌شمارى وکړه چې
د مراريانو قبيلې دی، هغوئ قبيله په قبيله او خاندان په خاندان وشمېره، ۳۰ او
د هغه ټولو سړو نومونه وليکه چې د هغوئ عُمر د دېرشو نه تر پنځوسو کالو
پورې وی او چې د مالِک خُدائ د حضور په خېمه کښې کار کولے شی. ۳۱
هغوئ به د مقدسې خېمې د چوکاټونو، دُرشلو، ستنو او د پښو وړلو ذمه وار وی،
۳۲ او د ستنو، پښو، موږو او د خېمې د ګېرچاپېره د دربار د پړدو رسو، سره د
هغه ټول سامان د وړلو ذمه وار وی چې د دې په ودرولو کښې استعمالېږی. هر
يو سړے به د هغه څيزونو ذمه وار وی کوم چې ورته حواله شوی وی. ۳۳ دا د
مراريانو د مقدسې خېمې د خِدمت ذمه وارئ دی، هغوئ به د هارون اِمام زوئ
اِتمر د ښودنې لاندې دا کار تر سره کوی.“

## د ليويانو مردم‌شمارى

۳۴-۴۸ موسىٰ، هارون او د بنى اِسرائيلو نورو مشرانو د مالِک خُدائ حُکم
ومنلو او ليويان يې قبيله په قبيله او خاندان په خاندان وشمېرل، چې معلوم کړی
چې څومره سړی شته چې عُمر يې د دېرشو کالو نه تر پنځوسو کالو پورې وی او
چې په مقدسه خېمه کښې کار کولے شی. دوه زره اووۀ سوه او پنځوس قُهاتيان
وُو، دوه زره شپږ سوه او دېرش جيرسونيان وُو او درې زره او دوه سوه مراريان
وُو. دا ټول په شمېر کښې اتۀ زره پينځۀ سوه او اتيا کسان وُو. ۴۹ هر يو سړے
د هغه حُکم په مطابق وشمېرلے شو چې مالِک خُدائ موسىٰ ته کړے وو، او د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه حُکم په مطابق چې مالِک خُدائ موسیٰ له ورکړے وو نو هر يو ته د وړلو او خِدمت کولو ذمه وارئ حواله شوې.

## ناپاکه خلق

**۵** ۱ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ۲ ”بنی اِسرائيلو له حُکم ورکړه
چې هر هغه څوک چې د جذام بيماری لرى يا يې د بدن د يو ځائ نه اوبۀ ځى او
هر څوک چې د مړى سره د لګيدلو په وجه ناپاک شوے وى نو هغوئ دې هغه د
خېمو نه وشړى. ۳ نر يا ښځه چې ناپاکه وى نو هغوئ بهر ولېږه، چې خېمې
پليتې نۀ کړى، چرته چې زۀ د خپلو خلقو په مينځ کښې اوسيږم.“ ۴ بنی
اِسرائيلو هم هغه شان وکړل او داسې خلق يې د خېمو نه بهر کړل.

## د جرم په وجه جرمانه کېدل

۵ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل چې، ۶ ”بنی اِسرائيلو ته دا اصُول
وښايه. کله چې يو نر يا ښځه د چا خِلاف جرم وکړى نو هغه د مالِک خُدائ
نافرمانى کوى نو هغه کس به قصوروار وى، ۷ هغه دې خامخا د خپلې ګناه
اِقرار وکړى او چې د چا خِلاف يې جرم کړے وى نو هغه کس له دې پوره تاوان
ورکړى او شل فيصده دې زيات هم ورکړى. ۸ کۀ د مظلوم کس نزدې
خپلوان نۀ وى چې د جرم تاوان ورته مِلاو شى، نو د جرم تاوان به د مالِک
خُدائ په نوم اِمام له ورکړے شى، د دې سره به د مجرم د کفارې دپاره يو ګډ
هم وى. ۹ اِسرائيليان چې هره يوه خاص برخه مالِک خُدائ ته پيش کوى نو
هغه به د اِمام وى. ۱۰ هر يو اِمام هغه ټولې نذرانې د ځان دپاره ساتلے شى چې
کومې هغوئ ته ورکړے شوې وى.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## يو شکمن خاوند

١١ بيا مالِک خُدائ موسىٰ ته حُکم وکړو ١٢-١٤ چې بنى اِسرائيلو ته دا اصُول
وښائى. کۀ يو سړے شکمن شى چې خپلې ښځې ورسره بېوفائى کړې ده او د
بل سړى سره يې زنا کړې ده او د خپل ځان بېعزتى يې کړې ده، خو کۀ د خاوند
يقين پوخ نۀ وى، او کېدے شى چې د هغۀ ښځې دا خبره پټه ساتلې وى، ګواه هم
نۀ وى او په دې کار پورې نيولے شوې هم نۀ وى، يا داسې وشى چې يو خاوند په
خپله ښځه باندې هسې شکمن شى، کۀ هغې بېوفائى هم نۀ وى کړې. ١٥ په
داسې دواړو حالتونو کښې سړے به خپله ښځه اِمام له بوځى. هغه به يو کلو د
اوربشو اوړۀ هم يوسى، خو هغه به په دې باندې د زيتُونو تېل نۀ اچوى او نۀ به
ورباندې خوشبوئى اچوى، ځکه چې دا نذرانه د شکمن خاوند د طرف نه ده، دا د
دې دپاره پېش کيږى چې حقيقت ښکاره شى. ١٦ اِمام به هغه ښځه وړاندې
راولى او د مالِک خُدائ د قربانګاه په مخکښې به يې ودروى. ١٧ هغه به په
کنډول کښې څۀ مقدسې اوبۀ واچوى او د مالِک خُدائ د حضور مقدسې خېمې
د دربار نه به لږه خاوره واخلى او په اوبو کښې به يې واچوى چې ترخې شى.
١٨ بيا به هغه د ښځې وېښتۀ خوارۀ کړى او د اوړو نذرانه به د هغې په لاس
کښې کيږدى. اِمام به هغه جام په خپلو لاسونو کښې ونيسى چې ترخې اوبۀ په
کښې دى. دا د دې دپاره چې په هغه کس باندې لعنت راولى چې کوم ګناهګار
وى. ١٩ بيا به اِمام هغه ښځه دې ته راضى کړى چې داسې قسم وخورى، ”کۀ تا
زنا کړې نۀ وى، نو چې دا اوبۀ کوم لعنت راولى نو هغه به تا ته نقصان نۀ
رسوى. ٢٠ خو کۀ تا زنا کړې وى، ٢١ نو مالِک خُدائ دې ستا نوم ستا په
خلقو کښې لعنتى کړى. تا دې شنډه کړى او ستا خېټه دې وپړسوى. ٢٢ دا اوبۀ
به ستا خېټې ته ننوځى او ستا خېټه دې وپړسوى او تا دې شنډه کړى.“ نو ښځه
به په جواب کښې داسې ووائى، ”آمين. هم داسې دې وشى.“ ٢٣ بيا به اِمام دا
لعنت په يو طومار وليکى او دا ليکل به د ترخو اوبو په جام کښې ووينځى. ٢٤ د
هغې نه مخکښې چې په ښځه باندې دا اوبۀ وڅښى، کوم چې سخت درد راولى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ اِمام به د ښځې د لاسونو نه د اوړو د شک نذرانه واخلی، مالِک خُدائ ته
وقف کولو دپاره به يې پورته کړی او په قربانګاه باندې به يې پېش کړی. ۲۶ بيا
به اِمام د دې نه يو موټے واخلی، دا به د نذرانې د يوې نښې په شان وی او په
قربانګاه باندې به يې وسوزوی. په آخر کښې به هغه په ښځه باندې اوبۀ
وڅښوی. ۲۷ کۀ هغې زنا کړې وی، نو اوبۀ به په هغې باندې سخت درد راولی،
د هغې خېټه به وپړسيږی او هغه به شنډه شی. او د هغې نوم به په خپلو خلقو
کښې لعنتی شی. ۲۸ خو کۀ هغه بې‌ګناه وی، نو نقصان به ورته نۀ رسيږی او د
هغې به بچی پېدا شی. ۲۹-۳۰ دا قانون د داسې واقعو دپاره دے کۀ چرې يو
سړے غېرت وکړی او شکمن شی چې د هغۀ ښځې زنا کړې ده. ښځه به د مالِک
خُدائ په حضور کښې د قربانګاه په مخکښې ودرولے شی او اِمام به دا رسم ادا
کړی. ۳۱ خاوند به د ګناه نه خلاص وی، خو کۀ ښځه ګناهګاره وی، نو هغې ته
به خامخا د خپلو بدو سزا مِلاو شی.

## د نذير په حيثيت وقف کېدو دپاره اصُول

۶ ۱ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته حُکم وکړو ۲ چې بنی اِسرائيلو ته دا اصُول
وښائی. کۀ يو سړے يا ښځه د خاص مقصد دپاره د خپل ځان د نذير په حيثيت
وقف کولو قسم وکړی او خپل ځان مالِک خُدائ ته وقف کړی ۳ نو هغوئ به
د ميو نه او شرابو نه ځان وساتی. هغوئ به داسې يو قِسم رس هم نۀ څښی چې د
انګورو نه جوړ وی او نۀ به کچه انګور او نۀ اوچ انګور خوری. ۴ چې تر کومې
پورې هغوئ د نذير په حيثيت وقف شوی وی، نو هغوئ به داسې يو څيز هم نۀ
خوری چې د انګورو د باغ نه راځی، د انګورو پوستکے يا تخم به هم نۀ خوری.
۵ چې تر کومې پورې هغوئ د نذير په حيثيت د قسم لاندې وی، نو وېښتۀ به نۀ
واړۀ کوی. ترڅو چې د هغوئ د قسم نيټه پوره شوې نۀ وی، هغوئ مالِک خُدائ
ته وقف دی او وېښتۀ به پرېږدی چې لوئ شی. ۶-۷ د هغوئ وېښتۀ د دې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نښه ده چې هغوئ مالِک خُدائ ته وقف دی، نو هغوئ به مړی ته نزدې کېدو په
وجه خپل ځانونه نۀ ناپاکوی، کۀ هغه يې پلار، مور، ورور يا خور هم وی. ۸
چې تر کومې پورې هغوئ د نذير په حيثيت د قسم لاندې وی، نو هغوئ مالِک
خُدائ ته وقف دی. ۹ کۀ د هغۀ وقف شوی وېښتۀ داسې ناپاک شی چې هغه د
يو داسې کس په خوا کښې وی چې ناڅاپه مړ شی، نو هغه به خامخا اووۀ ورځې
اِنتظار وکړی او بيا به خپل وېښتۀ کل کړی، او هغه به پاک شی. ۱۰ په اتمه
ورځ به هغوئ دوه ګوګوشتکې يا دوه کونترې د مالِک خُدائ د حضور مقدسې
خېمې په دروازه کښې اِمام له راوړی. ۱۱ اِمام به يوه د ګناه د نذرانې په توګه
پېش کړی او بله د سوزېدونکې نذرانې په توګه او د هغوئ دپاره به کفاره ادا کړی
ځکه چې هغوئ مړی ته د نزدې کېدو په وجه ګناه کړې ده. هم په هغه ورځ به د
هغوئ وېښتۀ بيا پاک شی ۱۲ او خپل وخت به مالِک خُدائ ته د نذير په حيثيت
وقف کړی. تېر شوے وخت نۀ حسابېږی، ځکه چې د هغوئ وقف شوی وېښتۀ
ناپاک شوی وُو. د ګناه د تاوان د نذرانې دپاره به هغوئ د يو کال ګډُورے راولی.
۱۳ د قانون په مطابق کله چې هغه کس د نذير په حيثيت خپل قسم پوره کړی،
نو هغوئ به دا رسم ادا کوی. هغوئ به د مقدسې خېمې دروازې ته ورشی ۱۴ او
مالِک خُدائ ته دې درې داسې ځناور قربانی کړی چې هيڅ عېب په کښې نۀ وی،
د سوزېدونکې نذرانې دپاره يو کلن ګډُورے، يوه کلنه ګډورۍ د ګناه نذرانې دپاره
او د سلامتۍ نذرانې دپاره يو ګډ. ۱۵ هغوئ به د پتيرې روټۍ يوه ډکه ټوکرۍ هم
پېش کړی، د اوړو ډبلې روټۍ چې د زيتُونو تېل په کښې ګډ وی او نرۍ نرۍ روټۍ
چې د زيتُونو تېل وربانديې لګولے شوی وی او د دې نه علاوه د غلې او د څښلو
نذرانې به هم ورسره وی. ۱۶ اِمام به دا ټولې مالِک خُدائ ته حاضرې کړی او د
ګناه نذرانه او سوزېدونکې نذرانه به پېش کړی. ۱۷ هغه به ګډ د سلامتۍ نذرانې
په توګه مالِک خُدائ ته قربانی کړی او د هغه پتيرې روټۍ سره به يې پېش کړی
کومه چې په ټوکرۍ کښې ده، هغه به د غلې او د څښلو نذرانې هم حاضرې کړی.
۱۸ هغه د نذير په حيثيت کس به د مقدسې خېمې په دروازه کښې خپل وېښتۀ
کل کړی او په هغه اور کښې به يې واچوی چې په کوم د سلامتۍ نذرانه سوزولے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شی. ۱۹ بیا کله چې د ګډ د اوږې غوښه ویشولے شی، اِمام به دا راواخلی او په
ټوکرۍ کښې چې کومې روټۍ دی د یوې ډبلې او د یوې نرۍ روټۍ سره به یې د
هغه د نذیر په حیثیت کس په لاسونو کښې کېږدی چا چې قسم کړے وو. ۲۰ بیا
به اِمام دا د یوې خاص تُحفې په توګه مالِک خُدائ ته پېش کړی، دا د اِمام دپاره
یوه مقدسه نذرانه ده، د دې نه علاوه د ګډ سینه او پتُون د قانون په مطابق د اِمام
دی، نو بیا، هغه کس چې د نذیر په حیثیت یې قسم خوړلے وو، مے څښلے شی.
۲۱ دا اصُول د هغه کس دپاره دی کوم چې د نذیر په حیثیت مالِک خُدائ ته
قسم وکړی. د دې نه علاوه نورې نذرانې هم پېش کولے شی کۀ د هغۀ وس وی.
خو هغوئ چې کومه وعده کړې وی نو هغه به خامخا پوره کوی.

## د خلقو دپاره د اِمامانو برکت

۲۲ بیا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل ۲۳ چې هارون او د هغۀ زامن دې د
بنی اِسرائیلو د برکت غوښتلو دپاره داسې وائی، ۲۴ "مالِک خُدائ دې تاسو له
برکت درکړی او ستاسو خیال دې وساتی، ۲۵ مالِک خُدائ دې د خپل مخ نُور
په تاسو وځلوی او په تاسو دې رحم وکړی، ۲۶ مالِک خُدائ دې ستاسو مل وی
او تاسو له دې سلامتی درکړی." ۲۷ او مالِک خُدائ وفرمائیل، "چې هغوئ په
بنی اِسرائیلو باندې د برکت دپاره زما نوم اخلی، نو زۀ به هغوئ له برکت
ورکړم."

## د مشرانو نذرانې راوړل

۷ ۱ په هغه ورځ چې کله موسیٰ د مالِک خُدائ د حضور مقدسه خېمه
ودرول پوره کړل، هغۀ مقدسه خېمه او د دې ټول سامان، قربانګاه او د هغې ټول
سامان په تېلو غوړ کړل او وقف یې کړل. ۲ بیا د بنی اِسرائیلو د قبیلو مشران،
کوم چې د مردمشمارۍ مشران وُو ۳ هغوئ خپلې نذرانې مالِک خُدائ ته



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوړلې، شپږ لوئې ګاډۍ او دولس غوائې، د دوو مشرانو دپاره يوه ګاډۍ او د هر
مشر دپاره يو غوَيے. کله چې هغوئ دا حاضر کړل، ۴ نو مالِک خُدائ موسیٰ
ته وفرمائيل، ۵ ”دا تُحفې قبولې کړه چې د مقدسې خېمې په خِدمت کښې
استعمال شی، دا ليويانو ته د هغه خِدمت دپاره ورکړه کوم چې هغوئ کوی.“
۶ نو موسیٰ ګاډۍ او غوَيان ليويانو له ورکړل. ۷ هغهٔ دوه ګاډۍ او څلور
غوائې جيرسونيانو له ورکړل، ۸ او څلور ګاډۍ او اتهٔ غوَيان يې مراريانو له
ورکړل. دا ټول خِدمت د هارون زوئ اِتمر د رهنمائۍ لاندې وشو. ۹ خو
قُهاتيانو له يې ګاډۍ يا غوَيان ورنهٔ کړل، ځکه چې هغوئ د کومو مقدسو څيزونو
ساتنه کوله هغه هغوئ په اوږو باندې وړلے شول. ۱۰ مشرانو د قربانګاه وقف
کولو دپاره هم نذرانې راوړې. کله چې هغوئ خپلې نذرانې په قربانګاه باندې پېش
کولو ته تيار شول، ۱۱ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”مشرانو ته ووايه چې
دولس ورځې به هره ورځ يو يو مشر د قربانګاه د وقف کولو دپاره خپلې نذرانې
پېش کوی.“ ۱۲-۸۳ هغوئ به په دې ترتيب باندې خپلې نذرانې پېش کړی. په
وړومبۍ ورځ د يهوداه قبيلې مشر نحشون زوئ د عمی‌نداب، په دويمه ورځ د
يساکار قبيلې مشر نتنی‌ايل زوئ د ضُعر، په دريمه ورځ د زبولون قبيلې مشر
اِلياب زوئ د حيلون، په څلورمه ورځ د روبين قبيلې مشر اليصور زوئ د
شدِيُور، په پينځمه ورځ د شمعون قبيلې مشر سلومی‌ايل زوئ د صورشدی، په
شپږمه ورځ د جاد قبيلې مشر اِلياسف زوئ د دعوايل، په اوومه ورځ د اِفرائيم
قبيلې مشر اليسمع زوئ د عميهود، په اتمه ورځ د منسی قبيلې مشر ګملی‌ايل
زوئ د فداهصور، په نهمه ورځ د بنيامين قبيلې مشر ابِدان زوئ د جدعونی، په
لسمه ورځ د دان قبيلې مشر اخيعزر زوئ د عمی‌شدی، په يوولسمه ورځ د آشر
قبيلې مشر فجعی‌ايل زوئ د عکران، په دولسمه ورځ د نفتالی قبيلې مشر اخيرع
زوئ د عينان. هره يوه نذرانه چې راوړلے شوه مِقدار يې دا وو، يو د سپينو زرو
جام يو نيم کلو او يو د سپينو زرو ښانک اتهٔ سوه ګرامه، دا د منلے شوی معيار
په مطابق وُو، دا دواړه د اوړو نه ډک وُو او تېل ورسره ګډ وُو، دا د غلې نذرانې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دپاره وُو، يو د سرو زرو لوښے يو سل او لس ګرامه د خوشبويئ نه ډک وُو، يو
سخے، يو ګډ او د يو کال ګډُورے، دا د سوزېدونکي نذراني دپاره وُو، يو د چېلئ
بچے د ګناه نذراني دپاره وو، او دوه غوَيی، پينځهٔ ګډان، پينځهٔ چېلی او پينځهٔ يو
کلن ګډُورى د سلامتئ نذراني دپاره وُو. ۸۴-۸۸هغه دولسو مشرانو د قربانګاه
وقف کولو دپاره هم نذراني راوړې هغه ټولې دا دى. دولس د سپينو زرو جامونه
او دولس د سپينو زرو ښانکونه، دا ټول اتهٔويشت کلو وُو، دولس د سرو زرو
لوښى، دا ټول يو نيم کلو وُو چې د خوشبويئ نه ډک وُو، دولس غوَيی، دولس
ګډان او دولس يو کلن ګډُورى، ورسره د غلې نذراني هم يوړلے شوې، دا د
سوزېدونکي نذرانو دپاره وُو، دولس چېلی د ګناه نذرانو دپاره وُو، او څليريشت
غوَيی، شپېتهٔ ګډان، شپېتهٔ چېلی، شپېتهٔ يو کلن ګډُورى، دا د وقف کولو نذراني
دپاره وُو. ۸۹کله چې موسیٰ مقدسې خېمې ته دننه لاړو چې د مالِک خُدائ سره
خبرې وکړى، هغهٔ د مالِک خُدائ خبرې واورېدلې چې د لوظ د صندوق د سر
دپاسه او د دوه وزرو والا مخلوق د مينځ نه يې د هغهٔ سره کولې.

## د ډيوو کېښودل

۸ ۱ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل چې، ۲ ”هارون ته ووايه چې کله
هغه اووهٔ ډيوې په ډيوټ باندې کېږدى، نو هغه به يې داسې کېږدى چې د ډيوټ
مخې ته رڼا ورکوى.“ ۳ هارون هم هغه شان وکړل او ډيوې يې داسې کېښودې
چې د ډيوټ مخې ته رڼا وه. ۴ د سر نه تر بېخه پورې ډيوټ د ټکولے شوو
سرو زرو نه جوړ وو، هم د هغې نقشې په مطابق چې مالِک خُدائ موسیٰ ته
ښودلې وه.

## د ليويانو خِدمت او وقف کېدل

۵ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ۶ ”ليويان د نورو بنى اِسرائيلو نه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جدا کړه او هغوئ پاک کړه، ٧ طريقه دا ده، په هغوئ باندې د پاکوالی اوبۀ
وشينده او هغوئ ته ووايه چې ټول بدن کل کړی او خپلې جامې ووينځی. نو
هغوئ به پاک شی. ٨ بيا يو سخے او د غلې نذرانې دپاره اوړۀ چې د زيتُونو
تيل ورسره ګډ وی دا به هغوئ واخلی، او د ګناه نذرانې دپاره به تۀ يو بل غوَيے
بوځې. ٩ بيا د بنی اِسرائيلو ټول قوم راغونډ کړه او ليويان زما د حضور خيمې
په مخکښې ودروه. ١٠ اِسرائيليان دې خپل لاسونه د ليويانو په سرونو کېږدی،
١١ او بيا به هارون ليويان د بنی اِسرائيلو نه د خاص تُحفې په توګه ما ته وقف
کړی، چې هغوئ زما خِدمت وکړی. ١٢ ليويان به بيا خپل لاسونه د دوو غوَيانو
په سرونو کېږدی، يو به د ګناه نذرانې په توګه او بل د سوزېدونکې نذرانې په توګه
مالِک خُدائ ته پېش کيږی، د دې دپاره چې د ليويانو کفاره ادا شی. ١٣ ليويان
ما ته د خاص تُحفې په توګه وقف کړه او هارون او د هغۀ زامن د هغوئ مشران
جوړ کړه. ١٤ نو ليويان د نورو بنی اِسرائيلو نه جدا کړه چې هغوئ زما شی.
١٥ کله چې تۀ ليويان پاک او وقف کړې، نو هغوئ د خِدمت دپاره مقدسې
خيمې ته دننه تلے شی. ١٦ د بنی اِسرائيلو د ټولو مشرانو زامنو په ځائ ليويان
زما دی او هغوئ صِرف زما دی. ١٧ کله چې ما د مِصر په مُلک کښې ټول
مشران زامن ووژل، ما د بنی اِسرائيلو د هر خاندان مشر زوئ او هر يو وړومبے
پيدا شوے څناور خپل ځان ته وقف کړو. ١٨ اوس زۀ د بنی اِسرائيلو د ټولو
وړومبو پيدا شوو زامنو په ځائ ليويان اخلم، ١٩ او ليويان د بنی اِسرائيلو نه د
خاص تُحفې په توګه د هارون او د هغۀ زامنو په حواله کوم چې په مقدسه خيمه
کښې د بنی اِسرائيلو دپاره خِدمت وکړی او هغوئ به د بنی اِسرائيلو دپاره کفاره
ادا کوی چې کله هغوئ مقدس ځائ ته ډېر نزدې راشی نو چې وبا يې هلاک نۀ
کړی.“ ٢٠ نو موسیٰ، هارون او ټولو بنی اِسرائيلو ليويان وقف کړل، هم هغه
شان چې څنګه مالِک خُدائ موسیٰ ته حُکم کړے وو. ٢١ ليويانو خپل ځانونه
پاک کړل او جامې يې ووينځلې او هارون هغوئ مالِک خُدائ ته د خاص تُحفې
په توګه پېش کړل. هارون د هغوئ دپاره د پاکوالی کفاره ادا کړه. ٢٢ خلقو هم
هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ د ليويانو په حقله موسیٰ ته حُکم کړے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو. نو ليويان په مقدسه خېمه کښې د خِدمت کولو دپاره د هارون او د هغهٔ زامنو
د مشرى لاندې لاړل. ۲۳ بيا مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل، ۲۴ ”د
پينځويشتو کالو عُمر نه واخله هر يو ليوے به زما د حضور په خېمه کښې خپله د
خِدمت ذمه وارى ادا کوى، ۲۵ او چې عُمر يې پنځوس کاله شى نو هغه به نور
خِدمت نهٔ کوى. ۲۶ د هغې نه پس، هغه د خپل هغه ليوى سره مدد کولے شى
کوم چې په خېمه کښې خپله ذمه وارى ادا کوى، خو په خپله به هيڅ خِدمت نهٔ
کوى. نو داسې به تاسو ليويانو ته ذمه وارى حواله کوئ.“

## د فسحې اختر په حقله اصُول

٩ ۱ د بنى اِسرائيلو د مِصر مُلک نه د وتلو نه پس، د دوېم کال په اولنى
مياشت مالِک خُدائ د سينا په بيابان کښې د موسىٰ سره خبرې وکړې. مالِک
خُدائ ورته وفرمائيل، ۲-۳ ”د دې مياشتې په څوارلسمه ورځ، د نمرپرېواتو
په وخت، اِسرائيليان به د ټول قانون او اصُولو په مطابق د فسحې اختر کوى.“
۴ نو موسىٰ بنى اِسرائيلو ته وفرمائيل چې هغوئ د فسحې اختر وکړى، ۵ او
د اولنى مياشتې د څوارلسمې ورځې په ماښام بنى اِسرائيلو د سينا په بيابان کښې
هغه هر څهٔ وکړل چې څنګه مالِک خُدائ موسىٰ له حُکم ورکړے وو. ۶ خو
څهٔ خلق ناپاک وُو ځکه چې هغوئ د مړى سره لګېدلى وُو او هغوئ په هغه ورځ
د فسحې اختر نهٔ شو کولے. هغوئ موسىٰ او هارون له لاړل ۷ او ورته يې
ووئيل، ”مونږ ناپاک يُو ځکه چې مونږ د مړى سره لګېدلى يُو، خو مونږ د نورو
بنى اِسرائيلو سره ولې نهٔ شُو شريکېدلے چې مالِک خُدائ ته نذرانه پېش کړُو؟“
۸ موسىٰ ورته وفرمائيل، ”تر هغې پورې صبر وکړئ چې ما ته د مالِک خُدائ
نه ستاسو په حقله حُکم مِلاو شى.“ ۹ نو مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل چې،
۱۰ ”بنى اِسرائيلو ته ووايه، کله چې تاسو يا ستاسو اولاد د مړى سره لګېدلو په
وجه ناپاک يئ يا په لرې سفر کښې يئ، خو بيا هم د فسحې اختر کول غواړئ،
۱۱ نو تاسو ته اجازت دے چې دا يوه مياشت وروستو وکړئ، يعنې د دويمې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

میاشتې د څوارلسمې ورځې په ماښام. دا اختر د پتیرې روټۍ او ترخو بوټو سره وکړئ. ⑫ د هغه خوراک نه هیڅ هم د بل سحر پورې مهٔ پرېږدئ او چې د هغه قربانۍ د څناورو هډُوکی مات نهٔ کړئ. د فسحې اختر د ټولو اصُولو په مطابق وکړئ. ⑬ خو چې څوک پاک وی او لرې سفر کښې نهٔ وی او هغه د فسحې اختر ونهٔ کړی، نو هغه به نور زما د خلقو نه نهٔ شی ګڼلے، ځکه چې هغهٔ ما ته په مقرر وخت باندې نذرانه پېش نهٔ کړه. هغهٔ ته به خامخا د خپلې ګناه سزا مِلاو شی. ⑭ ستاسو سره چې کوم مسافر اوسیږی کهٔ هغوئ د فسحې اختر کول غواړی، نو هغوئ به دا د ټول قانون او اصُولو په مطابق کوی. هر څوک چې د بل مُلک وی یا په دې مُلک کښې پیدا شوے وی نو د دواړو دپاره یو شان قانون دے.“

## د وریځې ستن او د اور ستن

⑮-⑯ په کومه ورځ چې د مالِک خُدائ د حضور خیمه ودرولے شوه، نو وریځ راغله او خیمه یې پټه کړه. وریځ به د شپې د اور په شان ښکارېده. ⑰ چې کله به هم وریځ د خیمې نه اوچته شوه، نو اِسرائیلیان به روان شول او بیا به یې په هغه ځائ کښې خیمې ودرولې چرته به چې وریځ راکوزه شوې وه. ⑱ بنی اِسرائیلو به د مالِک خُدائ په حُکم خیمې وړلې او د هغهٔ په حُکم به یې ودرولې. تر کومې پورې به چې وریځ په مقدسه خیمه باندې ولاړه وه، نو هغوئ به په خپلو خیمو کښې ایسار وُو. ⑲ کله به چې وریځ په مقدسه خیمه باندې د ډېر وخت دپاره ولاړه وه، نو هغوئ د مالِک خُدائ حُکم منلو او د هغه ځائ نه به نهٔ تلل. ⑳ کله کله به وریځ صِرف یو څو ورځې د خیمې دپاسه ایساره وه، نو په هر حالت کښې، هغوئ د مالِک خُدائ د حُکم په مطابق په خپلو خیمو کښې ایسارېدل یا به یې سفر کولو. ㉑ کله به وریځ صِرف د ماښام نه واخله تر سحره پورې ایساره وه، چې څنګه به وریځ اوچته شوه نو هغوئ به سفر شروع کړو. ㉒ کهٔ وریځ به دوه ورځې، میاشت، کال، یا زیاته د مقدسې خیمې دپاسه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ولاړه وه، نو هغوئ به سفر نۀ کولو، خو چې کله به وريځ اوچته شوه، نو هغوئ به
سفر کولو. ۲۳ کوم حُکمونه چې مالِک خُدائ د موسیٰ په ذريعه ورکړی وُو
هغوئ د هغې په مطابق خېمې ودرولې او وړلې.

## د سپينو زرو بيګل

۱۰ ۱ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ۲ ”د ټکېدلے شوو سپينو زرو
نه دوه بيګلې جوړې کړه چې د خلقو په يو ځائ راغونډولو او د خېمو د وړلو د
خبر دپاره استعمالېږی. ۳ کله چې دواړه بيګلې وغږېږی، نو ټول قوم به زما د
حضور د مقدسې خېمې په دروازه کښې ستا نه ګېرچاپېره راغونډ شی. ۴ خو
چې کله صِرف يو بيګل وغږېږی، بيا به صِرف د قبيلو مشران ستا نه راغونډېږی.
۵ کله چې بيګل په لنډ آواز وغږېږی، نو د نمرخاتۀ په طرف قبيلې به خېمې
وړی. ۶ کله چې په دوېم ځل بيګل وغږېږی، نو د جنوب طرف ته قبيلې به
خېمې يوسی. چې بيګل په لنډ آواز غږېږی نو خېمې به وړلے شی، ۷ د قوم د
راغونډولو د خبر دپاره به بيګلې غږولے شی. خو دا آواز به لنډ نۀ وی. ۸ د
هارون اِمامان زامن به بيګل غږوی. دا قانون به په راتلونکی ټولو وختونو کښې
منلے شی. ۹ کله چې ستاسو په مُلک کښې جنګ وی او دشمن په تاسو باندې
حمله کوی، نو په لنډ آواز به د خطرې بيګل وغږوئ. زۀ، مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک، به ستاسو مدد وکړم او ستاسو د دشمنانو نه به مو بچ کړم. ۱۰ د
خوشحالۍ په ورځو کښې، د مياشتې په ليدو او ستاسو په نورو مقررو اخترونو
کښې، کله چې تاسو سوزېدونکې نذرانې او خپلې د سلامتۍ نذرانې پېش کوئ نو
تاسو به دې باندې بيګلې غږوئ. د بيګل آواز به ما ته ستاسو سره لوظ راپه ياد
کړی چې زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بنی اِسرائيلو د سينا بيابان نه سفر شروع کول

(۱۱) د دويم کال د دويمې مياشتې په شلمه ورځ د هغې نه پس چې اِسرائيليان د
مِصر مُلک نه راوتلی وُو، د مالِک خُدائ د حضور د خېمې نه ورېځ اوچته شوه،
(۱۲) او اِسرائيليان د سينا د بيابان نه په سفر روان شول. ورېځ د فاران په صحرا
کښې ايساره شوه. (۱۳) هغوئ د موسیٰ په ذريعه د مالِک خُدائ د حُکم په مطابق
سفر شروع کړو، (۱۴) او هر ځل چې هغوئ تلل، نو هغوئ به هم په هغه ترتيب
باندې وُو. څوک چې د يهوداه قبيلې د لښکر د جنډې لاندې وُو هغوئ قبيله په
قبيله اول روان شول، د هغوئ مشر نحشون زوئ د عمی‌نداب وو. (۱۵) نتنی‌ايل
زوئ د ضُعر د يساکار قبيلې مشر وو، (۱۶) او اِلياب زوئ د حيلون د زبولون
قبيلې مشر وو. (۱۷) بيا به خېمه راکوزه کړے شوه او د جيرسون او مراری قبيلې
به روانې شوې، چې هغوئ به خېمه وړله. (۱۸) بيا، څوک چې د روبين قبيلې د
لښکر د جنډې لاندې وُو، هغوئ به قبيله په قبيله روان شول، د هغوئ مشر
اليصور زوئ د شدِيُور وو. (۱۹) د شمعون قبيلې مشر سلومی‌ايل زوئ د
صوری‌شدی وو، (۲۰) اِلياسف زوئ د دعوايل د جاد قبيلې مشر وو. (۲۱) بيا به
قُهاتيان روان شول، هغوئ به مقدس سامان وړلو. چې هغوئ به کوم وخت د
خېمو بل ځائ ته ورسېدل، نو خېمه به بيا ودرولے شوې وه. (۲۲) بيا، څوک چې
د اِفرائيم قبيلې د لښکر د جنډې لاندې وُو، هغوئ به قبيله په قبيله روان شول، د
هغوئ مشر اليسمع زوئ د عميهود وو. (۲۳) د منسی قبيلې مشر گملی‌ايل زوئ د
فداهصور وو، (۲۴) او د بنيامين قبيلې مشر ابِدان زوئ د جدعونی وو. (۲۵) په
آخر کښې، څوک چې د دان قبيلې د لښکر د جنډې لاندې وُو، چا چې د ټولو
لښکرو د وروستو نه حِفاظت کولو، هغوئ قبيله په قبيله روان شول، د هغوئ
مشر د عمی‌شدی زوئ اخيعزر وو. (۲۶) د آشر قبيلې مشر فجعی‌ايل زوئ د
عکران وو، (۲۷) او د نفتالی قبيلې مشر اخيرع زوئ د عينان وو. (۲۸) نو داسې،
اِسرائيليان قبيله په قبيله، په دې ترتيب روان وُو، چې کله به هم هغوئ خېمې
وړلې او سفر يې کولو. (۲۹) موسیٰ خپل اوښی حوباب ته وفرمائيل چې د يترو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

میدیانی زوئ وو، ”مونږ هغه ځائ ته په سفر روانېږُو چې مالِک خُدائ فرمائیلی دی چې هغه به يې مونږ له راکړی. هغۀ وعده کړې ده چې هغه به اِسرائیلیان مالدار کړی، نو مونږ سره لاړ شه او مونږ به تا سره ښېګړه وکړُو.“ ۳۰ حوباب ووئیل، ”نه، زۀ واپس خپل مُلک ته ځم چې د خپلو خلقو سره يم.“ ۳۱ موسیٰ ورته وفرمائیل، ”زۀ تا ته مِنت کوم چې زمونږ نه مۀ ځه، تا ته پته ده چې مونږ به په صحرا کښې چرته خېمې ولګوو او تۀ به مونږ ته لار ښائې. ۳۲ کۀ تۀ مونږ سره لاړ شې، نو چې مالِک خُدائ مونږ له څومره برکتونه هم راکوی نو په هغې کښې به ستا حِصه وی.“

## د خلقو سفر شروع کول

۳۳ کله چې خلق د مالِک خُدائ د غرۀ سینا نه روان شول، هغوئ درې ورځې سفر وکړو. د مالِک خُدائ د لوظ صندوق به همېشه د هغوئ نه مخکښې تلو چې د هغوئ دپاره د دمې کولو ځائ پیدا کړی. ۳۴ چې هغوئ به چرته خېمې وړلې، نو د ورځې به د مالِک خُدائ وریځ د هغوئ دپاسه وه. ۳۵ چې کله به هم د لوظ صندوق روان شو، نو موسیٰ به وفرمائیل، ”مالِکه خُدایه، پاڅه، خپل دشمنان خوارۀ وارۀ کړه او هغه خلق چې څوک ستا نه نفرت کوی هغوئ دې ته مجبور کړه چې وتښتی.“ ۳۶ او چې کله به د لوظ صندوق ودرېدلو، نو هغۀ به وفرمائیل، ”مالِکه خُدایه، بې‌شمېره بنی اِسرائیلو ته راواپس شه.“

## د بنی اِسرائیلو په بیابان کښې شکایت کول

۱۱ ۱ نو کله چې خلقو د خپلو تکلیفونو په حقله مالِک خُدائ ته شکایتونه شروع کړل، نو مالِک خُدائ دا واورېدل، نو هغه سخت غصه شو او په خلقو يې اور راولېږلو او اور د هغوئ خِلاف بل وو او د کېمپ بهرنی اړخ یوه برخه يې وسوزوله. ۲ خلقو موسیٰ ته د مدد دپاره چغې کړې، هغۀ مالِک خُدائ ته سوال



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړو نو اور قلار شو. ۳ نو د هغه ځائ نوم تبيعره شو، ځکه چې هلته د مالِک خُدائ اور د هغوئ په کېمپ کښې لګېدلے وو.

## د حضرت موسیٰ اويا مشران خوښول

۴ د پردی مُلک څۀ مسافرو د بنی اِسرائيلو سره سفر کولو. د هغوئ غوښې ته ډېر زيات زړۀ وشو او هم داسې په خپله بنی اِسرائيلو هم شکايت شروع کړو او وې وئيل، "کاش چې لږه غوښه خو وے. ۵ په مِصر کښې چې مونږ کوم کبان غوښتل هغه مو خوړل او مونږ ته مفت مِلاوېدل. هغه بادرنګ، هِندوانې، ګندانه، پياز او اوږه رايادہ کړئ چې مونږ به خوړل؟ ۶ خو اوس مونږ د دې نه پوزې له راغلو، د خوړلو نور هيڅ نشته خو بس دا من دی چې هره ورځ زمونږ مخې ته پراتۀ وی." ۷ من د دنيا د تخم په شان واړۀ وُو او رنګ يې زېړ بخن وو. ۸-
۹ دا د شپې د پرخې سره د خېمو نه ګېرچاپېره پرېوتو. ورپسې سحر به خلق د دې راټولولو دپاره تلل، دا به يې په لنګرئ کښې ټکول يا يې ترې نه په مېچن کښې اوړۀ جوړول او بيا به يې يشول يا به نرئ روټۍ يې ترې نه پخولې. د دې خوند داسې وو لکه چې روټۍ د زيتُونو تېلو سره پخې شوې وی. ۱۰ موسیٰ د ټولو خلقو شکايتونه واورېدل چې هغوئ قبيلې قبيلې د خپلو خېمو په دروازو کښې ولاړ وُو. هغه پرېشان وو ځکه چې مالِک خُدائ هغوئ ته په قهر وو، ۱۱ او هغۀ مالِک خُدائ ته وفرمائيل، "تۀ زما سره دومره بد سلوک ولې کوې؟ تۀ زما نه ولې نارضا يې؟ تا د دې ټولو خلقو ذمه واری ما له ولې راکړې ده؟ ۱۲ هغوئ خو ما نۀ دی پېدا کړی او نۀ زما بچی دی. زۀ دې ولې د يوې خِدمتګارې په شان شم چې د پيو ماشوم هغه مُلک ته يوسم چې تا يې د هغوئ د پلار نيکۀ سره وعده کړې ده؟ ۱۳ زۀ دې ټولو خلقو له غوښه د کوم ځائ نه ورکړم؟ ځکه چې هغوئ ما ته ژاړی او زما نه غوښه غواړی. ۱۴ زۀ يواځې د دې ټولو خلقو ذمه واری نۀ شم اخستلے، دا بوج زما دپاره ډېر دروند دے. ۱۵ کۀ تۀ زما سره هم دغه شان سلوک کوې، نو په ما رحم وکړه او ما ووژنه، کۀ تۀ زما نه رضا يې، نو ما د خپل



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غم ليدلو نه وساته.“ (۱۶) مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”د بنی اِسرائيلو اويا
مشران راجمع کړه چې هغوئ د مشرانو په توګه منلے شوی وی، هغوئ ما له
زما د حضور خيمې ته راوله او هغوئ ته ووايه چې هغوئ هلته تا سره ودريږی.
(۱۷) زۀ به لاندې راشم او هلته به تا سره خبرې وکړم او چې ما کوم روح تا له
درکړے دے د هغې نه به لږ واخلم او هغوئ له به يې ورکړم. بيا به هغوئ ستا
مدد کوی او چې د دې خلقو ذمه واری واخلی، نو دا ذمه واری به يواځې ستا په
سر نۀ وی. (۱۸) اوس خلقو ته ووايه، چې د سبا دپاره ځانونه پاک کړئ، تاسو ته
به د خوړلو دپاره غوښه مِلاو شی. مالِک خُدائ ستاسو ژړا اوريدلې ده چې تاسو
وئيل چې کاش زمونږ سره لږه غوښه وے او چې زمونږ حالت په مِصر کښې ښۀ
وو. اوس به مالِک خُدائ تاسو له غوښه درکړی او تاسو به يې خورئ. (۱۹) دا به
تاسو نۀ صِرف يو دوه، پينځۀ يا لس شل ورځې خورئ، (۲۰) بلکې ټوله مياشت به
يې خورئ، چې ستاسو د پوزو نه بهر راوځی او زړۀ به مو ترې موړ شی. هم
داسې به وشی ځکه چې تاسو د مالِک خُدائ سپکاوے کړے دے کوم چې دلته
ستاسو په مينځ کښې دے او تاسو هغۀ ته دا شکايت کړے دے چې مونږ ولې
مِصر پرېښودلے دے.“ (۲۱) موسیٰ مالِک خُدائ ته وفرمائيل، ”دلته زما سره
شپږ لاکه خلق دی او تۀ وائې چې تۀ به هغوئ له د يوې مياشتې غوښه ورکړې؟
(۲۲) څاروی او ګډې دې د هغوئ دپاره حلالې کړے شی څۀ؟ ولې په سمندر
کښې ټول کبان به د هغوئ مړولو دپاره کافی وی؟“ (۲۳) مالِک خُدائ ورته
وفرمائيل، ”زما د طاقت څۀ حد شته؟ تۀ به زر وګورې چې ما څۀ وئيلی دی چې
هغه کيږی او کۀ نۀ کيږی.“ (۲۴) نو موسیٰ بهر ووتلو او چې مالِک خُدائ څۀ
فرمائيلی وُو هغه يې خلقو ته وفرمائيل. هغۀ اويا مشران راجمع کړل او د خيمې
نه ګيرچاپيره يې ودرول. (۲۵) بيا مالِک خُدائ په وريځو کښې لاندې راغلو او د
هغۀ سره يې خبرې وکړې. کوم روح يې چې موسیٰ له ورکړے وو د هغې نه يې لږ
واخستلو او هغه اويا مشرانو له يې ورکړو. کله چې په هغوئ باندې روح نازل شو
نو هغوئ د لږ وخت دپاره د پيغمبرانو په شان خبرې کولې. خو د دې نه پس بيا
داسې ونۀ شول. (۲۶) د هغه اويا مشرانو نه دوه مشران، اِلداد او ميداد، په خيمو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې پاتې وُو او د مالِک خُدائ د حضور خېمې ته تلی نۀ وُو. او په هغوئ باندې روح نازل شو او هغوئ په خېمو کښې د پېغمبرانو په شان خبرې شروع کړې.
۲۷ يو ځوان منډه کړه چې موسیٰ ته ووائی چې اِلداد او میداد په خېمو کښې د پېغمبرانو په شان خبرې کوی. ۲۸ بيا د نون زوئ يشوَع، کوم چې د ځوانۍ د وخت نه د موسیٰ مدد کوونکے وو، هغۀ موسیٰ ته وفرمائيل، "زما نېکه هغوئ منع کړه." ۲۹ موسیٰ جواب ورکړو، "تۀ په ما غيرت کوې څۀ؟ زۀ غواړم چې مالِک خُدائ خپل روح خپلو ټولو خلقو ته ورکړی او ټول د پېغمبرانو په شان شی." ۳۰ بيا موسیٰ او د بنی اِسرائيلو مشران واپس کېمپ ته لاړل.

## مړَزان

۳۱ ناڅاپه مالِک خُدائ يوه هوا راوستله چې هغې د سمندر د طرف نه مړَزان راوړل، چې د زمکې نه يو ګز اوچت الوتل. دا په خېمو باندې او د خېمو نه ګېرچاپېره هر طرف ته لرې لرې پورې کښېناستل. ۳۲ نو په هغه ټوله ورځ او شپه او په دويمه ټوله ورځ، خلقو مړَزان راونيول، هيچا هم د زرو کلو نه کم نۀ وُو رانيولی. هغوئ دا د اوچولو دپاره د ټولو خېمو نه ګېرچاپېره خوارۀ کړل. ۳۳ کله چې لا د هغوئ سره ښۀ ډېره غوښه وه، نو مالِک خُدائ خلقو ته په قهر شو او په خلقو يې يوه لويه وبا راولېږله. ۳۴ د هغه ځائ نوم "د لالچيانو قبرونه" شو، ځکه چې هغوئ هلته هغه خلق ښخ کړل د کومو چې غوښې ته زړۀ شوے وو. ۳۵ خلقو د هغه ځائ نه حصيروت ته سفر وکړو او هلته اوسېدل.

## د حضرت موسیٰ خِلاف د حضرت هارون او بی‌بی مريم بغاوت

۱۲ ۱ بيا موسیٰ يوه حبشی ښځه وادۀ کړه، نو مريم او هارون په دې وجه په هغۀ اِعتراض وکړو. ۲ هغوئ ووئيل، "مالِک خُدائ صِرف د موسیٰ په ذريعه خبرې کړې دی څۀ؟ هغۀ زمونږ په ذريعه خبرې نۀ دی کړې څۀ؟" هغوئ چې څۀ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووئیل نو مالِک خُدائ هغه واورېدل. ۳ موسیٰ یو ډېر عاجز سړے وو، هغه د
زمکې په مخ د ټولو خلقو نه زیات عاجز وو. ۴ ناڅاپه مالِک خُدائ موسیٰ،
هارون او مریم ته وفرمائیل، "تاسو درې واړه بهر زما د حضور خېمې ته لاړ
شئ." نو هغوئ لاړل، ۵ او مالِک خُدائ د ورېځې په ستن کښې لاندې راغلو، د
خېمې په دروازه کښې ودرېدلو او هارون او مریم یې راوغوښتل. هغوئ دواړه
وروړاندې شول، ۶ او مالِک خُدائ هغوئ ته وفرمائیل، "اوس زما خبرې په
کولاو غوږُونو واورئ. کله چې ستاسو په مینځ کښې پېغمبران وی، نو زهٔ خپل
ځان هغوئ ته په خیال کښې ښرګندوم او زهٔ د هغوئ سره د هغوئ په خوب
کښې خبرې کوم. ۷ خو زهٔ خپل خِدمتګار موسیٰ سره داسې نهٔ کوم، هغه ما د
خپلو خلقو بنی اِسرائیلو مشر جوړ کړے دے. ۸ نو زهٔ د هغهٔ سره مخامخ
خبرې کوم، صفا او واضِحه خبرې ورسره کوم، هغهٔ زهٔ لیدلے یم. تاسو دا
جرأت څنګه کوئ چې زما د خِدمت کوونکی موسیٰ خِلاف خبرې کوئ؟" ۹
مالِک خُدائ هغوئ ته په قهر شو، او هغه لاړو ۱۰ او کله چې د خېمې نه ورېځ
اوچته شوه، نو د مریمې څرمن ناڅاپه په سخته بیمارئ پټه شوه او د واورې په
شان سپینه شوه. کله چې هارون ورته وکتل نو وې لیدل چې د هغې څرمن په
بیمارئ پټه وه، ۱۱ هغهٔ موسیٰ ته ووئیل، "صاحِبه، زمونږ د کم عقلتوب د ګناه
په وجه دا سزا مونږ له مهٔ راکوه. ۱۲ د مریم نه داسې څهٔ مهٔ جوړوه لکه چې یو
ماشوم مړ پیدا شوے وی او نیمه غوښه یې نهٔ وی." ۱۳ نو موسیٰ مالِک خُدائ
ته فریاد وکړو چې، "خُدایه پاکه، هغه روغه کړه." ۱۴ مالِک خُدائ ورته
وفرمائیل، "کهٔ پلار ورله په مخ تُوکلے وے، نو هغې به اووهٔ ورځې خپل شرم نهٔ
وو برداشت کړے څهٔ؟ نو هغه دې اووهٔ ورځې د خېمو نه بهر کړے شی او د
هغې نه پس هغه واپس راولئ." ۱۵ مریم اووهٔ ورځې د خېمو نه بهر کړے شوه
او چې تر کومې پورې هغه واپس نهٔ وه راوستلے شوې نو خلقو سفر نهٔ کولو.
۱۶ بیا هغوئ د حصیروت نه لاړل او د فاران په صحرا کښې یې خېمې ولګولې.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## جاسوسان

۱۳ ۱ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل چې، ۲ ”د دولسو قبيلو د هرې
يوې قبيلې نه يو يو مشر خوښ کړه او هغوئ د جاسوسانو په توګه ولېږه چې د
کنعان مُلک وګورى، کوم چې زهٔ بنى اِسرائيلو له ورکوم.“ ۳ نو موسىٰ هغوئ
د فاران د صحرا نه د مالِک خُدائ د حُکم په مطابق ولېږل، چې هغوئ ټول د بنى
اِسرائيلو مشران وُو. ۴ د هغوئ نومونه دا وُو يعنې د روبين قبيلې نه، سموع
زوئ د زکور، ۵ د شمعون قبيلې نه، سافط زوئ د حورى، ۶ د يهوداه قبيلې
نه، کالب زوئ د يفُنه، ۷ د يساکار قبيلې نه، اِجال زوئ د يوسف، ۸ د اِفرائيم
قبيلې نه، هوسيع زوئ د نون، ۹ د بنيامين قبيلې نه، فلطى زوئ د رفُو، ۱۰ د
زبولون قبيلې نه، جدىاېل زوئ د سودى، ۱۱ د منسى قبيلې نه، جدى زوئ د
سوسى، ۱۲ د دان قبيلې نه، عمىاېل زوئ د جملى، ۱۳ د آشر قبيلې نه، ستُور
زوئ د ميکائيل، ۱۴ د نفتالى قبيلې نه، نحبى زوئ د وُفسى، ۱۵ د جاد قبيلې نه،
جيواېل زوئ د ماکى. ۱۶ دا هغه سړى دى چې موسىٰ د هغه مُلک د جاسوسى
دپاره ولېږل. هغهٔ د نون د زوئ هوسيع نوم يشوَع ته بدل کړو. ۱۷ کله چې
موسىٰ هغوئ لېږل، نو هغوئ ته يې وفرمائيل چې، ”د دې ځائ نه د صحرا په لار
لاړ شئ او بيا د کنعان غرېزې علاقې ته ورننوځئ. ۱۸ وې ګورئ چې هغه څهٔ
رنګه مُلک دے، چې کوم خلق په کښې اوسيږى، هغوئ تکړه دى او کهٔ کمزورى
دى، لږ دى او کهٔ ډېر دى. ۱۹ وې ګورئ چې هغه زمکه ښهٔ ده او کهٔ ښهٔ نهٔ ده
او چې هغه خلق په خېمو کښې اوسيږى يا په داسې ښارونو کښې اوسيږى چې
ديوالونه ترې نه تاو وى. ۲۰ وګورئ چې هغه زمکه زرخېزه او کهٔ شاړه ده او
ونې بوټى په کښې شته او کهٔ نشته. او تکړه شئ چې هلته کومه مېوه کېږى لږه
ترې نه راوړئ.“ دا هغه موسم وو چې انګور په پخېدو شروع وُو. ۲۱ نو هغه
سړى د صحرا په طرف لاړل او هغه مُلک يې د صين صحرا نه واخله تر رِحوب
پورې وکتلو، چې د حمات درې ته نزدې دے. ۲۲ هغوئ اول د هغه مُلک



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جنوبي برخې ته ننوتل او حبرون ته راغلل، چرته چې د اخيمان، سيسی او تلمی
قبيلې اوسېدلې چې هغوئ عناقيان وُو او د دېوانو د نسل اولاد وو. حبرون د
مِصرى ښار ضُعن نه اووهٔ کاله مخکښې آباد کړے شوے وو. ۲۳ هغوئ د
اسکال وادۍ ته راغلل او هلته هغوئ يوه څانګه راماته کړه چې د انګورو يوه
غنچه ورباندې وه او دومره درنه وه چې دا دوو سړو په يو ډانګ باندې يو خوا بل
خوا راځوړنده کړه او يو يې وړله. هغوئ څهٔ انار او اينځر هم يوړل. ۲۴ په هغه
وادۍ باندې "اسکال" يعنې د انګورو غنچه نوم کېښودے شو ځکه چې بنی
اِسرائيلو هلته د انګورو غنچه شوکولې وه. ۲۵ هغه مُلک د څلوېښتو ورځو د
کتلو نه پس، جاسوسان راواپس شول ۲۶ او موسىٰ، هارون او د بنی اِسرائيلو
ټول قوم ته د فاران په صحرا کښې قادِس ته راغلل. جاسوسانو هغه خبر ورله
راوړو چې څهٔ يې ليدلی وُو او هغه مېوه يې ورته وښودله چې کومه يې راوړې وه.
۲۷ هغوئ موسىٰ ته ووئيل، "مونږ هغه مُلک وکتلو چې زرخېز او آباد وو او دا
يې لږه شان مېوه ده. ۲۸ خو د هغه ځائ اوسېدونکی تکړه دی او د هغوئ
ښارونه غټ دی او د ښارونو نه يې دېوالونه تاو دی. او د دې نه علاوه، مونږ هلته
د دېوانو اولاد هم وليدو. ۲۹ عماليقيان د هغه مُلک په صحرا کښې اوسيږی،
حِتيان، يبوسيان او اموريان د غرونو په مُلک کښې اوسيږی، او کنعانيان د
مديترانی د سمندر او د اُردن سيند سره اوسيږی." ۳۰ کالب هغه خلق غلی کړل
کومو چې د موسىٰ خِلاف شکايتونه کول او وې وئيل، "راځئ چې په هغه مُلک
حمله وکړُو او وې نيسو، ځکه مونږ ښهٔ تکړه يُو او ورباندې برے مونده شُو."
۳۱ خو هغه سړو ووئيل کوم چې د کالب سره تلی وُو، "نه. مونږ تکړه نهٔ يُو چې
حمله ورباندې وکړُو، هغه خلق زمونږ نه زيات طاقتور دی." ۳۲ نو هغوئ د بنی
اِسرائيلو په مينځ کښې د هغه مُلک په حقله غلط خبر خور کړو کوم چې هغوئ
ليدلے وو. هغوئ ووئيل، "په هغه مُلک کښې دومره څهٔ هم نهٔ پيدا کيږی چې د
هغه ځائ اوسېدونکی خلق يې وخوری. کوم خلق چې مونږ وليدل ټول لوړ لوړ
وُو، ۳۳ او هلته مونږ دېوان هم وليدل، چې د عناق اولاد دے. مونږ ته خپل
ځانونه داسې معلومېدل لکه چې مُلخان يُو او مونږ به هغوئ ته خامخا هم داسې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښکاریدلو.“

## د خلقو شکايتونه کول

۱۴ ⁽¹⁾ بيا ټوله شپه خلقو په چغو چغو وژړل. ⁽²⁾ هغوئ د موسیٰ او هارون
خِلاف شکايت وکړو او وې وئيل، ”دا به ډېره ښهٔ وے چې د مِصر په مُلک کښې
يا دلته په دې صحرا کښې مړهٔ وے. ⁽³⁾ مالِک خُدائ مونږ هغه مُلک ته ولې
بوځی؟ مونږ به په جنګ کښې ووژلے شُو او زمونږ ښځې او بچی به ونيولے
شی. دا به ښهٔ نهٔ وی څهٔ چې واپس مِصر ته لاړ شُو؟“ ⁽⁴⁾ نو هغوئ يو بل ته
ووئيل، ”راځئ چې يو مشر خوښ کړُو او مِصر ته واپس لاړ شُو.“ ⁽⁵⁾ بيا موسیٰ
او هارون د هغه خلقو په وړاندې په زمکه را پرېوتل. ⁽⁶⁾ او د نون زوئ يشوَع او
کالب د يفُنه زوئ چې د نورو کسانو سره هغه مُلک کتلے وو، نو هغوئ هغه دوه
کسان وُو چې د خفګان نه يې خپلې جامې وشلولې ⁽⁷⁾ او خلقو ته يې وفرمائيل،
”کوم مُلک چې مونږ وکتلو هغه ډېر زيات ښهٔ مُلک دے. ⁽⁸⁾ کهٔ مالِک خُدائ
زمونږ نه رضا وی نو هغه به مونږ هلته بوځی، هغه مُلک ته چې زرخيز او آباد وی
او مونږ له به يې راکړی. ⁽⁹⁾ د مالِک خُدائ خِلاف بغاوت مهٔ کوئ او د هغه
خلقو نه مهٔ يرېږئ کوم چې هلته اوسيږی. هغوئ له شکست ورکول مونږ ته آسان
دی. مالِک خُدائ زمونږ مل دے او هغه خُدايانو له يې شکست ورکړے دے چې
هغوئ يې بچ کول، نو مهٔ يرېږئ.“ ⁽¹⁰⁾ ټول قوم وئيل چې هغوئ به سنګسار کړی،
خو ناڅاپه خلقو وليدل چې د مالِک خُدائ د حضور جلال د خيمې دپاسه
راڅرګند شو.

## د حضرت موسیٰ د خلقو دپاره دُعا کول

⁽¹¹⁾ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”دا خلق به تر کومې پورې زما نه نفرت
کوی؟ او په ما باندې به اعتماد نهٔ کوی، اګر چې د هغوئ په مينځ کښې ما ډېرې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

معجزې کړې دی؟ ﴿١٢﴾ زهٔ به په هغوئ وبا راولم او هلاک به يې کړم، خو زهٔ به تا
د يو داسې قوم پلار نيکهٔ جوړ کړم چې هغه به د دې خلقو نه لوئ او طاقتور
وی.“ ﴿١٣﴾ خو موسیٰ مالِک خُدائ ته وفرمائيل، ”تا د خپل طاقت سره دا خلق د
مِصر نه راوويستل. کله چې مِصريان خبر شی چې تا د خپلو خلقو سره څهٔ
کړی دی، ﴿١۴﴾ نو هغوئ به د دې مُلک اوسېدونکو ته ووائی چا چې د مخکښې نه
دا اورېدلی دی چې مالِکه خُدايه، تهٔ زمونږ مل يې، او چې کله ستا ورېځ زمونږ
دپاسه ولاړه وی نو تهٔ راته مخامخ ښکارېږې او چې تهٔ زمونږ د ورځې د ورېځې په
ستن کښې او د شپې د اور په ستن کښې لاربښودنه کوې. ﴿١۵﴾ اوس کهٔ تهٔ خپل
ټول خلق ووژنې، نو چې کومو قومونو ستا په حقله اورېدلی دی نو هغوئ به
ووائی ﴿١۶﴾ چې تا خپل خلق په صحرا کښې ووژل ځکه چې ستا طاقت نهٔ وو
چې هغوئ هغه مُلک له بوځې چې تا د ورکولو وعده کړې ده. ﴿١٧﴾ نو اوس مالِکه
خُدايه، زهٔ سوال کوم چې مونږ ته خپل طاقت او هغه څهٔ وښايه چې تا يې د
ورکولو وعده کړې ده، کله چې تا وفرمائيل، ﴿١٨﴾ زهٔ، مالِک خُدائ په آسانئ سره
نهٔ غصه کېږم او زهٔ نهٔ ختمېدونکې مينه او وفاداری ښايم او زياتے او بغاوت
معاف کوم. خو چې څوک گناه کوی نو د هغوئ د گناه سزا به د درېم او څلورم
نسل پورې جاری وی. ﴿١٩﴾ او اوس مالِکه خُدايه، زهٔ تا ته سوال کوم چې د خپلې
لوئې او نهٔ بدلېدونکې مينې په مطابق د دې خلقو گناه معاف کړه، هم هغه شان
څنګه چې تا هغوئ د مِصر د راوتلو نه تر اوسه پورې معاف کوې.“ ﴿٢٠﴾ مالِک
خُدائ ورته وفرمائيل، ”ستا د وينا په مطابق هغوئ ما معاف کړل. ﴿٢١﴾ خو زما
دې په خپل ذات او جلال قسم وی د کوم جلال نه چې ټوله زمکه ډکه ده، ﴿٢٢﴾
چې د دې خلقو نه يو کس به هم هغه مُلک ته داخل نهٔ شی. هغوئ زما د حضور
جلال او هغه معجزې هم ليدلې دی چې ما په مِصر کښې او په صحرا کښې کړې
دی، خو هغوئ بيا بيا زما د صبر امتحان اخستے دے او زما د منلو نه يې اِنکار
کړے دے. ﴿٢٣﴾ هغوئ به هيڅکله هم هغه مُلک ته دننه نهٔ شی د کوم چې ما د
هغوئ د پلار نيکهٔ سره لوظ کړے دے. هغه هيڅ څوک به هم ورننه نهٔ وځی چا



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې زما سپکاوے کړے دے. ۲۴ خو زما خِدمتګار کالب د نورو په شان نۀ
دے او هغۀ په پوره توګه زما تابعدارى کړې ده، نو زۀ به دے هغه مُلک له راولم
کوم چې هغۀ ليدلے دے او هغه مُلک به د هغۀ د اولاد شى ۲۵ چې په کومو
واديانو کښې اوس عماليقيان او کنعانيان اوسيږى. سبا واپس په صحرا کښې د
بحرِقُلزم طرف ته روان شئ.“

## د شکايتونو په وجه د مالِک خُدائ خلقو له سزا ورکول

۲۶ مالِک خُدائ موسىٰ او هارون ته وفرمائيل، ۲۷ ”دا خراب خلق به تر کومې
پورې زما خِلاف شکايت کوى؟ ما دا شکايتونه ډېر زيات اورېدلى دى. ۲۸ اوس
هغوئ له دا جواب ورکړه، زۀ ژوندے مالِک خُدائ په خپل ذات قسم کوم، چې
زۀ به ستاسو دپاره هم هغه شان وکړم څۀ چې تاسو زما په وړاندې وئيلى دى.
۲۹ تاسو به مړۀ شئ او ستاسو لاشونه به په صحرا کښې خوارۀ وارۀ پراتۀ وى.
ځکه چې تاسو زما خِلاف شکايت کړے دے، ستاسو يو کس به هم هغه مُلک ته
ورننه نۀ وځى چې عُمر يې د شلو کالو نه زيات وى. ۳۰ ما دا وعده کړې وه
چې تاسو به هلته اوسيږئ، خو د کالب او يشوَع نه بغير به هيڅ څوک هم نۀ ورننه
وځى. ۳۱ تاسو وئيلى وُو چې ستاسو ماشومان به ونيولے شى، خو زۀ به هغوئ
هغه مُلک ته راولم چې تاسو يې مخالفت کړے دے. ۳۲ تاسو به دلته په دې
صحرا کښې مړۀ شئ. ۳۳ ستاسو بچى به څلوېښت کاله په صحرا کښې
سرګردانه ګرځى، ستاسو د نافرمانۍ په وجه به کړېږى، تر دې پورې چې ستاسو
آخرى کس هم مړ شى. ۳۴ تاسو ته به څلوېښت کاله د خپلو بدو سزا ملاوېږى،
د هغه څلوېښتو ورځو د هرې ورځې دپاره به يو کال وى کومې چې تاسو د هغه
مُلک په کتلو کښې تېرې کړې دى. تاسو ته به پته ولګى چې زۀ ستاسو خِلاف يم.
۳۵ بېشکه چې زۀ به تاسو خرابو خلقو سره داسې وکړم چې زما خِلاف راغونډ
شوى يئ. په دې صحرا کښې به تاسو تباه شئ. زۀ، مالِک خُدائ دا وايم.“ ۳۶-
۳۷ موسىٰ چې کوم سړى د هغه مُلک کتلو له لېږلى وُو چا چې غلط خبر راوړو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د هغې په وجه خلقو د مالِک خُدائ خِلاف شکايت وکړو، نو مالِک خُدائ په
دې جاسوسانو باندې وبا راوستله او هغوئ مړۀ شول. ۳۸ په هغه دولسو
جاسوسانو کښې صِرف يشوَع او کالب ژوندی پاتې شول.

## د مُلک د نيولو وړومبے کوشش

۳۹ کله چې موسیٰ بنی اِسرائيلو ته هغه څۀ وفرمائيل څۀ چې مالِک خُدائ
فرمائيلی وُو، نو هغوئ ډېر غمژن شول. ۴۰ بل سحر وختی هغوئ د غرونو مُلک
ته روان شول، هغوئ ووئيل، ”اوس به مونږ هغه مُلک ته لاړ شُو چې د کوم په
حقله مالِک خُدائ مونږ ته فرمائيلی دی. مونږ دا منو چې مونږ گناه کړې ده.“
۴۱ خو موسیٰ ورته وفرمائيل، ”نو تاسو ولې د مالِک خُدائ نافرمانی کوئ؟
تاسو به کامياب نۀ شئ. ۴۲ تاسو مۀ ځئ. مالِک خُدائ ستاسو مل نۀ دے او
ستاسو دشمنان به تاسو له شکست درکړی. ۴۳ کله چې تاسو د عماليقيانو او
کنعانيانو سره مخامخ شئ، نو تاسو به په جنگ کښې ووژلے شئ، مالِک خُدائ
به ستاسو مل نۀ وی، ځکه چې تاسو د هغۀ د تابعدارئ نه اِنکار کړے دے.“ ۴۴
خو هغوئ زړَور روان وُو چې د غرونو مُلک ته وخېژی، اگر چې نۀ د مالِک
خُدائ د لوظ صندوق او نۀ موسیٰ د خېمو نه ورسره تلے وو. ۴۵ بيا عماليقيان
او کنعانيان لاندې راغلل کوم چې هلته اوسېدل او هغوئ له يې شکست ورکړو او
د حُرمه پورې يې وزغلول.

## د قربانئ په حقله قانون

**۱۵** ۱ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل ۲ چې بنی اِسرائيلو ته دا اصُول
وښايه چې په هغه مُلک کښې پرې عمل کوی کوم يې چې هغوئ له ورکولو. ۳
يو غوَيے، گډه، يا يو چېلے مالِک خُدائ ته د سوزېدونکې نذرانې په توگه يا د
يوې منښتې د پوره کولو د نذرانې، يا د رضاکارانه نذرانې يا د ستاسو په مقررو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اخترونو کښې د يوې نذرانې په توګه پېش کولے شی، د دې نذرانو خوشبو په
مالِک خُدائ باندې ښۀ لګی. ۴-۵ هر څوک چې يو ګډ يا چېلے مالِک خُدائ
ته د سوزېدونکې نذرانې په توګه پېش کوی نو هغه به د دې هر يو څناور سره يو
کلو اوړۀ راوړی چې يو ليټر د زيتُونو تېل ورسره ګډ وی، دا به د غلې نذرانې په
توګه وی، يو ليټر مے به ورسره هم وی. ۶ کله چې يو ګډ پېش کيږی، نو دوه
کلو اوړۀ چې يو نيم ليټر د زيتُونو تېل ورسره ګډ وی، دا به د غلې نذرانې په توګه
پېش کيږی، ۷ يو نيم ليټر مے به ورسره هم وی. د دې نذرانې خوشبو په مالِک
خُدائ باندې ښۀ لګی. ۸ کله چې يو غوَيے د سوزېدونکې نذرانې په توګه يا د
يوې منښتې پوره کولو د نذرانې يا د سلامتئ د نذرانې په توګه مالِک خُدائ ته
پېش کيږی، ۹ د درې کلو اوړو د غلې يوه نذرانه به پېش کيږی چې دوه ليټره د
زيتُونو تېل ورسره ګډ وی، ۱۰ دوه ليټره مے به ورسره هم وی. د دې نذرانې
خوشبو په مالِک خُدائ باندې ښۀ لګی. ۱۱ دا هغه څۀ دی چې د هر يو غوَيی،
ګډ، ګډُوری، يا چېلئ سره به پېش کولے شی. ۱۲ د څناورو د شمېر په مطابق
به د دې څيزونو مِقدار هم زياتولے شی. ۱۳ د مُلک ټول اصلی پيدائشی خلق
چې کله يوه په اور تيارېدونکې نذرانه پېش کوی نو هغوئ به داسې کوی، د دې
خوشبو په مالِک خُدائ باندې ښۀ لګی. ۱۴ او کۀ ستاسو په مينځ کښې د بل
مُلک کس وی، کۀ هغه د لږ وخت يا د ډېر وخت دپاره اوسېدونکے وی، نو کۀ
هغوئ غواړې چې په اور تيارېدونکې نذرانه پېش کړی، چې د چا خوشبو په
مالِک خُدائ ښۀ لګی، نو ضرور به هغوئ هم هغه شان اصُول منی. ۱۵ په
راتلونکی ټولو وختونو کښې، تاسو او ستاسو سره اوسېدونکی د بل مُلک خلق به
دا اصُول منی. تاسو او هغوئ د مالِک خُدائ په نظر کښې يو شان يئ، ۱۶
ستاسو او د هغوئ دپاره به يو شان قانون او اصُول وی. ۱۷ مالِک خُدائ
موسیٰ ته وفرمائيل ۱۸ چې بنی اِسرائيلو ته دا اصُول وښايه چې په هغه مُلک
کښې پرې عمل کوی کوم چې مالِک خُدائ هغوئ له ورکولو. ۱۹ کله چې تاسو
د هغه مُلک د فصل نه خوراک کوئ، د هغې نه به څۀ برخه مالِک خُدائ ته د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خاص برخي په توګه پېش کولے شی. ٢٠ کله چې تاسو روټۍ پخوئ، نو د نوې
غلې د وړومبۍ پېړې روټۍ به مالِک خُدائ ته د خاص برخې په توګه پېش کولے
شی. دا به هم هغه شان پېش کولے شی چې څنګه تاسو په درمند کښې صفا
شوې غله د خاص برخې په توګه پېش کوئ. ٢١ په راتلونکی ټولو وختونو کښې،
تاسو چې کومه روټۍ پخوئ نو دا نذرانه به مالِک خُدائ له ورکوئ. ٢٢ خو کهٔ
څوک په غلطۍ سره په دې اصُولو باندې عمل کولو کښې ناکام شی کوم چې
مالِک خُدائ موسیٰ له ورکړی دی، ٢٣ او فرض کړئ کهٔ راتلونکی نسلونه په
دې هر څهٔ کولو کښې ناکام شی چې مالِک خُدائ یې د موسیٰ په ذریعه حُکم
کړے دے، ٢٤ کهٔ یوه داسې غلطی شوې وی چې قوم ته پته نهٔ وی لګېدلې، نو
هغوئ به یو غوَیے د سوزېدونکې نذرانې په توګه پېش کړی، د دې خوشبو په
مالِک خُدائ باندې ښهٔ لګی، دا به د معیاری غلې نذرانې او د څښلو نذرانې سره
پېش کیږی. د دې نه علاوه، هغوئ به یو چېلے د ګناه نذرانې په توګه هم پېش
کوی. ٢٥ اِمام به د قوم دپاره کفاره ادا کړی او هغوئ به معاف کړے شی، ځکه
چې هغه کار په غلطۍ سره شوے وو او هغوئ خپله د ګناه نذرانه په اور
تيارېدونکې نذرانې په توګه مالِک خُدائ ته راوړه. ٢٦ نو د بنی اِسرائيلو ټول قوم
او د هغوئ سره اوسېدونکی د پردی مُلک خلق به معاف کړے شی، ځکه چې
ټول په دې غلطۍ کښې شامل ؤو. ٢٧ کهٔ یو کس په غلطۍ سره ګناه وکړی، نو
هغه به د یو کال چېلۍ د ګناه نذرانې په توګه پېش کوی. ٢٨ اِمام به په قربانګاه
باندې د هغه کس دپاره کفاره ادا کړی، چا چې په غلطۍ سره ګناه کړې وی او
هغه به معاف شی. ٢٩ دا اصُول د هغه هر چا دپاره یو شان دی چې څوک په
غلطۍ سره ګناه وکړی، کهٔ هغه په حقیقت کښې اِسرائيلے وی یا د هغوئ سره
اوسېدونکے د پردی مُلک کس وی. ٣٠ خو کهٔ یو کس قصداً ګناه وکړی، کهٔ
هغه د خپل مُلک یا د پردی مُلک وی، نو د ګناه په وجه هغهٔ د مالِک خُدائ
بې‌عزتی کړې ده او هغه به وژلے شی، ٣١ ځکه چې هغهٔ د مالِک خُدائ د وینا
سپکاوے کړے دے او قصداً یې د هغهٔ یو حُکم مات کړے دے. نو هغه د خپل



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مرګ په خپله ذمه وار دے.

## د سبت ورځې د نهٔ منلو دپاره سزا

۳۲ کله چې اِسرائيليان لا په صحرا کښې وُو، نو يو سړے وليدے شو چې د
سبت په ورځ يې خشاک راټولولو. ۳۳ نو هغه موسىٰ، هارون او ټول قوم ته
راوستلے شو، ۳۴ او قيد کړے شو، ځکه چې دا پته نهٔ وه چې د هغهٔ سره څهٔ
وکړے شى. ۳۵ نو مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل، ”هغه سړے دې خامخا
ووژلے شى، ټول قوم به هغه د خيمو نه بهر سنګسار کړى.“ ۳۶ نو ټول قوم هغه
د خيمو نه بهر بوتلو او سنګسار يې کړو، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ
حُکم کړے وو.

## په جامو د ځوړندو مزو په حقله قانون

۳۷ مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل ۳۸ چې، ”بنى اِسرائيلو ته ووايه، د خپلو
جامو په ګوټونو باندې مزى راځوړند کړئ او په هر يو مزى باندې يې يو د
آسمانى رنګ تار ولګوئ. داسې به تاسو په راتلونکى ټولو وختونو کښې کوئ. ۳۹
چې هر کله هم تاسو دا مزى ګورئ نو تاسو ته به زما ټول حُکمونه دريادېږى او
عمل به پرې کوئ، نو تاسو به زما نه نهٔ اوړئ او د خپلو سترګو او زړهٔ په
خواهشونه پسې به نهٔ ګرځئ. ۴۰ هغه مزى به تاسو ته دا دريادوى چې زما ټول
حُکمونه منئ او تاسو به په پوره توګه زما يئ. ۴۱ زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک يم، ما تاسو د مِصر مُلک نه راوويستلئ چې ستاسو خُدائ پاک يم. زهٔ
مالِک خُدائ يم.“

## د قورح، داتن او ابيرام بغاوت



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١-٢ د اِضهار زوئ قورح، چې د قُهاتیانو د قبیلې لیوے وو، هغهٔ د موسیٰ د
مشرئ خِلاف بغاوت وکړو. د روبین قبیلې نه یې درې سړی رابلل کړل، داتن،
ابیرام، چې د اِلیاب زامن وُو او اُون چې د پلت زوئ وو او ورسره دوه نیم سوه
نور اِسرائیلیان هم وُو، دا مشهور مشران چې قوم خوښ کړی وُو. ٣ هغوئ د
موسیٰ او هارون په مخکښې رابلل شول او ورته یې ووئیل، ”تاسو د حد نه تېر
شوی یئ. ټول قوم د مالِک خُدائ مقدس خلق دی او مالِک خُدائ زمونږ د ټولو
مل دے. نو، موسیٰ، تهٔ ولې د مالِک خُدائ د قوم نه ځان اوچت ګڼې؟“ ٤ کله
چې موسیٰ دا واورېدل، نو هغه د خفګان نه پړمخې پرېوتو. ٥ او قورح او د هغهٔ
ملګرو ته یې وفرمائیل، ”مالِک خُدائ به سبا سحر مونږ ته وښائی چې څوک د
هغهٔ دی او څوک مقدس دی. او هغه به صِرف هغه کس خپل ځان ته نزدې
پرېږدی چې کوم یې خوښ کړے وی. ٦-٧ سبا سحر تهٔ او ستا ملګری د اور
وړلو لوښی واخلئ، بل سکارهٔ په کښې واچوئ او په هغې باندې د خوشبوئ
مصالحې واچوئ او قربانګاه ته یې یوسئ. بیا به مونږ وګورو چې زمونږ نه
مالِک خُدائ څوک خوښ کړی دی. تاسو لیویان د حد نه تېر شوی یئ.“ ٨
موسیٰ قورح ته وفرمائیل، ”اے لیویانو، واورئ. ٩ تاسو دا وړه خبره ګڼئ چې
د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک تاسو د نور قوم نه جدا کړی یئ، چې تاسو هغهٔ ته
نزدې شئ، د مالِک خُدائ په خیمه کښې خِدمت وکړئ او چې د قوم مدد او
خِدمت وکړئ؟ ١٠ هغهٔ تاسو او نورو لیویانو له دا عزت درکړے دے او اوس
تاسو دا وایئ چې د هغهٔ اِمامان هم شئ. ١١ کله چې تاسو د هارون خِلاف
غورېږئ، دا په حقیقت کښې د مالِک خُدائ خِلاف غورېدل دی او دا ستا او ستا
د قبیلې سرکشی ده.“ ١٢ بیا موسیٰ داتن او ابیرام راوغوښتل، خو هغوئ ووئیل،
”مونږ نهٔ درځُو. ١٣ دا څهٔ وړه خبره ده چې مونږ تا د هغه زرخیز او آباد مُلک
نه د دې دپاره راویستلی یُو چې په دې صحرا کښې مو ووژنې؟ تهٔ په مونږ باندې
روب اچول غواړې څهٔ؟ ١٤ بله دا چې تا هغه مُلک ته هم رانهٔ وستلو چې زرخېز
او آباد دے او نهٔ دې پټی او د انګورو باغونه راکړل چې زمونږ شی. دا خلق ړانده



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی څهٔ چې نهٔ پوهیږی؟ مونږ نهٔ درځُو.“ (۱۵) موسیٰ ډېر غصه شو او مالِک
خُدائ ته يې وفرمائيل، ”د دوئ نذرانې مهٔ قبلوه. ما دوئ يو له هم څهٔ تکليف نهٔ
دے ورکړے، او ما د دوئ نه چرته يو خر هم نهٔ دے بوتلے.“ (۱۶) موسیٰ قورح
ته وفرمائيل، ”سبا به تهٔ او ستا دوه نيم سوه ملګری خامخا د مالِک خُدائ د
حضور خېمې ته راشئ، او هارون دې هم راشی. (۱۷) ستاسو هر يو کس به خپل
مجمر واخلی، د خوشبوئ مصالحه به په کښې واچوی او بيا به يې په قربان‌ګاه
باندې پېش کړی.“ (۱۸) نو هر يو کس خپل مجمر واخستلو، ژوندی سکارهٔ او د
خوشبوئ مصالحه يې په کښې واچوله او د موسیٰ او هارون سره د خېمې د
دروازې په خولهٔ کښې ودرېدل. (۱۹) بيا قورح ټول قوم راغونډ کړو او هغوئ د
خېمې د دروازې په خولهٔ کښې موسیٰ او هارون ته مخامخ ودرېدل. ناڅاپه د
مالِک خُدائ د حضور جلال ټول قوم ته راښکاره شو، (۲۰) او مالِک خُدائ
موسیٰ او هارون ته وفرمائيل، (۲۱) ”تاسو د دې خلقو نه لرې شئ، چې سمدستی
يې تباه کړم.“ (۲۲) خو موسیٰ او هارون پړمخې پرېوتل او وې فرمائيل، ”خُدايه
پاکه، ټولو خلقو له ژوند تهٔ ورکوې. کله چې يو کس ګناه وکړی، نو تهٔ ټولو ته په
قهر کېږې څهٔ؟“ (۲۳) مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، (۲۴) ”خلقو ته ووايه چې د
قورح، داتن او ابيرام د خېمو نه لاړ شی.“ (۲۵) بيا موسیٰ داتن او ابيرام له روان
شو او د بنی اِسرائيلو مشران هم ورسره شول. (۲۶) هغهٔ خلقو ته وفرمائيل، ”د
دې خرابو سړو د خېمو نه لرې اوسئ او چې د هغوئ يو څيز له هم لاس ورنهٔ
وړئ. ګنې، د هغوئ د ټولو ګناهونو په وجه به تباه شئ.“ (۲۷) نو هغوئ د قورح،
داتن او د ابيرام د خېمو نه لاړل. داتن او ابيرام بهر راوتلی وُو او د خپلو خېمو د
دروازو په خُلو کښې، د خپلو ښځو سره، د خپلو بچو او د خپلو وړو ماشومانو
سره ولاړ وُو. (۲۸) موسیٰ خلقو ته وفرمائيل، ”نو داسې به تاسو ته پته ولګی چې
مالِک خُدائ زهٔ د دې دپاره رالېږلے يم چې دا ټول کارونه وکړم او چې ما څهٔ هم
کړی دی نو هغه مې د ځان نه نهٔ دی کړی. (۲۹) کهٔ دا سړی د خُدائ پاک د سزا
نه بغير په خپل مرګ مړهٔ شی، نو بيا به مالِک خُدائ زهٔ هم نهٔ يم رالېږلے. (۳۰)



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو کۀ مالِک خُدائ يو لوئ عجيبه کار وکړی او زمکه وشليږی او هغوئ تېر کړی، چې هغوئ قبر ته ژوندی لاړ شی، نو تاسو ته به پته ولګی چې دې سړو د مالِک خُدائ سپکاوے کړے دے.“ ۳۱ هغۀ چې څنګه خبرې ختمې کړې، نو د داتن او ابيرام لاندې زمکه وشلېدله، ۳۲ هغوئ يې تېر کړل، د هغوئ خاندان، سره د قورح د ټولو ملګرو او چې هغوئ څۀ لرل هغه يې هم تېر کړل. ۳۳ نو هغوئ قبر ته ژوندی لاندې لاړل، سره د هغه هر څۀ چې هغوئ لرل. زمکه په هغوئ باندې رابنده شوه او هغوئ فنا شول. ۳۴ هلته چې څومره اِسرائيليان وُو هغوئ چې کله د هغوئ ژړا واورېدله نو هغوئ وتښتېدل. هغوئ چغې وهلې، ”تښتئ. زمکه به مونږ هم تېر کړی.“ ۳۵ بيا مالِک خُدائ يو اور راولېږلو او هغه دوه نيم سوه سړی يې وسوزول کومو چې خوشبوئی پېش کړې وه.

## د سرکشئ دپاره کفاره

۳۶ بيا مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ۳۷ ”د هارون اِمام زوئ اِلىعزر ته ووايه چې کوم سړی سوزېدلی دی چې د هغوئ د اور لوښی لرې کړی او هغه سکارۀ دې د اور لوښو نه لرې لرې وولی، ځکه چې د اور لوښی مقدس دی. ۳۸ کله چې دا لوښی د مالِک خُدائ په قربانګاه باندې پېش کېدل نو مقدس شول. نو د دې سړو د اور لوښی واخله کوم چې د خپلې ګناه په وجه مړۀ شوی دی، وې ټکوه نری نری پترې شان ترې نه جوړ کړه او د قربانګاه پټولو دپاره سر ترې نه جوړ کړه. دا به د بنی اِسرائيلو دپاره د خبردارئ يوه نښه وی.“ ۳۹ نو اِلىعزر اِمام د اور لوښی واخستل او د ټکولو دپاره يې ورکړل، د قربانګاه د پټولو د سر دپاره نری نری پترې ترې نه جوړ کړے شول. ۴۰ دا د بنی اِسرائيلو دپاره يو خبردارے وو چې څوک د هارون اولاد نۀ وی نو بل غېر سړے به قربانګاه ته نزدې نۀ راځی د دې دپاره چې مالِک خُدائ ته خوشبوئی وسوزوی. ګنې هغه به د قورح او د هغۀ د سړو په شان تباه شی. دا هر څۀ هم هغه شان وشول چې څنګه مالِک خُدائ اِلىعزر له د موسیٰ په ذريعه حُکم ورکړے وو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت هارون خلق بچ کول

۴۱ خو په ورپسې ورځ ټول قوم موسیٰ او هارون ته وغورېدو او وې وئیل،
"تاسو د مالِک خُدائ خلق وژلی دی." ۴۲ د هغې نه پس کله چې هغوئ ټول د
موسیٰ او هارون خِلاف راغونډ شوی وُو، چې هغوئ د خېمې طرف ته وکتل نو
وې ليدل چې وريځې خېمه پټه کړې وه او د مالِک خُدائ د حضور جلال
راښکاره شوے وو. ۴۳ موسیٰ او هارون لاړل او د خېمې په مخکښې ودرېدل،
۴۴ او مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ۴۵ "د دې خلقو نه لرې شه او زهٔ
سمدستی هغوئ تباه کوم." خو موسیٰ او هارون پړمخې پرېوتل، ۴۶ او موسیٰ
هارون ته وفرمائيل، "خپل مجمر واخله، د قربانګاه نه په کښې ژوندی سکارهٔ
واچوه او په سکارو باندې لږه خوشبوئی واچوه. بيا خلقو له په منډه لاړ شه او د
هغوئ دپاره کفاره ادا کړه. زر شه. مالِک خُدائ په قهر دے او تباهی د مخکښې
نه شروع شوې ده." ۴۷ هارون ته چې څنګه وئيلے شوی وُو هم هغه شان يې
وکړل، خپل د اور لوښے يې واخستلو او د راغونډو خلقو مينځ ته يې ورمنډه
کړه. کله چې هغهٔ وليدل چې تباهی شروع وه، نو هغهٔ خوشبوئی په سکارو واچوله
او د خلقو دپاره يې کفاره ادا کړه. ۴۸ هغه د مړو او ژوندو په مينځ کښې
ودرېدلو او تباهی بس شوه. ۴۹ کوم خلق چې مړهٔ شول هغوئ په شمېر کښې
څوارلس زره او اووهٔ سوه کسان وُو، دا د هغې نه علاوه وُو کوم چې د قورح په
سرکشۍ کښې مړهٔ شوی وُو. ۵۰ کله چې تباهی بس شوه، نو هارون د خېمې د
دروازې په خولهٔ کښې موسیٰ ته راواپس شو.

## د حضرت هارون امسا

۱۷ ۱ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل چې، ۲ "بنی اِسرائيلو ته ووايه چې
تا له دولس امساګانې درکړی چې د هرې قبيلې د مشر نه يوه يوه وی. د هر سړی
نوم د هغهٔ په امسا باندې وليکه ۳ او په يوه امسا باندې د هارون نوم وليکه چې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کومه د لیوی قبیلې دپاره وی، د هرې قبیلې د مشر دپاره به یوه یوه امسا وی.
۴ دا امساګانې زما د حضور خېمې ته یوسه او د لوظ صندوق په مخکښې یې
کېږده، چرته چې زهٔ تا سره مِلاوېږم. ۵ بیا چې ما کوم سړے خوښ کړے
وی نو د هغهٔ امسا به زرغونه شی او زهٔ به ستا خِلاف د بنی اِسرائیلو دا هر وخت
غوریدل بند کړم.“ ۶ نو موسیٰ بنی اِسرائیلو ته وفرمائیل چې داسې وکړئ او د
هغوئ هر یو مشر هغهٔ له یوه امسا ورکړه، چې د هرې قبیلې دپاره یوه یوه وه، دا
ټولې دولس وې او په دې دولسو امساګانو کښې یوه امسا د هارون وه. ۷ بیا
موسیٰ هغه ټولې امساګانې په خېمه کښې د مالِک خُدائ د لوظ صندوق په
مخکښې کېښودې. ۸ په وریسې ورځ، کله چې موسیٰ خېمې ته دننه لاړو، نو
هغهٔ د هارون امسا ولیده چې د لیوی قبیلې دپاره وه، هغه زرغونه شوې وه، دې
غوټۍ او ګلونه کړی وُو او پاخهٔ بادام یې نیولی وُو. ۹ موسیٰ ټولې امساګانې
یوړې او بنی اِسرائیلو ته یې وښودلې، هغوئ ورته وکتل او هر یو مشر خپله امسا
واپس واخستله. ۱۰ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل، ”د هارون امسا واپس د
لوظ صندوق په مخکښې کېږده. باغیانو بنی اِسرائیلو ته به دا د نښې په توګه
کېښودلے شی، کهٔ د هغوئ غوریدل بند نهٔ شی نو هغوئ به مړهٔ شی.“ ۱۱
موسیٰ هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے وو. ۱۲ بنی
اِسرائیلو موسیٰ ته وفرمائیل، ”مونږ برباد یُو، تباه یُو. ۱۳ چې څوک هم د مالِک
خُدائ خېمې ته نزدې ورشی، نو هغه به مړ شی، نو مونږ خو ټول مرګِ حال یُو.“

## د اِمامانو او لیویانو ذمه واری

**۱۸** ۱ مالِک خُدائ هارون ته وفرمائیل، ”تا ته، ستا زامنو او لیویانو ته به
خامخا د خپلو هغه بدو سزا مِلاو شی چې د هغه جرم تعلق زما د حضور خېمې
د خِدمت سره وی، خو د اِمامت په خِدمت کښې د څهٔ ګناه سزا به صِرف تا او
ستا زامنو ته ملاویږی. ۲ د لیوی قبیلې خپل خپلوان هم د ځان سره راوله،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې تا سره په کار کښې مدد وکړی، په هغه وخت کښې چې تهٔ او ستا زامن په
خېمه کښې خِدمت کوی. ۳ هغوئ به ستا او د خېمې دپاره خپلې ذمه وارئ
پوره کوی، خو هغوئ دې په مقدس ځائ کښې مقدس سامان او قربان گاه ته نهٔ
ور نزدې کېږی. کهٔ هغوئ داسې وکړل، نو تهٔ او هغوئ به ووژلے شئ. ۴
هغوئ به تا سره کار کوی او په خېمه کښې به د خِدمت خپلې ټولې ذمه وارئ
پوره کوی، خو چې چا ته اجازت نهٔ وی نو هغه کس به تا سره خِدمت نهٔ شی
کولے. ۵ یواځې تهٔ او ستا زامن به د مقدس ځائ او د قربانگاه ذمه وارئ
پوره کوئ، نو داسې به زهٔ بیا بنی اِسرائیلو ته نهٔ په قهر کېږم. ۶ زهٔ هغه ځوک
یم چا چې ستا خپلوان لیویان ستا دپاره د یوې تُحفې په توگه د بنی اِسرائیلو نه
خوښ کړی دی. هغوئ ما ته وقف دی، چې هغوئ په خېمه کښې خپلې ذمه وارئ
تر سره کړی. ۷ خو یواځې تهٔ او ستا زامن به د اِمامت هغه ذمه وارئ پوره
کوئ کومې چې د قربانگاه او د زیات مقدس ځائ سره تعلق لری. دا ستاسو
ذمه وارئ دی، ځکه چې ما تاسو له د اِمامت تُحفه درکړې ده. هر ځوک چې
حقدار نهٔ وی او نزدې راشی نو هغه به ووژلے شی.“

## د اِمامانو برخه

۸ مالِک خُدائ هارون ته وفرمائیل، ”گوره، زهٔ تا له زما ټولې خاص برخې
درکوم چې د نذرانو په توگه دې نهٔ شی سوزولے. دا زهٔ تا او ستا اولاد له درکوم
چې د همېشه دپاره ستاسو په حواله وی. ۹ ډېرې مقدسې نذرانې کومې چې په
قربانگاه نهٔ سوزولے کېږی، هغه ستاسو دی، د غلې نذرانې، د گناه نذرانې، د
گناه د تاوان نذرانې. هر هغه څیز چې ما ته د مقدسې نذرانې په توگه پېش کېږی
هغه ستا او ستا د زامنو دی. ۱۰ تاسو به خامخا دا څیزونه په یو مقدس ځائ
کښې خورئ او صِرف نران دا خوړلے شی، دا مقدس وگڼئ. ۱۱ د دې نه
علاوه، اِسرائیلیان چې نورې خاص برخې ما ته پېش کوی هغه به ستاسو وی. زهٔ
دا د راټلونکی ټولو وختونو دپاره تا، ستا زامنو او ستا لوڼو له ورکوم. ستا د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خاندان هر یو کس چې پاک وی نو هغه دا خوړلے شی. ⑫ زۀ د وړومبی
پېداوار بِهترینه حِصه تاسو له درکوم کومه چې اِسرائیلیان ما ته هر کال پېش
کوی لکه د زیتُونو تېل، مے او غله دانه. ⑬ دا هر څۀ ستاسو دی. د ستاسو د
خاندان هر یو کس چې پاک وی نو هغه یې خوړلے شی. ⑭ د بنی اِسرائیلو په
مُلک کښې چې هر څیز ما ته بغېر د څۀ شرط نه وقف شوے وی نو هغه به
ستاسو وی. ⑮ هر یو وړومبے پېدا شوے ماشوم یا څناور چې اِسرائیلیان یې
ما ته پېش کوی هغه به ستاسو وی. خو تاسو به خامخا هر وړومبے پېدا شوے
ماشوم واپس اخلئ او هر وړومبے پېدا شوے څناور به هم واپس اخلئ کوم چې
ناپاک وی. ⑯ چې ماشومان د یوې میاشتې شی نو هغوئ به په مقرر شوی
قیمت یعنې په پینځو د سپینو زرو سیکو باندې واپس اخستلے شی، دا به د منلے
شوی معیار په مطابق وی. ⑰ خو د غواګانو، ګډو او چېلو وړومبے پېدا شوے
بچے به واپس نۀ شی اخستلے، دا به په پوره توګه زما وی او دا به قربانیږی.
وینه یې په قربانګاه باندې وشیندئ او وازګه یې په اور تیاریدونکې نذرانې په توګه
وسوزوئ، د دې خوشبو په ما باندې ښۀ لګی. ⑱ د دې غوښه ستاسو ده، لکه د
دې سینه او د خاص نذرانې وروستنی پښه. ⑲ کومې خاص برخې چې
اِسرائیلیان ما ته پېش کوی هغه زۀ په راتلونکی ټولو وختونو کښې تا، ستا زامنو
او ستا لوڼو له درکوم، دا یو نۀ ماتېدونکے لوظ دے چې ما تا او ستا اولاد سره
وکړو.“ ⑳ مالِک خُدائ هارون ته وفرمائیل، ”تا ته به هیڅ جائیداد نۀ ملاویږی
چې ستا میراث شی او د بنی اِسرائیلو د مُلک هیڅ حِصه به تا ته نۀ حواله کیږی.
زۀ مالِک خُدائ، ستا دپاره کافی یم.“

### د لیویانو برخه

㉑ مالِک خُدائ وفرمائیل، ”ما لیویانو له هره لسمه حِصه ورکړې ده کومه چې
اِسرائیلیان ما ته پېش کوی. دا د هغوئ دپاره زما د حضور د خیمې د خِدمت
کولو مزدوری ده. ㉒ نور به اِسرائیلیان خیمې ته نۀ نزدې کیږی ګنې هغوئ به



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځان له په خپله د مرګ سزا ورکوی. ۞۲۳ صِرف ليويان به د خېمې خيال ساتی او د دې پوره ذمه واری به تر سره کوی. دا قانون به د همېشه دپاره ستاسو د اولاد دپاره هم وی. د بنی اِسرائيلو په مُلک کښې به ليويانو ته هيڅ زمکه نۀ ملاوېږی چې خپله يې شی، ۞۲۴ ځکه چې ما هغوئ له لسمه حِصه ورکړې ده کومه چې اِسرائيليان ما ته د خاص برخې په توګه پېش کوی. نو دا ځکه ما هغوئ ته وفرمائيل چې د بنی اِسرائيلو په مُلک کښې به د هغوئ جائيداد نۀ وی.“

## د ليويانو لسمه حِصه

۞۲۵ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ۞۲۶ چې ليويانو ته ووايه، ”کله چې تاسو د بنی اِسرائيلو نه لسمه حِصه اخلئ کومه چې مالِک خُدائ تاسو له درکوی، نو تاسو به د دې لسمه حِصه مالِک خُدائ ته د خاص برخې په توګه پېش کوئ. ۞۲۷ دا خاص برخه به د هغې نذرانې برابره ګڼلے شی کومه نذرانه چې زميندار د نوی فصل او د انګورو د لنګرۍ نه د نوؤ شرابو نه پېش کوی. ۞۲۸ نو تاسو به مالِک خُدائ ته يوه خاص برخه هم پېش کوئ کومه چې تاسو د بنی اِسرائيلو د لسمې حِصې نه اخلئ. دا برخه به تاسو د مالِک خُدائ دپاره هارون اِمام له ورکوئ.
۞۲۹ چې څۀ تاسو ته ملاوېږی نو د هغې د ټولو نه ښۀ حِصه مالِک خُدائ له ورکوئ. ۞۳۰ نو هم داسې ليويانو ته دا اصُول وښايه. کله چې تاسو ښۀ حِصه د نذرانې په توګه پېش کوئ نو دا به تاسو دپاره داسې حساب شی لکه چې تاسو يې د خپل درمند يا د انګورو لنګرۍ نه ورکوئ. ۞۳۱ تاسو او ستاسو خاندان هغه پاتې شوې برخه په هر ځائ کښې خوړلے شئ، ځکه چې دا ستاسو د مقدسې خېمې د خِدمت مزدوری ده. ۞۳۲ کۀ چرې تاسو د دې ښۀ حِصه مالِک خُدائ ته پېش کړې وی او بيا تاسو دا خورئ نو تاسو ته به سزا نۀ ملاوېږی. هغه تحفې او قربانيانې چې قوم يې راوړی لازمی ده چې مقدسې پاتې شی خو کۀ د دې د پېش کولو نه مخکښې تاسو دې نه کومه برخه وخورئ نو ويه وژلے شئ.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د سرې غوا ايرې

۱۹ ۞١ مالِک خُدائ موسىٰ او هارون ته وفرمائيل، ۞٢ ”بنى اِسرائيلو ته دا
اصُول وښايئ، چې هغوئ تاسو له يوه سره غوا راولى چې لنګتون يې نۀ وى
کړے او هيڅ عيب په کښې نۀ وى او يوې وربانديې هيڅکله هم نۀ وى شوې، ۞٣
او هغوئ به هغه بيا اِلىعزر اِمام له ورکړى. هغه به د خېمو نه بهر بوتلے شى او
د هغۀ په مخکښې به حلاله کړے شى. ۞٤ اِلىعزر به بيا د هغې څۀ وينه واخلى
او د خپلې ګوتې سره به اووۀ ځلې وينه خېمې ته مخامخ وشيندى. ۞٥ ټوله غوا،
سره د څرمنې، غوښې، وينې او کولمو، به د اِمام په مخکښې وسوزولے شى.
۞٦ بيا به هغه د دِيار لرګے، څۀ وېلنى او يو سور تار راوړى او دا به په اور
کښې واچوى چرته چې غوا سوزيږى. ۞٧ د هغې نه پس، هغه به خپلې جامې
ووينځى او غسل به وکړى، نو بيا هغه خېمو ته دننه راتلے شى، خو تر ماښامه
پورې به ناپاک وى. ۞٨ چا چې غوا سوزولې وى نو هغه به خامخا خپلې جامې
ووينځى او غسل به وکړى، خو هغه به هم تر ماښامه پورې ناپاک وى. ۞٩ بيا
هغه سړے کوم چې پاک وى هغه به د غوا ايرې راغونډې کړى او د خېمو نه بهر
په يو پاک ځائ کښې به يې کېږدى، هلته به دا ايرې د بنى اِسرائيلو د قوم دپاره
ساتلے شى چې د ناپاکئ د لرې کولو اوبو تيارولو دپاره به استعماليږى. دا رسم
به د ګناه د لرې کولو دپاره ادا کيږى. ۞١٠ چا چې ايرې راټولې کړې وى هغه به
خامخا خپلې جامې وينځى او تر ماښامه پورې به ناپاک وى. دا اصُول د
راتلونکى ټولو وختونو دپاره دى، دا به د بنى اِسرائيلو او د پردى مُلک د خلقو
دپاره وى چې د هغوئ سره اوسيږى.

## د مړى سره لګيدل

۞١١ هر څوک چې د مړى سره ولګى نو هغه به اووۀ ورځې ناپاک وى. ۞١٢ هغه
به خامخا په دريمه ورځ او په اوومه ورځ خپل ځان د پاکوالى په اوبو باندې پاک



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړی، نو هغه به پاک شی. خو کۀ هغه په دریمه ورځ او په اوومه ورځ باندې خپل
ځان پاک نۀ کړی، نو هغه به پاک نۀ وی. ۱۳ هر څوک چې د مړی سره ولګی
او خپل ځان پاک نۀ کړی نو هغه به ناپاک وی، ځکه چې په هغۀ باندې د پاکوالی
اوبۀ نۀ دی شیندلے شوې. هغه د مالِک خُدائ د خیمې سپکاوے کوی او هغه به
نور د خُدائ پاک د خلقو نه نۀ شی ګڼلے. ۱۴ کۀ یو سړے په خیمه کښې مړ
شی، هر څوک چې د هغۀ د مرګ په وخت په خیمه کښې وی یا ورننوځی نو هغه
به اووۀ ورځې ناپاک وی. ۱۵ په خیمه کښې هر لوښے چې سر ورباندې نۀ وی
هغه به هم ناپاک وی. ۱۶ کۀ څوک داسې کس له ګوتې وروړی چې قتل شوے
وی یا د کور نه بهر په خپل مرګ مړ وی یا کۀ څوک د بنی آدم هډُوکی یا قبر له
ګوتې وروړی، نو هغه به اووۀ ورځې ناپاک وی. ۱۷ کومه غوا چې د ګناه د لرې
کولو دپاره سوزولے شوې وه د هغې نه لږې ایرې به د ناپاکۍ لرې کولو دپاره
واخستلے شی او په یو لوښی کښې به واچولے شی او روانې اوبۀ په کښې
واچوئ. ۱۸ یو پاک سړے به وېلنے واخلی، په اوبو کښې به یې ډُوب کړی او
اوبۀ به په خیمه، د هغې په ټول سامان او په هغه خلقو وشیندی چې کوم هلته وی
او په هغه سړی باندې به اوبۀ وشیندی کوم چې د بنی آدم هډُوکی، مړی، یا قبر له
ګوتې وروړې وی. ۱۹ پاک سړے به په ناپاک سړی باندې په دریمه او په اوومه
ورځ باندې اوبۀ وشیندی. او په اوومه ورځ به هغه ناپاک سړے پاک کړی، د
نمرپرېواتو په وخت د خپلو جامو وینځلو او په ځان اوبۀ اچولو نه پس به پاک
شی. ۲۰ هر څوک چې ناپاک شوے وی او خپل ځان پاک نۀ کړی نو هغه به
ناپاک پاتې شی، ځکه چې په هغۀ باندې د پاکوالی اوبۀ نۀ دی شیندلے شوې. هغه
د مالِک خُدائ د خیمې سپکاوے کوی او نور به د خُدائ پاک د خلقو نه نۀ شی
ګڼلے. ۲۱ تاسو به دا اصُول په راتلونکی ټولو وختونو کښې منئ. کوم کس چې
د پاکوالی اوبۀ شیندی نو هغه به هم خامخا خپلې جامې وینځی، هر څوک چې
دې اوبو له ګوتې وروړی نو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وی. ۲۲ یو ناپاک
کس چې څۀ څیز له هم ګوتې وروړی نو هغه به ناپاک وی او نور هر څوک چې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ځيز له ګوتې وروړی نو هغه به هم تر ماښامه پورې ناپاک وی.“

## د بنى اِسرائيلو يو ځل بيا غورېدل

**٢٠** ١ په وړومبۍ مياشت کښې د اِسرائيلو ټول قوم د صين صحرا ته راغلو
او په قادِس کښې يې خېمې ولګولې. مريم هلته مړه شوه او دفن شوه. ٢ چرته
چې هغوئ خېمې لګولې وې هلته اوبۀ نۀ وې، نو خلق په موسىٰ او هارون باندې
راغونډ شول ٣ او هغوئ وغورېدل چې، ”دا به ښۀ وے چې مونږ د خپلو بنى
اِسرائيلو سره د مالِک خُدائ د خېمې په مخکښې مړۀ شوى وے. ٤ تاسو مونږ
دې صحرا ته د دې دپاره راوستلى يُو چې دلته د خپلو څاروو سره مړۀ شُو؟ ٥
تاسو مونږ ولې د مِصر نه راوويستلو او دې خراب ځائ ته مو راوستلو چې دلته
هيڅ هم نۀ کيږى؟ نۀ غله دانه، نۀ اينځر، نۀ انګور او نۀ انار شته. د څښلو اوبۀ هم
نشته.“ ٦ موسىٰ او هارون د خلقو نه لرې لاړل او د خېمې د دروازې په خولۀ
کښې ودرېدل. هغوئ پړمخې د عبادت دپاره پرېوتل او د مالِک خُدائ د حضور
جلال هغوئ ته راڅرګند شو. ٧ مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل، ٨ ”هغه
امسا واخله چې کومه د لوظ صندوق مخې ته ده او بيا تۀ او هارون ټول قوم
راغونډ کړئ. هلته د هغوئ ټولو په مخکښې هغه ګټ ته ووايه او د هغې نه به اوبۀ
راوځى. نو داسې تۀ به د خلقو دپاره د ګټ نه اوبۀ راوياسې او هغوئ او د هغوئ
څناور به يې وڅښى.“ ٩ موسىٰ لاړو او امسا يې راواخستله، چې څنګه مالِک
خُدائ حُکم کړے وو. ١٠ موسىٰ او هارون د ګټ په مخکښې ټول قوم راغونډ
کړو او موسىٰ وفرمائيل، ”اے باغيانو واورئ. ولې مونږ ستاسو دپاره د دې ګټ
نه اوبۀ راوياسو څۀ؟“ ١١ بيا موسىٰ امسا پورته کړه او دوه ځله يې هغه ګټ
پرې ووهلو او ډېرې زياتې اوبۀ ترې نه راووتلې او ټولو خلقو او څناورو وڅښلې.
١٢ خو مالِک خُدائ موسىٰ او هارون ته وفرمائيل، ”تاسو په ما ايمان نۀ لرلو
چې زما مقدس طاقت مو د بنى اِسرائيلو په مخکښې څرګند کړے وے، نو اوس



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو به هغوئ هغه مُلک ته بوځئ چې ما يې د ورکولو وعده کړې ده.“ ⑬ د
دې ځائ نوم د مريبه اوبهٔ شو، ځکه چې بنى اِسرائيلو د مالِک خُدائ خِلاف
شکايت وکړو او هغهٔ ورته هلته وښودل چې هغه مقدس دے.

## د ادوم بادشاه بنى اِسرائيل تېرېدو ته نهٔ پرېښودل

⑭ موسىٰ د قادِس نه ادومى بادشاه له پېغام وړُونکى ولېږل. هغوئ ورته ووئيل،
”دا پېغام ستاسو د خپلوانو، د بنى اِسرائيلو د طرف نه دے. تاسو ته پته ده چې په
مونږ کوم تکليفونه تېر شوى دى، ⑮ چې زمونږ پلار نيکهٔ څنګه مِصر ته لاړل،
هلته مونږ ډېر وخت اوسېدلو. مِصريانو زمونږ د پلار نيکهٔ او زمونږ سره بد
سلوک کولو، ⑯ او مونږ مالِک خُدائ ته فرياد وکړو. او هغهٔ زمونږ فرياد
واورېدو او يوه فرښته يې راولېږله، چې د مِصر نه يې راوويستلو. اوس مونږ
ستاسو د علاقې سره نزدې په يو ښار قادِس کښې يُو. ⑰ تاسو مِهربانى وکړئ
او مونږ پرېږدئ چې ستاسو د مُلک نه تېر شُو. مونږ او زمونږ څاروى به د لارې
نه يو خوا بل خوا نهٔ اوړُو، نهٔ به ستاسو پټو يا د انګورو باغونو ته ورننوځُو او نهٔ
به ستاسو د کُوهو نه اوبهٔ څښو. مونږ به په هغه لويه لاره روان يُو او ستاسو
علاقې نه به ووځُو.“ ⑱ خو ادوميانو ورته ووئيل، ”تاسو د دې ځائ نه نهٔ شئ
تېرېدلے. کهٔ تاسو داسې وکړل، مونږ به راووځُو او په تاسو به حمله وکړُو.“ ⑲
بنى اِسرائيلو ووئيل، ”مونږ په لويه لاره روان يُو او کهٔ مونږ او زمونږ څاروو
ستاسو اوبهٔ وڅښلې، نو مونږ به د هغې پېسې درکړُو. مونږ صِرف ستاسو په
مُلک کښې تېرېدل غواړُو نور هيڅ هم نه.“ ⑳ خو ادوميانو بيا ووئيل، ”تاسو مهٔ
تېرېږئ.“ او هغوئ د يو طاقتور لښکر سره په بنى اِسرائيلو باندې حملې دپاره
راغلل. ㉑ ځکه چې ادوميانو بنى اِسرائيل په خپله علاقه کښې تېرېدو ته نهٔ
پرېښودل، نو بنى اِسرائيل په بله لار لاړل.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت هارون مرګ

(۲۲) د بنی اِسرائیلو ټول قوم د قادِس نه لاړل او د حُور غرۀ ته ورسېدل، (۲۳) چې
د ادوم په سرحد باندې دے. هلته مالِک خُدائ موسیٰ او هارون ته وفرمائیل، (۲۴)
”هارون به هغه مُلک ته ورننه نۀ وځی د کوم چې ما بنی اِسرائیلو له د ورکولو
وعده کړې ده، هغه به مړ شی، ځکه چې په مریبه کښې تاسو زما د حُکم نه
بغاوت کړے وو. (۲۵) هارون او د هغۀ زوئ اِلیعزر بره د حُور غرۀ ته بوځه، (۲۶)
او هلته د هارون نه د اِمامانو لِباس ویاسه او اِلیعزر ته یې ورواچوه. هارون به
هلته مړ شی.“ (۲۷) موسیٰ هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ حُکم
ورکړے وو. هغوئ د ټول قوم په مخکښې د حُور غرۀ ته وختل، (۲۸) او موسیٰ د
هارون نه د اِمامانو لِباس وویستلو او اِلیعزر ته یې ورواغوستلو. هارون هلته د
غرۀ په سر باندې مړ شو او موسیٰ او اِلیعزر د غرۀ نه راکوز شول. (۲۹) د
اِسرائیلو ټول قوم ته پته ولګېده چې هارون مړ دے او دېرش ورځې هغوئ د هغۀ
په غم غمژن وُو.

## د بنی اِسرائیلو کنعانیانو له شکست ورکول

۲۱ (۱) کله چې د کنعان په جنوبی حِصه کښې د عراد بادشاه واورېدل چې
بنی اِسرائیل د اتهارِم په لاره راروان دی، نو هغۀ وربāندې حمله وکړه او څۀ یې
ترې نه ونیول. (۲) بیا بنی اِسرائیلو د مالِک خُدائ سره دا وعده وکړه، ”کۀ تۀ
مونږ په دې خلقو بریالی کړې، نو مونږ به د هغوئ ښارونه پوره تباه کړُو او تا ته
به وقف شی.“ (۳) مالِک خُدائ د هغوئ آواز واورېدو او په کنعانیانو یې بریالی
کړل. نو بنی اِسرائیلو هغوئ او د هغوئ ښارونه تباه کړل او په هغه ځائ یې حُرمه
نوم کېښودو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د پيتلو مار

۴ بنی اِسرائيليان د حُور غرۀ نه د بحرِقُلزم په لار روان شول چې د ادوم نه
ګېرچاپېره مزل وکړی. خو په لاره کښې خلق ډېر بےصبره شول ۵ او د خُدائ
پاک او موسیٰ خِلاف يې خبرې شروع کړې. هغوئ ووئيل، ”تاسو مونږ ولې د
مِصر نه راوويستلو د دې دپاره څۀ چې په دې صحرا کښې مړۀ شُو، چرته چې نۀ
روټی شته او نۀ اوبۀ شته؟ نور مونږ دا بےکاره خوراک نۀ شُو برداشت کولے.“
۶ بيا مالِک خُدائ په خلقو باندې زهريله ماران راولېږل او ډېر اِسرائيليان يې
وچيچل او مړۀ شول. ۷ خلق موسیٰ له راغلل او ورته يې ووئيل، ”مونږ دا ګناه
کړې ده چې د مالِک خُدائ او ستا خِلاف مو خبرې کړې دی. نو مالِک خُدائ ته
سوال وکړه چې دا ماران لرې کړی.“ نو موسیٰ د خلقو دپاره دُعا وکړه. ۸
مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل چې د يو زهريله مار نمونه جوړه کړه او په يوه
ډاګه يې ولګوه، نو هر څوک چې چيچلے شوے وی او هغې ته وګوری نو روغ به
شی. ۹ نو موسیٰ د پيتلو نه مار جوړ کړو او په يوه ډاګه باندې يې ولګولو. هر
څوک به چې چيچلے شوے وو او هغۀ به د پيتلو مار ته وکتل نو ژوندے به پاتې
شو.

## د بنی اِسرائيلو موآب ته سفر

۱۰ اِسرائيليان وړاندې لاړل او په اوبوت کښې يې خېمې ولګولې. ۱۱ چې د هغه
ځائ نه لاړل نو د موآبيانو د علاقې نمرخاتۀ طرف ته د عی عباريم په صحرا کښې
يې خېمې ولګولې. ۱۲ بيا هغوئ د زرد په وادی کښې خېمې ولګولې. ۱۳ هغوئ
د هغه ځائ نه بيا لاړل او د ارنون د سيند نه پورې غاړه يې خېمې ولګولې په هغه
صحرا کښې چې د اموريانو د علاقې پورې خوره وه. ارنون د موآبيانو او
اموريانو په مينځ کښې د حد پوله وه. ۱۴ نو دا ځکه د مالِک خُدائ د جنګونو په
کِتاب کښې ليکلی دی، ”د سوفه په علاقه کښې د واهيب ښار او هغه واديانې، د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ارنون سيند، ۱۵ د واديانو ژور ځايونه چې د عار ښار پورې خوارهٔ دی او چې د موآب د حد پولې ته رسيږی.“ ۱۶ د هغې ځائ نه هغوئ هغه کوهی له لاړل چې د بير په نامه ياديږی، دا هغه کوهے دے چې مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”خلق راغونډ کړه او زهٔ به هغوئ له اوبهٔ ورکړم.“ ۱۷ په هغه وخت بنی اِسرائيلو دا سندره ووئيله، ”کُوهو، خپلې اوبهٔ راوباسئ، مونږ ورته يوه سندره وايو. ۱۸ کوهے شهزادګانو کنستلے دے او د خلقو د مشرانو سره د بادشاهئ د امسا سره او د هغوئ د امساګانو سره.“ هغوئ د صحرا نه متنه ته لاړل، ۱۹ او د هغې ځائ نه نحلیاېل ته او د نحلیاېل نه بامات ته لاړل، ۲۰ او د بامات نه د موآبيانو په علاقه کښې وادئ ته لاړل، د پِسګه د غرهٔ د سر نه لاندې، چې مخ يې صحرا ته دے.

## په سيحون بادشاه او عوج بادشاه باندې فتح موندل

۲۱ بيا بنی اِسرائيلو د اموريانو بادشاه سيحون ته پيغام وړُونکی ولېږل چې ورته ووائی، ۲۲ ”مونږ پرېږده چې ستا په مُلک کښې تير شُو. او مونږ او زمونږ خاروی به د لارې نه نهٔ اوړُو او نهٔ به ستاسو پټو او د انګورو باغونو ته ځُو او مونږ به ستاسو د کُوهو نه اوبهٔ نهٔ څښو، په لويه لاره به سيدها روان يُو چې ستاسو علاقې نه ووځُو.“ ۲۳ خو سيحون بنی اِسرائيلو له اجازت نهٔ ورکولو چې د هغهٔ د علاقې نه تير شی. هغهٔ خپل ټول لښکر راجمع کړو او په صحرا کښې يهض ته ووتل او په بنی اِسرائيلو يې حمله وکړه. ۲۴ خو بنی اِسرائيلو په جنګ کښې ډير دشمنان ووژل او د ارنون سيند نه واخله تر يبوق سيند پورې زمکه يې ترې نه ونيوله، خو د يبوق نه وروستو د عمونيانو د علاقې د حد پوله ډيره مضبوطه وه. ۲۵ نو بنی اِسرائيلو د اموريانو ټول ښارونه چې په هغوئ کښې حسبون او ګېرچاپېره کلی هم شامل وو ونيول او بيا هغوئ هلته اوسېدل. ۲۶ حسبون د اموريانو د بادشاه سيحون مرکزی ښار وو، سيحون د موآب پخوانی بادشاه خِلاف جنګ کړے وو او د ارنون سيند پورې د هغهٔ ټوله زمکه يې نيولې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وه. ﴿۲۷﴾ نو دا ځکه شاعران وائی، ”د سيحون بادشاه ښار ته، حسبون ته راشه،
مونږ دا آباد او ودان غواړُو. ﴿۲۸﴾ يوه ورځ د دې ښار حسبون نه د سيحون لښکر
د اور په شان لاړو، هغوئ په موآب کښې د عار ښار وران کړو او د پاسنی ارنون
غرونه يې دړې وړې کړل. ﴿۲۹﴾ د موآب خلقو ستاسو دپاره دا خومره خرابه خبره
ده. د کموس عبادت کوونکو تاسو تباهئ له راوستلے شوی يئ. ستاسو خُدائ
خلق مهاجر جوړ کړی دی او ستاسو ښځې د اموريانو د بادشاه قېديانې شوې
دی. ﴿۳۰﴾ خو د هغوئ اولاد تباه شوے دے، د حسبون نه واخله تر ديبون پورې،
د نشيم نه واخله تر نفح پورې، چې ميدبا ته نزدې دے.“ ﴿۳۱﴾ نو اِسرائيليان د
اموريانو په علاقه کښې ديره شول، ﴿۳۲﴾ او موسیٰ کسان ولېږل چې په يعزير ښار
باندې حمله کولو دپاره ښۀ لاره معلومه کړی. بنی اِسرائيلو دا او ګېرچاپېره
ښارونه ونيول او چې کوم اموريان هلته اوسېدل هغه يې وشړل. ﴿۳۳﴾ بنی اِسرائيل
راوګرځېدل او د بسن په لاره لاړل او د بسن بادشاه عوج د خپل لښکر سره
راووتلو چې په ادرعی کښې په هغوئ باندې حمله وکړی. ﴿۳۴﴾ مالِک خُدائ
موسیٰ ته وفرمائيل، ”د هغۀ نه مۀ يرېږه. زۀ به تا په هغۀ باندې، د هغۀ په ټولو
خلقو او د هغۀ په مُلک باندې بريالے کړم. د هغۀ سره هم هغه شان کار وکړه
لکه څنګه چې دې سيحون سره کړے وو، سيحون چې په حسبون کښې د
اموريانو بادشاه وو.“ ﴿۳۵﴾ نو بنی اِسرائيلو عوج، د هغۀ زامن او د هغۀ ټول خلق
ووژل، هيڅ څوک يې ژوندی پرې نۀ ښودل او بيا هغوئ د هغۀ مُلک ونيولو.

## د موآب بادشاه د بلعام راغوښتل

**۲۲** ﴿۱﴾ بنی اِسرائيلو مخکښې سفر کولو او د موآب په مېدانونو کښې يې د
اُردن پورې غاړه يريحو ته مخامخ خېمې ولګولې. ﴿۲﴾ کله چې د موآب بادشاه د
صفور زوئ بلق خبر شو چې بنی اِسرائيلو په اموريانو باندې څۀ کړی وُو او بنی
اِسرائيل خومره بېشمېره وُو، ﴿۳﴾ نو په هغۀ او د هغۀ په ټولو خلقو د يرې نه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وبښتهٔ نبغ ودرېدل. ۴ موآبيانو د ميديانيانو مشرانو ته ووئيل، ”زر به دا لښکر
زمونږ ګېرچاپېره هر څهٔ تباه کړی، لکه چې يو آزاد غوَيے په ګياه ورګډ شی.“ نو
بلق بادشاه ۵ پېغام ورُونکی ولېږل چې د بعور زوئ بلعام راوغواړی، چې هغه
د فرات د سيند سره نزدې په پتور کښې وو. هغوئ هغهٔ له د بلق نه دا پېغام
راوړو، ”زهٔ غواړم چې تهٔ خبر شې چې د مِصر نه يو لوئ قوم راغلے دے، هغوئ
د زمکې مخ پټ کړے دے او وائی چې زمونږ مُلک قبضه کړی. ۶ هغوئ
زمونږ نه طاقتور دی، نو زهٔ درته مِنت کوم چې زما دپاره په هغوئ لعنت ووايه.
نو کېدے شی چې هغوئ له شکست ورکړو او د مُلک نه يې وشړُو. ما ته پته ده
چې تاسو د چا دپاره برکت غواړئ نو هغه برکت مومی او چې په چا لعنت ووايئ
نو هغه لعنتی شی.“ ۷ نو د موآبيانو او ميديانيانو مشرانو د لعنت غوښتلو قيمت
واخستلو او بلعام له لاړل او د بلق پېغام يې ورته واورولو. ۸ بلعام هغوئ ته
ووئيل، ”تاسو نن شپه دلته تېره کړئ او چې مالِک خُدائ ما ته څهٔ هم ووائی نو
هغه به سبا زهٔ تاسو ته ووايم.“ نو د موآبيانو مشران د بلعام سره ايسار شول. ۹
خُدائ پاک بلعام ته خرګند شو او ورته يې وفرمائيل، ”دا تا سره خلق څوک
دی؟“ ۱۰ هغهٔ خُدائ پاک ته وفرمائيل، ”د موآب بادشاه بلق هغوئ ما له رالېږلی
دی، هغوئ وائی چې ۱۱ کوم خلق چې د مِصر نه راغلی دی هغوئ د ټولې
زمکې مخ پټ کړے دے. هغه ما ته وائی چې د هغهٔ دپاره په هغوئ لعنت ووايم،
نو هغه به شکست ورکړی او وبه يې شړی.“ ۱۲ خُدائ پاک بلعام ته وفرمائيل،
”تهٔ د هغوئ سره مهٔ ځه او بنی اِسرائيلو دپاره لعنت مهٔ غواړه، ځکه چې ما
هغوئ له برکت ورکړے دے.“ ۱۳ په ورپسې سحر بلعام د بلق پېغام وړونکو له
ورَغلو او ورته يې ووئيل، ”واپس خپل مُلک ته لاړ شئ، مالِک خُدائ زهٔ تاسو
سره تلو نه منع کړے يم.“ ۱۴ نو د موآب مشران واپس بلق له لاړل او هغهٔ ته يې
ووئيل چې بلعام د هغوئ سره د راتلو نه اِنکار وکړو. ۱۵ نو بلق نور مشران
ورولېږل، چې هغوئ د مخکښېنو نه زيات او ډېر عزتمند وُو. ۱۶ هغوئ بلعام له
ورغلل او د بلق دا پېغام يې ورته واورولو، ”زهٔ ستا مِنت کوم چې تهٔ به خامخا ما



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

له راځي. ۱۷ زۀ به تا له لوئ اِنعام درکړم او چې تۀ څۀ هم وائې نو زۀ به يې کوم. خو لږ راشه او په دې خلقو زما د خاطره لعنتووايه.“ ۱۸ خو بلعام جواب ورکړو، ”کۀ بلق د خپل محل ټول سپين زر او سرۀ زر هم ما له راکړی، نو زۀ به د خپل مالِک خُدائ د يوې وړې نه وړې خبرې نافرمانی هم ونۀ کړم. ۱۹ خو نن تاسو مونږ سره شپه وکړئ، نو زۀ به پته ولګوم چې مالِک خُدائ ما ته نور څۀ فرمائيل غواړی او کۀ نه.“ ۲۰ په هغه شپه خُدائ پاک بلعام ته څرګند شو او ورته يې وفرمائيل، ”کۀ چرې دا سړی تا له راغلل او درته يې ووئيل چې مونږ سره لاړ شه، نو بيا ځان تيار کړه او ورسره لاړ شه، خو هغه څۀ کوه چې څۀ درته زۀ وايم.“ ۲۱ نو په بل سحر بلعام خپله خره کته کړه او د موآبيانو د مشرانو سره لاړو.

## په بلعام او د هغۀ په خرې باندې د يوې فرښتې پېښېدل

۲۲ خُدائ پاک د بلعام په تلو غصه وو. بلعام په خپله خره سور وو او ور سره دوه خِدمتګاران روان وُو، نو د مالِک خُدائ فرښته ورته په لاره کښې ودرېدله چې هغه ودروی. ۲۳ کله چې خرې د مالِک خُدائ فرښته وليده چې په لاره کښې ولاړه وه او په لاس کښې يې تُوره نيولې وه، نو خرې لاره پرېښودله او پټو ته لاړه. بلعام خره ووهله او واپس يې لارې ته راوستله. ۲۴ بيا د مالِک خُدائ فرښته ورته هلته ودرېدله چرته چې د دوو انګورو باغونو په مينځ کښې لار تنګه وه او دواړو طرفونو ته يې د کاڼو ديوال وو. ۲۵ کله چې خرې د مالِک خُدائ فرښته وليده، نو خره ديوال ته ښۀ ورنزدې شوه او د بلعام پښه يې د ديوال سره راښکله. بلعام بيا خره ووهله. ۲۶ د مالِک خُدائ فرښته يو ځل بيا مخکښې لاړه، په داسې يو تنګ ځائ کښې ودرېدله چرته چې لاره دومره تنګه وه چې د اخوا ديخوا کېدو ځائ نۀ وو. ۲۷ دا ځل، چې کله خرې فرښته وليده، نو هغه څملاسته. بلعام غصه شو او د امسا سره د خرې په وهلو يې شروع وکړه. ۲۸ بيا مالِک خُدائ خرې له د خبرو کولو طاقت ورکړو او خرې بلعام ته ووئيل، ”ما



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تا سره څۀ بد کړی دی؟ تا زۀ دا درې ځلې ولې ووهلم؟“ ۲۹ بلعام ورته ووئيل،
”ځکه چې تا زما نه کم عقل جوړ کړے دے. کۀ زما سره تُوره وے، نو ما به تۀ
وژلې وې.“ ۳۰ خرې ورته ووئيل، ”ولې زۀ څۀ هغه خره نۀ يم چې په کومه باندې
تا ټول عُمر سورلی کړې ده؟ مخکښې ما کله تا سره داسې کار کړے دے؟“ نو
هغۀ ورته ووئيل، ”نه.“ ۳۱ بيا مالِک خُدائ بلعام ته فرښته څرګنده کړه چې هلته
د خپلې تُورې سره ولاړه وه، او بلعام ټيټ شو او سر يې په زمکه ولګولو. ۳۲ د
مالِک خُدائ فرښتې هغۀ ته وفرمائيل، ”تا دا درې ځلې خپله خره ولې ووهله؟ زۀ
ستا د ودرولو دپاره راغلې يم، ځکه چې تۀ څۀ کوې هغه زما خِلاف دی. ۳۳ خو
ستا خرې زۀ وليدم او زما نه درې ځلې واوړېدله. کۀ هغه ګرځېدلے نۀ وے، نو
ما به تۀ وژلے وے او هغه خره به مې ژوندۍ پرېښې وه.“ ۳۴ بلعام د مالِک
خُدائ فرښتې ته ووئيل، ”ما ګناه کړې ده. ما ته پته نۀ وه چې تۀ زما د ايسارولو
دپاره په لاره کښې ولاړه يې، خو کۀ ستا خوښه نۀ وی نو زۀ به نۀ ځم او واپس به
خپل کور ته لاړ شم.“ ۳۵ خو فرښتې ورته وفرمائيل، ”د دې سړو سره لاړ شه،
خو صِرف هغه څۀ وايه څۀ چې زۀ درته وايم.“ نو بلعام د بلق د مشرانو سره
لاړو.

## د بلق بادشاه د بلعام سره مِلاوېدل

۳۶ کله چې بلق خبر شو چې بلعام راروان دے، نو هغه ورَغلو چې په عار کښې
ورسره مِلاو شی، دا ښار د ارنون د سيند سره د موآب په سرحد باندې وو. ۳۷
بلق هغۀ ته ووئيل، ”ما چې په ورومبی ځل تۀ راوغوښتلې نو ولې رانۀ غلې؟ ستا
خيال دا وو څۀ چې زۀ تا له اِنعام نۀ شم درکولے؟“ ۳۸ بلعام ورته وفرمائيل،
”ولې زۀ تا له رانۀ غلم؟ زۀ چې څۀ وئيل غواړم نو د هغې اختيار نۀ لرم. زۀ به
صِرف هغه وايم چې څۀ خُدائ پاک ما ته فرمائی.“ ۳۹ نو بلعام د بلق سره
قِريَت‌حُصات ته لاړو، ۴۰ چرته چې بلق ښاروی او ګډې حلال کړل او څۀ
غوښه يې بلعام او هغه مشرانو له ورکړه چې د هغۀ سره وُو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بلعام وړومبے پېغام

(۴۱) په ورپسې سحر بلق بلعام بره باموت‌بعل ته بوتلو او هلته نه ورته څۀ
اِسرائيليان ښکاره شول.

۲۳ (۱) بلعام بلق ته ووئيل، ”دلته زما دپاره اووۀ قربان‌گاه جوړې کړه او ما
له اووۀ غوَيی او اووۀ گډان راوله.“ (۲) بلق هم هغه شان وکړل چې څنگه بلعام
وئيلی وُو، هغۀ او بلعام يو غوَيے او يو گډ په هره يو قربان‌گاه باندې پېش کړل.
(۳) بيا بلعام بلق ته ووئيل، ”دلته د خپلې سوزېدونکې نذرانې سره ايسار شه نو
زۀ ځم چې وگورم چې مالِک خُدائ ما ته راڅرگنديږی او کۀ نه. چې هغه ما ته
څۀ هم ووائی نو زۀ به تا ته ووايم.“ نو هغه يو خوشې غر ته لاړو، (۴) او خُدائ
پاک هغۀ ته راڅرگند شو. بلعام ورته وفرمائيل، ”ما اووۀ قربان‌گاه جوړې کړې
دی او يو غوَيے او يو گډ مې په هره يوه باندې پېش کړل.“ (۵) مالِک خُدائ
بلعام ته د وئيلو دپاره خبرې وښودلې او واپس يې بلق له ولېږلو چې هغۀ ته د هغۀ
پېغام ورسوی. (۶) نو هغه واپس لاړو او وې ليدل چې بلق د خپلې سوزېدونکې
نذرانې سره ولاړ وو او د موآب ټول مشران ورسره وُو. (۷) بلعام دا پېغام
ورکړو، ”د موآب بادشاه بلق زۀ راوستلے يم د آرام نه، د نمرخاتۀ غرونو نه. هغۀ
ووئيل چې، راشه او زما دپاره ووايه. په بنی اِسرائيلو باندې لعنت ووايه. (۸) زۀ
پرې څنگه لعنت وايم چې هغوئ خُدائ پاک نۀ وی لعنتی کړی، چې مالِک خُدائ
په څۀ اِلزام نۀ وی لگولے نو زۀ پرې څنگه اِلزام ولگوم؟ (۹) د لوړو کاڼو نه زۀ
هغوئ گورم، د غرونو نه زۀ هغوئ وينم. هغوئ هغه خلق دی چې يواځې ژوند
تېروی، هغوئ ته پته ده چې دوئ د نورو قومونو نه بختور دی. (۱۰) د يعقوب
اولاد د شگو په شان دے، څوک داسې شته چې شگې وشمېری؟ پرېږده چې زۀ
مړ شم د خُدائ پاک د خلقو په شان، پرېږده چې د صادقانو په شان په آرام مړ
شم.“ (۱۱) بيا بلق بلعام ته ووئيل، ”دا تا څۀ وکړل؟ ما تۀ د دې دپاره راوستلے


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې چې زما په دشمنانو لعنت ووائې، خو تا د هغوئ دپاره صِرف برکت غوښتلے
دے." ⑫ هغهٔ جواب ورکړو، "زهٔ به صِرف هغه څهٔ وايم څهٔ چې مالِک خُدائ
ما ته وائى."

## د بلعام دويم پېغام

⑬ بيا بلق بلعام ته ووئيل، "ما سره يو بل ځائ ته لاړ شه چې د هغه ځائ نه
صرف لږ شان اِسرائيليان ښکارى. او د هغه ځائ نه تهٔ په هغوئ لعنت ووايه."
⑭ بلق، بلعام د پِسګه د غرهٔ په سر د ضُوفيم پټى ته بوتلو. هغهٔ هلته هم اووهٔ
قربانګاه جوړې کړې او يو غويے او يو ګډ يې په هره يوه باندې پېش کړو. ⑮
بلعام بلق ته ووئيل، "د خپلې سوزېدونکې نذرانې سره ودرېږه او هلته به خُدائ
پاک ما ته راڅرګند شى." ⑯ مالِک خُدائ بلعام ته راڅرګند شو، ورته يې
فرمائيل چې دا خبرې به کوې او واپس يې بلق ته ولېږلو چې هغهٔ ته دا پېغام
ورسوى. ⑰ نو هغه واپس لاړو او وې ليدل چې بلق د خپلې سوزېدونکې نذرانې
سره ولاړ وو او د موآب مشران هم ورسره ؤو. بلق ترې نه تپوس وکړو چې
مالِک خُدائ څهٔ فرمائيلى دى، ⑱ او بلعام دا پېغام ورکړو، "د صفور زويه بلقه
پاخه، او چې زهٔ درته څهٔ وايم هغه واوره. ⑲ خُدائ پاک د بنى آدم په شان نهٔ
دے، چې دروغ ووائى، هغه بنى آدم نهٔ دے چې خپله فېصله بدله کړى. هغه چې
کومه وعده وکړى، نو هغه پوره کوى، هغه چې څهٔ وائى، نو هغه کوى. ⑳
ګوره، ما ته حُکم مِلاو شو چې د هغوئ دپاره برکت وغواړم، او چې کله خُدائ
پاک برکت ورکړى، نو زهٔ برکت واپس نهٔ شم اخستلے. ㉑ زهٔ د بنى اِسرائيلو
په راتلونکى وخت پوهېږم په هغوئ به څهٔ بدبختى يا مصيبت نهٔ راځى. مالِک
خُدائ د هغوئ خُدائ پاک د هغوئ مل دے، هغوئ اِعلان کوى چې هغه يې
بادشاه دے. ㉒ خُدائ پاک هغوئ د مِصر نه راويستلى دى، هغوئ د يو ځنګلى
غويى په شان طاقت لرى. ㉓ نهٔ داسې جادو شته او نهٔ داسې کوډې شته، چې د
بنى اِسرائيلو په قوم باندې وشى. خلق به اوس د بنى اِسرائيلو په حقله ووائى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګورئ، خُدائ پاک د هغوئ دپاره څۀ کړی دی. ۲۴ د بنی اِسرائيلو قوم د يو
تکړه ازمری په شان دے، چې د شلولو او خرابولو نه مخکښې په آرام نۀ کښېنی،
چې ترڅو يې د ښکار کړے شوی ځيز وينه نۀ وی څښلې.“ ۲۵ بيا بلق بلعام ته
ووئيل، ”تا په بنی اِسرائيلو باندې د لعنت وئيلو نه اِنکار کړے دے، خو ګوره چې
برکت هم ورله ونۀ غواړې.“ ۲۶ بلعام جواب ورکړو، ”ما تا ته نۀ دی وئيلی څۀ
چې زۀ به هم هغه شان کوم څۀ چې مالِک خُدائ ما ته فرمائيلی دی؟“

## د بلعام دريم پيغام

۲۷ بلق ووئيل، ”ما سره لاړ شه او زۀ به تا يو بل ځائ ته بوځم. کېدے شی چې
د خُدائ پاک خوښه وی چې په هغوئ باندې زما دپاره د هغه ځائ نه لعنت
ووائې.“ ۲۸ نو هغۀ بلعام د فعور غرۀ سر ته بوتلو چې صحرا ته مخامخ دے.
۲۹ بلعام هغۀ ته ووئيل، ”دلته زما دپاره اووۀ قربانګاه جوړې کړه او اووۀ غوَيی
او اووۀ ګډان ما له راوله.“ ۳۰ بلق هم هغه شان وکړل چې څنګه يې وئيلی وُو او
يو غوَيے او يو ګډ يې په هره يوه قربانګاه باندې پېش کړل.

# ۲۴

۱ نو بلعام ته دا پته ولګېده چې د مالِک خُدائ رضا دا وه چې بنی
اِسرائيلو له برکت ورکړی، نو هغه فال کتلو له لا نۀ ړو، لکه چې مخکښې تلے وو.
هغه د صحرا په طرف روان شو ۲ او اِسرائيليان يې وليدل چې قبيله په قبيله يې
خېمې لګولې وې. نو د خُدائ پاک روح په هغۀ باندې راغلو، ۳ او هغۀ دا پيغام
ورکړو، ”د بلعام د بعور د زوئ دا دے پيغام، او د دې سړی خبرې رښتونی دی،
۴ د خُدائ پاک خبرې څوک اوری. په غړېدلو سترګو راباندې جذبه غالبه شوه
د قادر خُدائ د طرف نه ما يوه رويا يعنې په وېښه خوب وليدو. ۵ د بنی
اِسرائيلو خېمې ښائسته دی، ۶ د کجورو اوږدو قطارونو په شان يا د سيند د
غاړې د باغونو په شان، د مالِک خُدائ کَرلی عُود په شان يا د اوبو په غاړه د
دِيار په شان. ۷ دا به په اوبو مړې شی او د هغوئ اولاد به لکه د زياتو اوبو په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شان وی. د هغوئ بادشاه به د اجاج نه لوئ وی، او د هغهٔ بادشاهی به اوچته وی.
٨ خُدائ پاک هغوئ د مِصر نه راوویستل، په هغوئ کښې د ځنګلی غوَیی په
شان طاقت شته، هغوئ خپل دشمنان تباه کوی، د هغوئ هډوکی ماتوی او په
غشو باندې يې وولی. ٩ دا قوم د طاقتور ازمری په شان دے، کله چې هغه
ملاست وی، هيڅ څوک دا زړهٔ نهٔ شی کولے چې پايې څوی. څوک چې بنی
اِسرائيلو دپاره برکت وغواړی نو هغوئ به په خپله برکتی شی، او څوک چې
وربانديې لعنت ووائی نو هغوئ به په خپله لعنتی شی." ١٠ بلق د غصې نه
غابښونه وچيچل او بلعام ته يې ووئيل، "ما تهٔ د دې دپاره راغوښتلے يې چې زما
په دشمنانو بانديې لعنت ووائې، خو ګوره، د لعنت په ځائ تا د هغوئ دپاره درې
ځلې برکت غوښتلے دے. ١١ نو ورک شه او خپل کور ته لاړ شه. زما خيال دا
وو چې اِنعام به درکړم، خو مالِک خُدائ دا اِنعام ستا په قسمت کښې نهٔ دے
ليکلے." ١٢ بلعام ورته په جواب کښې ووئيل، "کوم پېغام ورُونکی چې تا ما ته
رالېږلی وُو ما هغوئ ته ووئيل چې ١٣ کهٔ تهٔ ما له ستا په محل کښې ټول سرهٔ
زر او سپين زر هم راکړې، نو زهٔ د ځان نه څهٔ ښهٔ يا بد نهٔ شم کولے، څهٔ چې ما
ته مالِک خُدائ فرمائی نو زهٔ به صِرف هغه کوم، زهٔ د مالِک خُدائ د حُکم
نافرمانی نهٔ شم کولے."

## د بلعام آخری پېغام

١٤ بلعام بلق ته ووئيل، "اوس زهٔ واپس خپلو خلقو له ځم، خو د تلو نه مخکښې
زهٔ تا له خبر درکوم چې په راتلونکی وخت کښې به اِسرائيليان ستا د خلقو سره
څهٔ کوی." ١٥ بيا هغهٔ دا پېغام ورکړو، "د بلعام د بعور د زوئ دا دے پېغام، او
د دې سړی خبرې رښتونی دی، ١٦ څوک چې د خُدائ پاک خبرې اوری او هغه
حِکمت اخلی چې د خُدائ تعالیٰ نه راځی. په غړېدلو سترګو رابانديې جذبه غالبه
شوه د قادر خُدائ د طرف نه ما يوه رويا وليده. ١٧ زهٔ راتلونکے وخت وينم،
زهٔ د بنی اِسرائيلو قوم وينم. د روښانه ستوری په شان، په دې قوم کښې به يو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاه پېدا شی. دا ستورے به د بنی اِسرائيلو نه راشی. هغه به د موآب مشران
هلاک کړی او هغه به د شيث ټول اولاد تباه کړی. (۱۸) هغه به په ادوم کښې په
خپلو دشمنانو بريالے شی او د هغوئ مُلک به قبضه کړی، او اِسرائيليان به
مسلسل بريالی کېږی. (۱۹) اِسرائيليان به هغوئ د پښو لاندې کړی او په ښار
کښې چې څوک ژوندی پاتې وی نو هغه به تباه کړی.“ (۲۰) بيا بلعام په خپله رويا
کښې عماليقيان وليدل او دا پيغام يې ورکړو، ”عماليقيان د ټولو نه زيات تکړه
قوم دے، خو په آخر کښې به د هميشه دپاره ورک شی.“ (۲۱) هغهٔ په خپل خيال
کښې قينيان وليدل او دا پيغام يې ورکړو، ”ستاسو د اوسېدو ځائ ډېر پوخ دے،
داسې پوخ لکه چې د يو کور بنياد چې په کاڼو اېښودے شوے وی، (۲۲) خو تاسو
قينيان به تباه شئ کله چې اسوريان تاسو قېديان بوځی.“ (۲۳) بلعام دا پيغام
ورکړو، ”هغه څوک بچ کولے شی چې خُدائ پاک يې تباه کوی؟ (۲۴) سمندری
جهازُونه به د قبرص نه راشی، هغوئ به اسور او عِبر فتح کړی، خو په آخر کښې
به قبرص هم تباه شی.“ (۲۵) بيا بلعام روان شو او واپس کور ته لاړو او بلق هم په
خپله مخه لاړو.

## بنی اِسرائيل په فعور کښې

۲۵ (۱) کله چې اِسرائيليان د کيکرو په وادئ کښې ديره وُو، نو د موآبيانو
ښځو سره يې زنا شروع کړه. (۲) ښځو هغوئ ته ووئيل چې د هغوئ معبودانو ته
قربانئ وکړی، نو خلقو هغه قربانئ وخوړلې او د هغوئ د معبود عبادت يې وکړو
(۳) چې د فعور بعل وو. نو مالِک خُدائ بنی اِسرائيلو ته په قهر شو. (۴) او
موسیٰ ته يې وفرمائيل، ”د بنی اِسرائيلو ټول مشران بوځه او د خلقو په وړاندې يې
پهانسی کړه، نو بيا به زما سخته غصه د بنی اِسرائيلو نه سړه شی.“ (۵) موسیٰ د
بنی اِسرائيلو قاضيانو ته وفرمائيل، ”ستاسو هر يو کس به د خپلې قبيلې نه هر
هغه سړے وژنئ څوک چې د فعور د بعل عبادت کوونکے جوړ شوے وی.“ (۶)



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیا یو اِسرائیلی یوه میدیانۍ ښځه د موسیٰ او د ټول قوم په مخکښې خپلې خېمې
ته دننه بوتله، په هغه وخت کله چې هغوئ د مالِک خُدائ د حضور خېمې په
دروازه کښې ماتم کولو. (۷) نو چې فینحاس، د اِلیعزر زوئ او د هارون نمسی
دا ولیدل، هغه د قبیلې نه پاڅېدو او لاړو. هغۀ نېزه راواخستله، (۸) او په هغه
سړی او ښځې پسې خېمې ته ورننوتلو او نېزه یې د هغه سړی او ښځې د خېټې نه
بل خوا وویستله. نو داسې هغه وبا بس شوه کومې چې اِسرائیلیان تباه کول، (۹)
خو وبا څلېریشت زره کسان وژلی وُو. (۱۰) مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل،
(۱۱) ”فینحاس زوئ د اِلیعزر چې د هارون اِمام زوئ دے هغۀ زما غصه د بنی
اِسرائیلو دپاره ختمه کړه چې هغوئ کښې هغۀ غېرت وکړو، نو ما د خپل غېرت
په وجه بنی اِسرائیل هلاک نۀ کړل. (۱۲) نو ورته ووایه چې زۀ د هغۀ سره د امن
لوظ کوم چې د راتلونکی ټولو وختونو دپاره به وی. (۱۳) هغه او د هغۀ اولاد به د
همېشه دپاره اِمامان مقررولے شی، ځکه چې هغۀ په ما باندې غېرت وکړو او د
بنی اِسرائیلو د ګناه کفاره یې ادا کړه.“ (۱۴) کوم سړے چې د میدیانۍ ښځې سره
وژلے شوے وو د هغۀ نوم زِمری وو، هغه د سلو زوئ وو، چې د شمعون په
قبیلې کښې د یو خاندان مشر وو. (۱۵) د هغه ښځې نوم کزبی وو. د هغې پلار
صور، د میدیانۍ قبیلو د یوې قبیلې مشر وو. (۱۶) مالِک خُدائ موسیٰ ته
وفرمائیل، (۱۷) ”په میدیانیانو حمله وکړه او هغوئ تباه کړه، (۱۸) د هغه بد عمل
په وجه، چې په فعور کښې یې په دوکه په تاسو باندې عبادت وکړو او د کزبی په
وجه، چې هغه د وبا په وخت په فعور کښې وژلے شوې وه.“

## دویمه مردمشماری

**۲۶** (۱) د وبا نه پس مالِک خُدائ موسیٰ او د هارون زوئ اِلیعزر ته
وفرمائیل چې، (۲) ”د بنی اِسرائیلو د ټول قوم د کورَنو په مطابق مردمشماری
وکړئ، د هغو ټولو سړو چې عُمر یې شل کاله یا د دې نه زیات وی او چې جنګ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کولے شی.“ (٣)-(۴) موسیٰ او اِلیعزر هم هغه شان وکړل او د دې عُمر ټول
سړی یې راوغوښتل. هغوئ د اُردن سیند نه پورې یریحو ته مخامخ د موآب په
مېدانونو کښې راغونډ شول. دا هغه اِسرائیلیان وُو چې د مِصر مُلک نه وتلی وُو،
(۵) د یعقوب د مشر زوئ روبین په قبیله کښې دا قبیلې وې، حنوک، فلو، (۶)
حصرون او کرمی. (٧) دوئ په شمېر کښې درې څلوېښت زره اووۀ سوه او
دېرش سړی وُو. (٨) د فلو په اولاد کښې اِلیاب (٩) او د هغۀ زامن نمواېل،
داتن، ابیرام وُو. دا هغه داتن او ابیرام وُو کوم چې قوم خوښ کړی وُو. هغوئ د
موسیٰ او هارون مخالفت وکړو او د قورح په قبیله کښې شامل شول، کله چې
هغوئ د مالِک خُدائ خِلاف بغاوت وکړو. (١٠) نو زمکه وچاودله او هغوئ یې
تېر کړل او کله چې اور دوه نیم سوه سړی تباه کول نو هغوئ هم د قورح او د
هغۀ د ملګرو سره مړۀ شول، دا د خلقو دپاره د خبرداری یوه نښه شوه. (١١) خو
د قورح اولاد نۀ وو وژلے شوے. (١٢) د شمعون په قبیله کښې دا قبیلې وې،
نمواېل، یمین، یکین، (١٣) زارح او ساؤل. (١۴) دا قبیلې په شمېر کښې دوویشت
زره او دوه سوه سړی وُو. (١۵) د جاد په قبیله کښې دا قبیلې وې، صفونی،
حجی، سونی، (١۶) ازنی، عیری، (١٧) ارودی او اریلی. (١٨) دا قبیلې په شمېر
کښې څلوېښت زره او پینځۀ سوه سړی وُو. (١٩)-(٢١) د یهوداه په قبیله کښې دا
قبیلې وې، سیله، فارص، زارح، حصرون او حمول. د یهوداه دوه زامن عیر او
اونان، د کنعان په مُلک کښې مړۀ شوی وُو. (٢٢) دا قبیلې په شمېر کښې شپږ
اویا زره او پینځۀ سوه سړی وُو. (٢٣) د یساکار په قبیله کښې دا قبیلې وې، تولع،
فُوه، (٢۴) یسوب او سِمرون. (٢۵) دا قبیلې په شمېر کښې څلور شپېتۀ زره او
درې سوه سړی وُو. (٢۶) د زبولون په قبیله کښې دا قبیلې وې، سرد، ایلون او
یحلیاېل. (٢٧) دا قبیلې په شمېر کښې شپېتۀ زره او پینځۀ سوه سړی وُو. (٢٨) د
یوسف قبیلې، د هغۀ دوه زامن منسی او اِفرائیم وُو. (٢٩) دا د منسی د قبیلې اولاد
دے، د منسی زوئ مکیر د جِلعاد قبیلې پلار نیکۀ جوړ شو، (٣٠) دا د جِلعاد قبیلې
دی، د یعزر قبیله، د حالق قبیله، (٣١) اسریاېل، شِکم، (٣٢) سمیدع او حِفر. (٣٣)



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د حِفر د زوئ صِلافحاد زامن نۀ وُو، صرِف لوڼه يې وې، د هغوئ نومونه دا دی،
محلاه، نوعاه، حجلاه، مِلکاه او تِرضاه. (۳۴) دا قبيلې په شمېر کښې دوه پنځوس
زره او اووۀ سوه سړی وُو. (۳۵) د اِفرائيم په قبيله کښې دا قبيلې وې، سوتلح، بکر
او تحن. (۳۶) د عيران قوم د سوتلح اولاد وو. (۳۷) د اِفرائيم د قبيلې د قبيلو په
شمېر کښې دوه دېرش زره او پينځۀ سوه سړی وُو. دا قبيلې د يوسف اولاد دے.
(۳۸) دا د بنيامين قبيلې، قبيلې دی، بالع، اشبيل، اخيرام، (۳۹) سفوفام او حُوفام.
(۴۰) د ارد او نعمان قبيلې د بالع اولاد دے. (۴۱) دا قبيلې په شمېر کښې پينځۀ
څلوېښت زره او شپږ سوه سړی وُو. (۴۲)-(۴۳) د سوحام قبيله کوم چې په شمېر
کښې څلور شپېتۀ زره او څلور سوه سړی وُو دا دان د نسل نه وُو. (۴۴) د آشر په
قبيله کښې دا قبيلې وې، يمنه، اِسوی او بريعاه. (۴۵) د حِبر او مُلکی‌اېل قبيلې د
بريعاه اولاد وو. (۴۶) د آشر يوه لور وه چې نوم يې سِره وو. (۴۷) په دې قبيلو
کښې د سړو شمېر درې پنځوس زره او څلور سوه وو. (۴۸) د نفتالی په قبيله
کښې دا قبيلې وې، يحزی‌ايل، جونی، (۴۹) يصر او سليم. (۵۰) په دې قبيلو کښې د
سړو شمېر پينځۀ څلوېښت زره او څلور سوه وو. (۵۱) ټول اِسرائيليان په شمېر
کښې شپږ لاکه يو زر اووۀ سوه او دېرش سړی وُو. (۵۲) مالِک خُدائ موسیٰ ته
وفرمائيل، (۵۳) ”د ميراث په توګه هغه زمکه په قبيلو باندې د سړو د شمېر په
مطابق تقسيم کړئ. (۵۴)-(۵۶) پچه وربانديې واچوئ او هغه زمکه تقسيم کړئ، غټې
قبيلې ته زيات ميراث ورکړئ او وړې قبيلې ته لږه زمکه ورکړئ.“ (۵۷) د ليوی
اصلی قبيلې دا دی، د جيرسون قبيله، قُهات او مراری. (۵۸) د هغوئ په اولاد
کښې دا وړې قبيلې هم شاملې دی، لِبنی، حبرون، محلی، موشی او قورح. قُهات د
عُمرام پلار وو، (۵۹) هغۀ د ليوی لور يوکبد وادۀ کړې وه، چې هغه په مِصر کښې
پيدا شوې وه. د هغې نه د عُمرام دوه زامن، هارون او موسیٰ او يوه لور مريم پيدا
شوه. (۶۰) د هارون دا څلور زامن وُو، ندب، ابيهُو، اِلی‌عزر او اِتمر. (۶۱) ندب او
ابيهُو په هغه وخت ووژلے شول کله چې هغوئ مالِک خُدائ ته هغه اور پېش
کولو کوم چې خُدائ پاک ته قبول نۀ وو. (۶۲) د نرانو ليويانو شمېر درويشت زره
وو چې د هغوئ عُمر يوه مياشت يا د دې نه زيات وو. هغوئ د نورو بنی اِسرائيلو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه جدا وشمېرلے شول، ځکه چې هغوئ ته د بنی اِسرائيلو په مينځ کښې جائيداد
نۀ مِلاوېدو. ۶۳ دا ټولې قبيلې موسىٰ او اِلیعزر په هغه وخت وشمېرلې چې د
اُردن سيند نه پورې يريحو ته مخامخ د موآب په مېدانونو کښې یې د بنی اِسرائيلو
مردمشمارى وکړه. ۶۴ په دې سړو کښې يو کس هم نۀ وُو چې د سينا په بيابان
کښې موسىٰ او هارون په ورومبۍ مردمشمارۍ کښې شمېرلی وُو. ۶۵ مالِک
خُدائ فرمائيلی وُو چې هغوئ ټول به په صحرا کښې مرۀ شی، نو د يفُنه د زوئ
کالب او د نون زوئ يشوَع نه بغير ټول مرۀ شول.

## د صِلافحاد لوڼه

۲۷ ۱ محلاه، نوعاه، حجلاه، مِلکاه او تِرضاه د صِلافحاد لوڼه وې چې هغه
زوئ د حِفر، زوئ د جِلعاد، زوئ د مکير، زوئ د منسى، زوئ د يوسف وو. ۲
هغوئ لاړې او د موسىٰ، د اِلیعزر اِمام، د مشرانو او د ټول قوم په مخکښې د
مالِک خُدائ د حضور د خيمې په خولۀ کښې ودرېدلې او وې وئيل، ۳ ”زمونږ
پلار په صحرا کښې مړ شو، د هغۀ زامن نشته، خو هغه د قورح د قبيلې نه نۀ وو،
چا چې د مالِک خُدائ خِلاف بغاوت کړے وو، هغه د خپلې گناه په وجه مړ
شوے وو. ۴ چې د هغۀ زامن نشته، نو د هغۀ نوم دې ولې د بنی اِسرائيلو نه
ختم شی؟ مونږ له هم لکه زمونږ د پلار د خپلوانو په شان جائيداد راکړئ.“ ۵
نو موسىٰ د هغوئ مسئله مالِک خُدائ ته پېش کړه، ۶ او مالِک خُدائ هغۀ ته
وفرمائيل، ۷ ”د صِلافحاد لوڼه ټيک وائی، هغوئ له د هغوئ د پلار د خپلوانو په
شان جائيداد ورکړه. او د خپل پلار جائيداد دې هغوئ ته مِلاو شی. ۸ او تۀ
خامخا بنی اِسرائيلو ته ووايه چې د کوم سړی زوئ نۀ وی او مړ شی، نو د هغۀ
لور ته به جائيداد په ميراث کښې ملاوېږی. ۹ کۀ د هغۀ لوڼه نۀ وی، نو ميراث
به يې د ورونړو وی. ۱۰ کۀ د هغۀ وروڼه نۀ وی، نو ترونه به يې ميراث اخلی. ۱۱
کۀ د هغۀ وروڼه يا ترونه هم نۀ وی، نو بيا به د هغۀ نزدې خپلوان د هغۀ ميراث



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اخلی او دا به د هغوئ د خپل جائیداد په شان وی. اِسرائیلیان به دا د قانون په توګه منی، څنګه چې ما، مالِک خُدائ تاسو له حُکم درکړے دے.“

### د حضرت يشوَع د بنی اِسرائيلو د مشر په توګه مقرر کېدل

۱۲ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”د عباريم غرونو ته وخېژه او هغه مُلک ته وګوره کوم چې زهٔ بنی اِسرائيلو له ورکوم. ۱۳ کله چې تهٔ هغه وګورې، نو د هارون په شان به تهٔ هم مړ شې، ۱۴ ځکه چې تاسو دواړو د صين په صحرا کښې زما د حُکم نه بغاوت کړے وو. کله چې ټول قوم زما خِلاف په مريبه کښې وغورېدو، د هغوئ په مخکښې تاسو زما مقدس طاقت ښکاره نهٔ کړو.“ مريبه په قادِس کښې د صين په صحرا کښې يوه چينه ده. ۱۵ موسیٰ مالِک خُدائ ته سوال وکړو، ۱۶ ”مالِکه خُدايه، تهٔ خُدائ پاک يې، هر څيز له ساه ورکوونکے يې، زهٔ دا سوال کوم چې يو داسې سړے مقرر کړه چې د دې قوم لار ښودنه کوی ۱۷ او په جنګ کښې يې مشری کوی، نو ستا قوم به د داسې ګډو په شان نهٔ وی چې شپون يې نهٔ وی.“ ۱۸ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ”د نون زوئ يشوَع بوځه ځکه چې هغه قابل سړے دے او خپل لاسونه د هغهٔ په سر کېږده چې ستا ذمه وارې ورته حواله شی. ۱۹ هغه د اِلیعزر اِمام په مخکښې ودروه او د ټول قوم په مخکښې هغهٔ له مشری ورکړه. ۲۰ تهٔ هغهٔ له څهٔ خپل اختيارات هم ورکړه، چې ټول اِسرائيليان د هغهٔ تابعداری کوی. ۲۱ د فيصلې کولو دپاره به هغه د اِلیعزر اِمام نه مشوره اخلی او اِلیعزر به اُوريم او تميم زما رضا معلومولو دپاره استعمالوی. نو اِلیعزر به د يشوَع او د بنی اِسرائيلو د ټول قوم په هر څيز کښې لار ښودنه کوی.“ ۲۲ موسیٰ هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ ورته حُکم کړے وو. هغهٔ يشوَع، د اِلیعزر اِمام او د ټول قوم په مخکښې ودرولو. ۲۳ چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے وو، موسیٰ خپل لاسونه د يشوَع په سر کېښودل او خپله مشری يې ورکړه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## مقررې شوې نذرانې

۲۸ ۞ مالِک خُدائ موسیٰ ته حُکم وکړو، ۞ "بنی اِسرائیلو له حُکم ورکړه
چې خُدائ پاک ته په مقررو وختونو باندې په اور تيارېدونکې نذرانې پېش کوی، د
دې خوشبو په مالِک خُدائ ښۀ لګی. ۞ دا په اور تيارېدونکې نذرانې دی چې
مالِک خُدائ ته پېش کيږی، د هرې ورځې سوزېدونکې نذرانې دپاره، دوه يو کلن
ګډُوری چې هيڅ عيب په کښې نۀ وی. ۞ وړومبے ګډُورے په سحر کښې پېش
کوئ او دويم په ماښام کښې، ۞ هر يو به د يو کلو اوړو د غلې نذرانې سره
پېش کيږی، چې يو ليټر د زيتُونو ښۀ تيل ورسره ګډ وی. ۞ دا د هرې ورځې
نذرانه ده چې پوره سوزولے شی، کومه چې مخکښې د سينا په غرۀ باندې په اور
تيارېدونکې نذرانې په توګه پېش شوې وه، د دې خوشبو په مالِک خُدائ باندې ښۀ
لګی. ۞ د څښلو نذرانې په توګه د وړومبی ګډُوری سره، يو ليټر مے به په
قربانګاه باندې تويَولے شی. ۞ په ماښام کښې هغه دويم ګډُورے پېش کړئ،
چې څنګه په سحر کښې پېش شوے وو. دا به د دې د څښلو نذرانې سره پېش
کيږی. دا هم يوه په اور تيارېدونکې نذرانه ده، د دې خوشبو په مالِک خُدائ باندې
ښۀ لګی.

## د سبت د ورځې نذرانه

۞ د سبت په ورځ دوه يو کلن ګډُوری چې هيڅ عيب په کښې نۀ وی، د غلې
نذرانې په توګه دوه کلو اوړۀ چې د زيتُونو تيل ورسره ګډ وی او د څښلو نذرانه
پېش کړئ. ۞ دا د هر سبت ورځې سوزېدونکې نذرانه د هرې ورځې د
سوزېدونکې او د څښلو نذرانې نه علاوه ده.

## د مياشتې د وړومبی ورځې نذرانه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۝١١ د هرې مياشتې په شروع کښې مالِک خُدائ ته يوه سوزېدونکې نذرانه پېش کوئ، دوه سخی، يو گډ، اووهٔ يو کلن گډُوری، چې په هر يو کښې هيڅ عيب نهٔ وی. ۝١٢ د غلې نذرانې په توگه، اوړهٔ پېش کړئ چې د زيتُونو تېل ورسره گډ وی، د هر يو سخی سره درې کلو اوړهٔ، دوه کلو د گډ سره، ۝١٣ او يو کلو د هر يو گډُوری سره. دا سوزېدونکې نذرانې په اور تيارېدونکې نذرانې دی، د دې خوشبو په مالِک خُدائ ښهٔ لگی. ۝١٤ د څښلو صحيح نذرانه د هر يو سخی سره دوه ليټره مے دی، يو نيم ليټر به د گډ سره وی او يو ليټر به د هر يو گډُوری سره وی. دا اصُول د سوزېدونکې نذرانې دپاره د ټول کال د هرې مياشتې د وړومبۍ ورځې دپاره دی. ۝١٥ او يو چېلے د گناه د نذرانې په توگه مالِک خُدائ ته پېش کړئ، دا به د هرې ورځې د سوزېدونکې نذرانې او د څښلو د نذرانې نه به علاوه وی.

## د پتيرې روټۍ د اختر نذرانې

۝١٦ د وړومبۍ مياشتې په څوارلسمه ورځ به د مالِک خُدائ په درناوی کښې د فسحې اختر کولے شی. ۝١٧ د دې مياشتې په پينځلسمه ورځ به اختر شروع کيږی چې اووهٔ ورځې به وی، چې په دې دوران کښې به صِرف پتيره روټۍ خوړلے شی. ۝١٨ د اختر په وړومبۍ ورځ به تاسو د عبادت دپاره راغونډيږئ او هيڅ کار به نهٔ کوئ. ۝١٩ په اور تيارېدونکې نذرانې په توگه مالِک خُدائ ته يوه سوزېدونکې نذرانه پېش کوئ يعنې دوه سخی، يو گډ او اووهٔ يو کلن گډُوری، چې په دې کښې هم څهٔ عيب نهٔ وی. ۝٢٠ د غلې صحيح نذرانه پېش کوئ چې په هغه اوړو کښې د زيتُونو تېل گډ وی، درې کلو د هر يو سخی سره، دوه کلو د گډ سره، ۝٢١ او يو کلو د هر يو گډُوری سره. ۝٢٢ د گناه نذرانې په توگه يو چېلے هم پېش کوئ، چې د خلقو کفاره ادا شی. ۝٢٣ دا ټولې نذرانې د هر سحر د سوزېدونکې نذرانې نه علاوه پېش کوئ. ۝٢٤ هم دغه شان، اووهٔ ورځې مالِک خُدائ ته په اور تيارېدونکې نذرانې پېش کوئ، دا خوشبو په هغهٔ باندې ښهٔ لگی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا د هرې ورځې سوزېدونکې نذرانې او د څښلو نذرانې نه علاوه پېش کوئ. ۲۵
په اوومه ورځ د عبادت دپاره رايوځائ کېږئ او کار مۀ کوئ.

## د لَو کولو اختر نذرانه

۲۶ د لَو کولو اختر په وړومبۍ ورځ، کله چې تاسو د نوې غلې نذرانه مالِک
خُدائ ته پېش کوئ، نو تاسو به د عبادت دپاره راجمع کېږئ او هيڅ کار به نۀ
کوئ. ۲۷ يوه سوزېدونکې نذرانه پېش کوئ چې د هغې خوشبو به مالِک خُدائ
باندې ښۀ لګی يعنې دوه سخی، يو ګډ او اووۀ يو کلن ګډُوری، چې هيڅ عيب په
کښې نۀ وی. ۲۸ د غلې صحيح نذرانه پېش کوئ چې په اوړو کښې يې د زيتُونو
تېل ګډ وی يعنې درې کلو د هر يو سخی سره، دوه کلو د ګډ سره، ۲۹ او يو کلو
د هر يو ګډُوری سره. ۳۰ د ګناه نذرانې په توګه يو چېلے هم پېش کوئ، چې
ستاسو د خلقو کفاره ادا شی. ۳۱ د هرې ورځې د سوزېدونکې نذرانې او د غلې
د نذرانې نه علاوه به تاسو دا نذرانې او د څښلو نذرانه پېش کوئ. او ياد ساتئ چې
دا ځناور بېعيبه وی.

## د نوی کال د اختر نذرانې

۲۹ ۱ د اوومې مياشتې په وړومبۍ ورځ به تاسو د عبادت دپاره راغونډېږئ
او په دې ورځ به هيڅ کار نۀ کيږی. په هغه ورځ به بيګل وغږېږی. ۲ مالِک
خُدائ ته يو سوزېدونکې نذرانه پېش کړئ، د دې خوشبو به مالِک خُدائ باندې
ښۀ لګی، يو سخے، يو ګډ، اووۀ يو کلن ګډُوری، چې په يو کښې هم هيڅ عيب نۀ
وی. ۳ د اوړو صحيح نذرانه پېش کوئ چې د زيتُونو تېل ورسره ګډ وی يعنې
درې کلو د سخی سره او دوه کلو د ګډ سره، ۴ او يو کلو د هر يو ګډُوری
سره. ۵ د ګناه نذرانې په توګه يو چېلے هم پېش کوئ نو په دې سره د خپل
ځان کفاره ادا کوئ. ۶ او دا نذرانې د مياشتې د وړومبۍ ورځې او د هرې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورځې د سوزېدونکې نذرانې او د غلې نذرانې نه علاوه پېش کوئ، او د هرې ورځې سوزېدونکې نذرانه ورسره د دې د غلې نذرانه او د څښلو نذرانه. په اور تياربدونکې د دې نذرانو خوشبو په مالِک خُدائ باندې ښۀ لګی.

## د کفارې د ورځې نذرانې

٧ د اوومې مياشتې په لسمه ورځ د عبادت دپاره راغونډېږئ، هيڅ څيز به نۀ خورئ او نۀ به څۀ کار کوئ. ٨ مالِک خُدائ ته يوه سوزېدونکې نذرانه پېش کوئ، د دې خوشبو په هغۀ باندې ښۀ لګی، يو سخے، يو ګډ، اووۀ يو کلن ګډُوری، چې په يو کښې هم هيڅ عيب نۀ وی. ٩ د غلې دانې صحيح نذرانه پېش کوئ چې په اوړو کښې د زيتُونو تېل ورسره ګډ وی، درې کلو اوړۀ د سخی سره، دوه کلو د ګډ سره، ١٠ او يو کلو د هر يو ګډُوری سره. ١١ د ګناه نذرانې په توګه يو چېلے هم پېش کوئ، د هغې نه علاوه کوم چېلے چې د کفارې دپاره پېش شوے وی او د هرې ورځې نذرانه د هغې د غلې نذرانې او د څښلو نذرانې سره.

## د جونګړو د اختر نذرانې

١٢ د اوومې مياشتې په پينځلسمه ورځ د عبادت دپاره راغونډېږئ. د مالِک خُدائ په درناوی کښې اووۀ ورځې دا اختر کوئ او هيڅ کار مۀ کوئ. ١٣ په وړومبۍ ورځ په اور تياربدونکې نذرانه مالِک خُدائ ته پېش کوئ، د دې خوشبو په هغۀ باندې ښۀ لګی، ديارلس سخی، دوه ګډان او څوارلس يو کلن ګډُوری، چې په يو کښې هم هيڅ عيب نۀ وی. ١۴ د غلې صحيح نذرانه پېش کوئ چې په اوړو کښې ورسره د زيتُونو تېل ګډ وی، درې کلو اوړۀ د هر يو سخی سره، دوه کلو د هر يو ګډ سره، ١۵ او يو کلو د هر يو ګډُوری سره. ١۶ د هرې ورځې سوزېدونکې نذرانې، د غلې نذرانې او د څښلو نذرانې نه علاوه د ګناه نذرانې په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

توګه يو چېلے هم پېش کوئ. ﴿۱۷﴾ په دويمه ورځ دولس سخى، دوه ګډان او
څوارلس يو کلن ګډُورى پېش کړئ، چې په يو کښې هم هيڅ عيب نۀ وى. ﴿۱۸﴾-
﴿۱۹﴾ د دې سره هغه نورې ټولې نذرانې پېش کوئ چې کومې د وړومبۍ ورځې
دپاره وى. ﴿۲۰﴾ په دريمه ورځ يوولس سخى، دوه ګډان او څوارلس يو کلن
ګډُورى پېش کړئ، چې په يو کښې هم هيڅ عيب نۀ وى. ﴿۲۱﴾-﴿۲۲﴾ د دې سره هغه
نورې ټولې نذرانې پېش کوئ چې کومې د وړومبۍ ورځې دپاره وى. ﴿۲۳﴾ په
څلورمه ورځ لس سخى، دوه ګډان او څوارلس يو کلن ګډُورى پېش کړئ، چې په
يو کښې هم هيڅ عيب نۀ وى. ﴿۲۴﴾-﴿۲۵﴾ د دې سره هغه نورې ټولې نذرانې پېش
کوئ چې کومې د وړومبۍ ورځې دپاره وى. ﴿۲۶﴾ په پينځمه ورځ نهۀ سخى، دوه
ګډان او څوارلس يو کلن ګډُورى پېش کړئ، چې په يو کښې هم هيڅ عيب نۀ
وى. ﴿۲۷﴾-﴿۲۸﴾ د دې سره هغه نورې ټولې نذرانې پېش کوئ چې کومې د وړومبۍ
ورځې دپاره وى. ﴿۲۹﴾ په شپږمه ورځ اتۀ سخى، دوه ګډان او څوارلس يو کلن
ګډُورى پېش کړئ، چې په يو کښې هم هيڅ عيب نۀ وى. ﴿۳۰﴾-﴿۳۱﴾ د دې سره هغه
نورې ټولې نذرانې پېش کوئ چې کومې د وړومبۍ ورځې دپاره وى. ﴿۳۲﴾ په اوومه
ورځ اووۀ سخى، دوه ګډان او څوارلس يو کلن ګډُورى قربانى کړئ، چې په يو
کښې هم هيڅ عيب نۀ وى. ﴿۳۳﴾-﴿۳۴﴾ د دې سره هغه نورې ټولې نذرانې پېش کوئ
چې کومې د وړومبۍ ورځې دپاره وى. ﴿۳۵﴾ په اتمه ورځ د عبادت دپاره
راغونډېږئ او هيڅ کار مۀ کوئ. ﴿۳۶﴾ په اور تيارېدونکې نذرانې په توګه يوه
سوزېدونکې نذرانه مالِک خُدائ ته پېش کړئ، د دې خوشبو په هغۀ باندې ښۀ
لګى، يو سخے، يو ګډ، اووۀ يو کلن ګډُورى، چې په يو کښې هم هيڅ عيب نۀ وى.
﴿۳۷﴾-﴿۳۸﴾ د دې سره هغه نورې ټولې نذرانې پېش کوئ چې کومې د وړومبۍ ورځې
دپاره وى. ﴿۳۹﴾ دا اصُول د سوزېدونکې نذرانې، د غلې دانې نذرانې، د څښلو
نذرانې او د سلامتۍ نذرانې دپاره دى چې تاسو يې مالِک خُدائ ته په خپلو مقررو
اخترونو کښې پېش کوئ. دا د هغه نذرانو نه علاوه دى چې تاسو يې د يوې
منښتې د پوره کېدو د نذرانو يا د رضاکارانه نذرانو په توګه ورکوئ.“ ﴿۴۰﴾ نو
موسىٰ بنى اِسرائيلو ته هغه هر څۀ وفرمائيل چې مالِک خُدائ هغۀ ته د څۀ حُکم



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړے وو.

## د منښتې منلو په حقله اصُول

۳۰ ﴿١﴾ موسىٰ د بنى اِسرائيلو د قبيلو مشرانو ته دا اصُول وښودل. ﴿٢﴾ کله
چې يو سړے مالِک خُدائ ته د منښتې په توګه څۀ څيز ومنى يا سخت قسم
وخورى، نو هغه به خپله وعده نۀ ماتوى او خامخا به يې پوره کوى. ﴿٣﴾ کله چې
يوه جينۍ د پلار په کور کښې اوسيږى او منښته ومنى چې يو څيز به مالِک خُدائ
له ورکوى يا د څۀ څيز نه د ځان ساتلو وعده وکړى، ﴿٤﴾ هغه به خامخا هغه هر
څۀ کوى چې هغې کومه منښته منلې وى يا يې وعده کړې وى خو کۀ د هغې پلار
ترې نه خبر شى او څۀ اِعتراض وکړى نو بيا به يې نۀ پوره کوى. ﴿٥﴾ خو چې
کله يې پلار خبر شى او کۀ ورته ووائى چې دا وعده مۀ پوره کوه، نو د هغې دپاره
ضرورى نۀ ده چې دا وعده پوره کړى. مالِک خُدائ به هغه معاف کړى، ځکه
چې پلار يې د دې د پوره کولو نه منع کړه. ﴿٦﴾ کۀ يوه ناوادۀ شوې ښځه يوه
منښته ومنى، قصداً يا په بې‌خيالۍ کښې، يا وعده وکړى چې د څۀ څيز نه به ځان
ساتى او بيا وادۀ شى، ﴿٧﴾ نو هغې چې کومه منښته منلې وى يا يې وعده کړې
وى نو هغه به خامخا پوره کوى خو کۀ د هغې خاوند ترې نه خبر شى او څۀ
اِعتراض وکړى نو هغه به نۀ پوره کوى. ﴿٨﴾ خو کۀ خاوند يې خبر شى او د هغه
وعدې پوره کولو نه يې منع کړى، نو د هغې دپاره دا ضرورى نۀ ده چې دا وعده
پوره کړى. مالِک خُدائ به هغه معاف کړى. ﴿٩﴾ يوه کونډه يا طلاقه ښځه به
خامخا خپل قسم پوره کوى. ﴿١٠﴾ کۀ يوه وادۀ شوې ښځه يوه منښته ومنى، ﴿١١﴾
نو هغه به خامخا هغه هر څۀ کوى چې هغې منښته منلې وى. کۀ خاوند يې خبر
شى او څۀ اِعتراض وکړى نو بيا به يې نۀ پوره کوى. ﴿١٢﴾ خو کۀ خاوند يې خبر
شى او هغه د وعدې پوره کولو نه منع کړى، نو ضرورى نۀ ده چې دا وعده پوره
کړى. مالِک خُدائ به هغه معاف کړى، ځکه چې د هغې خاوند د دې قسم د پوره



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کولو نه منع کړې ده. ⑬ د هغې خاوند دا حق لرى چې هغې له د دې لوظُونو
پوره کولو اجازت ورکړى يا ورنۀ کړى. ⑭ خو کۀ، د ورځې د تېرېدو نه پس،
هغه د دې قسم نه خبر شى او څۀ اِعتراض ونۀ کړى، نو هغه دې خامخا هغه هر
څۀ وکړى چې د څۀ يې قسم يا وعده کړې وى. ځکه چې په کومه ورځ هغه خبر
شو نو څۀ اِعتراض يې ونۀ کړو نو قسم دې خامخا پوره کړى. ⑮ خو کۀ
وروستو يې خاوند د خپلې خبرې نه واوړېدو، نو د دې قسم ماتولو سزا به د هغې
خاوند ته مِلاو شى. ⑯ دا هغه اصُول دى کوم چې مالِک خُدائ موسىٰ ته
وښودل کوم چې د هغه قسمونو د خوړلو په حقله دى چې يوه پېغله چې د خپل
پلار په کور کښې اوسېږى يا يې يوه وادۀ شوې ښځه وخورى.

## د میدیانیانو خِلاف جنګ

**۳۱** ① مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل، ② ”د بنى اِسرائيلو سره چې
میدیانیانو څۀ کړى وُو د هغې بدل ترې نه واخله. کله چې تۀ دا وکړې نو مړ به
شې.“ ③ نو موسىٰ خلقو ته وفرمائيل، ”د جنګ دپاره تيار شئ، چې تاسو په
میدیانیانو حمله وکړئ او د هغوئ نه د مالِک خُدائ بدله واخلئ. ④ د بنى
اِسرائيلو د هرې قبيلې نه زر کسان د جنګ دپاره ولېږئ.“ ⑤ نو د هرې قبيلې نه
زر زر سړى خوښ کړے شول، دولس زره سړو د جنګ دپاره ملا وتړله. ⑥
موسىٰ هغوئ د اِلىعزر اِمام زوئ فينحاس د مشرى لاندې جنګ له ولېږل، هغۀ د
مقدسو سامانونو او د بيګلو ذمه وارى واخستله چې د اِشارو دپاره غږولے شول.
⑦ هغوئ په میدیانیانو باندې حمله وکړه، هم هغه شان چې مالِک خُدائ حُکم
کړے وو او ټول سړى يې ووژل، ⑧ سره د پينځو میدیانیانو بادشاهانو چې دا
وُو، يعنې ايوى، رِقم، صور، حُور او رِبع. هغوئ د بعور زوئ بلعام هم ووژلو. ⑨
بنى اِسرائيلو د میدیانیانو ښځې او ماشومان ونيول، د هغوئ څاروى او رَمې يې
بوتلې، ټول مال يې ورله لوټ کړو، ⑩ او د هغوئ ټول ښارونه او خېمې يې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وسوزولې. ۱۱ هغوئ ترې نه هغه ټول مالِ غنيمت يوړو چې کوم يې نيولے وو،
په دې کښې قېديان او څناور هم وُو، ۱۲ او موسىٰ، اِلىعزر او د بنى اِسرائيلو
ټول قوم له يې راوړل، چې هغوئ د اُردن سيند نه پورې يريحو ته مخامخ د موآب
په ميدانونو کښې وُو.

## د لښکر راواپس کېدل

۱۳ موسىٰ، اِلىعزر او د قوم ټول مشران لاړل چې د کېمپ نه بهر د لښکر سره
مِلاو شى. ۱۴ موسىٰ هغه آفسرانو ته سخت غصه وو، چې د سلګونو او زرګونو
مشران وُو او د جنګ نه راواپس شوى وُو. ۱۵ موسىٰ د هغوئ نه تپوس وکړو،
”تاسو دا ټولې ښځې ولې ژوندۍ پرېښودلې دى؟ ۱۶ ياد ساتئ چې زناناؤ د بلعام
په نصيحت عمل وکړو او په فعور کښې يې خلق د مالِک خُدائ نافرمانه کړل، او
د دوئ په وجه د مالِک خُدائ په خلقو وبا راغله. ۱۷ نو اوس ټول هلکان ووژنئ
او ورسره هغه ښځې هم ووژنئ چې پېغلې نهٔ وى، ۱۸ خو د ځان دپاره هغه ټولې
جينکۍ او ښځې ژوندۍ پرېږدئ چې نا وادهٔ کړى وى. ۱۹ نو ستاسو هر يو کس
چې څوک يې وژلے وى يا د يو مړى سره لګېدلے وى نو هغه به اووهٔ ورځې د
خېمو نه بهر ايسارېږى. په دريمه او په اوومه ورځ به خپل ځانونه او هغه ښځې
پاکې کړئ چې کومې مو نيولې دى. ۲۰ تاسو به خپلې ټولې کپړې او څرمنې، د
چېلو ټولې وړې او د لرګى نه جوړ شوے هر څيز پاک کړئ.“ ۲۱ اِلىعزر اِمام
هغه سړو ته وفرمائيل کوم چې د جنګ نه راواپس شوى وُو، ”دا هغه اصُول دى
چې مالِک خُدائ يې موسىٰ ته حُکم کړے وو. ۲۲-۲۳ کوم څيز چې نهٔ
سوزېږى، لکه سرهٔ زر، سپين زر، زېړ، اوسپنه، قلائى، يا سيکه، نو د پاکوالى
دپاره به د اور نه تېرولے شى. نور ټول څيزونه به د پاکوالى د اوبو په ذريعه
پاکولے شى. ۲۴ په اوومه ورځ به تاسو خامخا خپلې جامې وينځئ، بيا به تاسو
پاک شئ او خېمو ته به ننوتلے شئ.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مالِ غنيمت تقسيمېدل

۲۵ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، ۲۶ ”تهٔ او اِلیعزر د قوم د نورو مشرانو
سره، هغه ټول ځيزونه وشمېرئ چې کوم نيولے شوی دی، سره د قېديانو او
څناورو. ۲۷ څهٔ ځيز چې نيولے شوے وی هغه په دوه برابرو حِصو کښې
تقسيم کړئ، يوه حِصه به د هغو کسانو دپاره وی چې جنګ له تلی وی او يوه
حِصه به د نور قوم وی. ۲۸ د هغه کسانو د حِصې نه چې جنګ له تلی وی، د
هر پينځهٔ سوو قېديانو، څاروو، خرو، ګډو او د چېلو نه په هر پينځهٔ سوو کښې يو
د مالِک خُدائ دپاره جدا کړئ. ۲۹ دا اِلیعزر اِمام له د مالِک خُدائ دپاره د
خاص نذرانې په توګه ورکړئ. ۳۰ کومه حِصه چې نورو خلقو له ورکړے شوی
وی د هغې نه، د هر پنځوسو قېديانو، څاروو، خرو، ګډو او د چېلو نه د هر
پنځوسو نه يو جدا کړئ. دا هغه ليويانو له ورکړئ چې د مالِک خُدائ د خېمې د
خيال ساتلو ذمه وار دی.“ ۳۱ موسیٰ او اِلیعزر هم هغه شان وکړل چې څنګه
مالِک خُدائ حُکم کړے وو. ۳۲-۳۵ دا هغه څهٔ دی چې جنګ له تلو کسانو
قبضه کړی وُو، د دې نه علاوه يې څهٔ د خپلو ځانونو دپاره هم پرېښی وُو، شپږ
لاکه او پينځهٔ اويا زره ګډې او چېلۍ، دوه اويا زره څاروی، يو شپېتهٔ زره خرهٔ او
دوه دېرش زره پېغلې چې نا وادهٔ شوې وی. ۳۶-۴۰ کوم کسان چې جنګ له
تلی وُو د هغوئ نيمه حِصه درې لاکه اووهٔ دېرش زره او پينځهٔ سوه ګډې او چېلۍ
وې، د دې نه د مالِک خُدائ په برخه کښې شپږ سوه او پينځهٔ اويا وُو، شپږ
دېرش زره څاروی د هغه کسانو دپاره چې جنګ له تلی وُو چې د دې نه د مالِک
خُدائ په برخه کښې دوه اويا وُو، دېرش زره او پينځهٔ سوه خرهٔ د جنګ والا
کسانو دپاره وُو، د دې نه د مالِک خُدائ په برخه کښې يو شپېتهٔ وُو، او شپاړس
زره پېغلې د هغه کسانو دپاره وې چې جنګ له تلی وُو، چې د دې نه د مالِک
خُدائ په برخه کښې دوه دېرش وې. ۴۱ نو موسیٰ اِلیعزر له دا برخه د مالِک
خُدائ دپاره د خاص برخې په توګه ورکړه، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حُکم کړے وو. ۴۲-۴۶ د قوم حِصه هم هغه هومره وه چې څومره د هغه کسانو وه چې جنګ له تلی وُو، درې لاکه اووهٔ دېرش زره او پينځهٔ سوه ګډې او چېلې، شپږ دېرش زره غواوې، دېرش زره او پينځهٔ سوه خرهٔ او شپاړس زره پېغلې. ۴۷ د دې حِصې نه موسىٰ د هر يو پنځوسو قېديانو او ځناورو نه يو يو واخستلو او چې څنګه مالِک خُدائ فرمائيلی وُو هم هغه شان يې دا ليويانو له ورکړل چې هغوئ د مالِک خُدائ د خېمې د خيال ساتلو ذمه وار وُو. ۴۸ بيا هغه آفسران موسىٰ له لاړل کومو چې د لښکر مشرى کړې وه ۴۹ او موسىٰ ته يې ووئيل، ”صاحِبه، مونږ د جنګ والا کسان وشمېرل کوم چې زمونږ د مشرى لاندې وُو او يو سړے هم په کښې کم نهٔ دے. ۵۰ نو مونږ د سرو زرو کالی، بنګړى، کړې، ګوتمې، والۍ او هارونه راوړُو چې مونږ هر يو کس اخستی دى. او مونږ يې مالِک خُدائ ته د خپل ژوند په کفاره کښې پېش کړُو، چې هغه مو بچ کړى.“ ۵۱ موسىٰ او اِلىعزر ترې نه هغه ټول سرهٔ زر او کالی واخستل. ۵۲ د آفسرانو پېش کړے شوې برخه تقريباً دوه سوه کلو وه. ۵۳ چې کوم کسان آفسران نهٔ وُو هغوئ هغه لوټ شوے مال د ځان دپاره کېښودو. ۵۴ نو موسىٰ او اِلىعزر اِمام هغه سرهٔ زر خېمې ته يوړل، چې د بنى اِسرائيلو د يادګيرنې دپاره د مالِک خُدائ په حضور کښې پراتهٔ وى.

## د اُردن نمرخاتهٔ طرف ته قبيلې

**۳۲** ۱ د روبين او جاد قبيلې سره ډېر څاروى وُو. کله چې هغوئ وليدل چې د يعزير او جلِعاد زمکه د څاروو دپاره ښهٔ وه، ۲ نو هغوئ موسىٰ، اِلىعزر او د قوم نورو مشرانو له لاړل او ورته يې ووئيل، ۳-۴ ”مالِک خُدائ چې د بنى اِسرائيلو په کوم مُلک نيولو کښې مدد کړے وو په هغې کښې دا ښارونه وُو، عطاروت، ديبون، يعزير، نمراه، حسبون، اِلىعالى، سبام، نبو او بعون. دا زمکه د څاروو دپاره ښهٔ ده او مونږ سره ډېر څاروى دى. ۵ کهٔ ستاسو خوښه وى نو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ له دا زمکه راکړئ چې زمونږ میراث شی، ځکه چې مونږ ستاسو
خِدمتګاران یُو او مونږ مهٔ مجبوروئ چې لاړ شُو او د اُردن سیند نه پورې غاړه
اوسیږو.“ ۶ موسیٰ ورته وفرمائیل، ”ستاسو وروڼه اِسرائیلیان جنګ له روان
دی او تاسو دلته ایسارېږئ څهٔ؟ ۷ تاسو د بنی اِسرائیلو زړونه ولې راماتوئ
چې د اُردن سیند نه پورې وخَی او هغه مُلک ته ننوځی چې کوم مالِک خُدائ
ورکړے دے؟ ۸ دغه شان ستاسو پلار نیکهٔ هم کړی وُو کله چې ما هغوئ د
قادِس برنیع نه ولیږل چې هغه مُلک وګوری. ۹ هغوئ د اسکال وادی پورې
لاړل او هغه مُلک یې ولیدو، خو چې کله هغوئ راواپس شول، نو هغوئ د بنی
اِسرائیلو اراده بدله کړه چې هغه مُلک ته ورننه نهٔ وځی کوم چې مالِک خُدائ
هغوئ له ورکړے وو. ۱۰ مالِک خُدائ په هغه ورځ په قهر وو او یو لوظ یې
وکړو، ۱۱ ”دوئ زما په لاره روان نهٔ دی، نو زهٔ قسم کوم چې کوم خلق د مِصر
نه راوتلی دی هغه یو سړے به هم هغه مُلک ته ورننه نهٔ وځی چې عُمر یې شل
کاله یا د دې نه زیات وی چې د کوم مُلک لوظ ما د اِبراهیم، اِسحاق او د یعقوب
سره کړے وو. ۱۲ خو صرف د یفُنه زوئ کالب قنزی او د نون زوئ یشوَع د
زړهٔ د اخلاصه په مالِک خُدائ پسې روان وُو.“ ۱۳ مالِک خُدائ بنی اِسرائیلو ته
په قهر وو او څلویښت کاله یې په بیابان کښې سرګردانه کړی وُو تر دې پورې
چې هغه ټول نسل مړ شو چا چې مالِک خُدائ نارضا کړے وو. ۱۴ او اوس
تاسو د خپل پلار نیکهٔ په ځائ یو نوې بدکاره نسل راغلی یئ چې د مالِک خُدائ
سخت قهر په بنی اِسرائیلو باندې بیا راولئ. ۱۵ د روبین او جاد خلقو کهٔ تاسو د
هغهٔ د لارې نه واوړئ، نو هغه به یو ځل بیا دا ټول خلق په بیابان کښې پرېږدی او
تاسو به د هغوئ د تباهئ ذمه وار یئ.“ ۱۶ هغوئ موسیٰ ته نزدې ورغلل او ورته
یې ووئیل، ”اول، مونږ له اجازت راکړه چې دلته د خپلو ګډو دپاره شپول جوړ
کړُو او د خپلو ښځو او ماشومانو دپاره ښارونه جوړ کړُو. ۱۷ بیا به مونږ دې ته
تیار یُو چې د خپلو بنی اِسرائیلو سره جنګ له لاړ شُو او حمله وکړُو تر دې پورې
چې هغه مُلک ته یې بوځُو چې کوم به د هغوئ وی. نو په هغه دوران کښې به



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمونږ ښځې او ماشومان په هغه يَخو ښارونو کښې اوسيږی، دا ښارونه به د هغه
مُلک د خلقو نه د حِفاظت دپاره وی. ۱۸ مونږ به تر هغه وخت پورې خپلو
کورونو ته نۀ راواپس کيږُو چې نورو ټولو بنی اِسرائيلو ته هغه مُلک په ميراث
کښې حواله شوے نۀ وی. ۱۹ مونږ به د اُردن هغه غاړې نه د هغوئ هيڅ
جائيداد هم نۀ اخلو، ځکه چې مونږ ته خپله حِصه دلته د اُردن نمرخاتۀ طرف ته
مِلاو شوې ده.“ ۲۰ موسیٰ ورته وفرمائيل، ”کۀ تاسو هم دغه شان کوئ چې
څنګه وايئ، نو دلته د مالِک خُدائ په حضور کښې د جنګ دپاره تلو ته تيار شئ.
۲۱ ستاسو د جنګ ټول سړی به د اُردن نه پورې وځی او د مالِک خُدائ د حُکم
لاندې به زمونږ په دشمن حمله وکړی ترڅو چې مالِک خُدائ هغوئ له شکست
ورکړی ۲۲ او هغه مُلک ونيسی. بيا تاسو راواپس کيدے شئ، ځکه چې تاسو به
د مالِک خُدائ او د خپلو بنی اِسرائيلو سره ذمه واری پوره کړې وی. نو بيا د
مالِک خُدائ په نظر کښې دا مُلک ستاسو دے. ۲۳ خو کۀ تاسو خپله وعده
پوره نۀ کړه، نو زۀ تاسو خبروم چې تاسو به د مالِک خُدائ خِلاف ګناه وکړئ.
چې دا غلطی ونۀ کړئ، ګنې تاسو ته به د خپلو بدو سزا مِلاو شی. ۲۴ خپل
ښارونه جوړ کړئ او د خپلو ګډو دپاره شپول جوړ کړئ، خو چې کومه وعده مو
کړې وی هم هغه شان وکړئ.“ ۲۵ د جاد او د روبين سړو ووئيل، ”صاحِبه،
مونږ به هم هغه شان وکړُو چې څنګه تۀ حُکم کوې. ۲۶ زمونږ ښځې او
ماشومان او زمونږ څاروی او ګډې به دلته د جِلعاد په ښار کښې پاتې شی. ۲۷
خو د مالِک خُدائ د حُکم لاندې مونږ ټول تيار يُو چې جنګ له لاړ شُو. مونږ به د
اُردن نه پورې واوړُو او جنګ به وکړُو، هم هغه شان چې څنګه تا وفرمائيل.“ ۲۸
نو موسیٰ اِلیعزر، يشوَع او د بنی اِسرائيلو نورو مشرانو له دا حُکم ورکړو، ۲۹
”کۀ د جاد او روبين سړی د اُردن نه پورې وځی چې هغوئ د مالِک خُدائ په
حُکم باندې جنګ ته تيار دی او کۀ د هغوئ په مدد سره هغه مُلک فتح کړی، نو
بيا هغوئ له د جِلعاد زمکه په ميراث کښې ورکړئ. ۳۰ خو کۀ هغوئ د اُردن نه
پورې نۀ وځی او ستاسو سره جنګ له لاړ شی، نو هغوئ ته به د زمکې خپله



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حِصه د کنعان په مُلک کښې ملاویږی، لکه څنګه چې تاسو ته ملاویږی.“ ﴿۳۱﴾ د
جاد او روبين کسانو ورته ووئيل، ”صاحِبه، مونږ به هم هغه شان وکړُو چې څنګه
مالِک خُدائ حُکم کړے دے. ﴿۳۲﴾ د هغۀ د حُکم لاندې به مونږ د کنعان مُلک ته
ورواوړُو او جنګ له به لاړ شُو، خو زمونږ میراث به د اُردن هم دې غاړې ته
وی.“ ﴿۳۳﴾ نو موسیٰ د جاد او روبين او د منسی نيمې قبيلې ته د اموری بادشاه
سيحون او د بسن بادشاه عوج ټوله علاقه په حواله کړه، چې په کښې ښارونه او
ګېرچاپېره مُلک هم وو. ﴿۳۴﴾ د جاد قبيلې د ديبون، عطاروت او د عروعير پاخۀ
ښارونه بيا جوړ کړل. ﴿۳۵﴾ ورسره د عطروت، شوفان، يعزير، يګبها، ﴿۳۶﴾ د
بيت‌نِمره او د بيت‌هاران ښارونه هم جوړ کړل. د هغې ګېرچاپېره يې دېوالونه جوړ
کړل او د خپلو رمو د ساتلو دپاره يې ځايونه هم جوړ کړل. ﴿۳۷﴾ د روبين قبيلې دا
ښارونه بيا جوړ کړل، حسبون، اِلیعالی، قِريَتائم، ﴿۳۸﴾ نبو، بعل معون، (دا نومونه
وروستو بدل کړے شول) او سبماه. هغوئ چې کوم ښارونه بيا جوړ کړل نو نوی
نومونه ورباندې کېښودل. ﴿۳۹﴾ د منسی زوئ مکير قبيلې د جِلعاد په مُلک حمله
وکړه او هغه يې ونيولو او هلته چې کوم اموريان وُو هغه يې ترې نه وشړل. ﴿۴۰﴾
نو موسیٰ د مکير قبيلې له جِلعاد ورکړو او هغوئ هلته اوسېدل. ﴿۴۱﴾ د منسی
قبيلې، يائير حمله وکړه او څۀ کلی يې ونيول او د ”يائير کلی“ نوم يېورباندې
کېښودو. ﴿۴۲﴾ نوبح حمله وکړه او د قنات ښار او د دې کلی يې ونيول او خپل
نوم ”نوبح“ يې پرې کېښودو.

## د بنی اِسرائيلو د مِصر نه موآب ته سفر

۳۳ ﴿۱﴾ بنی اِسرائيلو د لښکرو په شکل کښې په دې مرحلو کښې سفر وکړو
او د موسیٰ او هارون په مشری کښې د مِصر نه لاړل. ﴿۲﴾ د مالِک خُدائ په
حُکم باندې، موسیٰ به هر ځل د هغه ځائ نوم ليکلو چرته به چې هغوئ خېمې
لګولې. ﴿۳﴾ د کال د وړومبی مياشتې په پينځلسمه ورځ اِسرائيليان د مِصر نه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاړل، دا د اول ځل د فسحې اختر پسې ورځ وه. هغوئ د رعمسيس ښار نه زړَور
لاړل چې ټولو مِصريانو ورته کتل، ۴ چا چې خپل مشران زامن ښخول چې
مالِک خُدائ وژلی وُو. ځکه چې مالِک خُدائ د هغوئ د معبودانو سره اِنصاف
کړے وو. ۵ اِسرائيليان د رعمسيس ښار نه لاړل او په سُکات کښې يې خېمې
ولګولې. ۶ بيا هغوئ په ايتام کښې خېمې ولګولې چې د صحرا په غاړه دے.
۷ د هغه ځائ نه هغوئ فیهخيروت ته واپس شول، چې د بعلصفون نمرخاتهٔ
په طرف دے او مجدال ته نزدې يې خېمې ولګولې. ۸ هغوئ د فیهخيروت نه
لاړل، د سيند نه پورې وتل او د شور صحرا ته ورننه شول، د درېو ورځو مزل نه
پس هغوئ په ماره کښې خېمې ولګولې. ۹ د هغې ځائ نه هغوئ ايليم ته لاړل،
چرته چې هغوئ خېمې ولګولې، ځکه چې هلته د اوبو دولس چينې وې او د
کجورو اويا ونې وې. ۱۰ هغوئ د ايليم نه لاړل او بحرِقُلزم ته نزدې يې خېمې
ولګولې. ۱۱ بيا هغوئ د بحرِقُلزم نه لاړل او د صين په بيابان کښې خېمې
ولګولې. ۱۲ بيا هغوئ د صين بيابان نه لاړل او په دفقه کښې يې خېمې ولګولې،
۱۳ د دفقه نه الوش ته لاړل. ۱۴ هغوئ د الوش نه خېمې اوچتې کړې او په
رفيديم کښې يې ولګولې، چرته چې د خلقو دپاره د څښلو اوبهٔ نهٔ وې. ۱۵-۳۷ د
رفيديم نه واخله تر د حُور غرهٔ پورې هغوئ په دې ځايونو کښې خېمې ولګولې، د
سينا په بيابان کښې، قبروت هتاوه، حصيروت، رتمه، رمون فارص، لِبناه، رِسه،
قهيلاته، د شافر په غرهٔ کښې، حراده، مقهيلوت، تاحت، تارح، متقه، حشمونه،
موسيروت، بنیيعقان، حورالجدجاد، يُطباته، عبرونه، عصيونجابر، د صين
صحرا (چې قادِس دے)، او د حُور غر، چې د ادوم په لاره دے. ۳۸-۳۹ د
مالِک خُدائ په حُکم باندې، هارون اِمام د حُور غرهٔ ته وختلو. د يو سل درويشتو
کالو په عُمر کښې چې اِسرائيليان د مِصر نه راوتلی وُو د هغې په څلوېښتم کال د
پينځمې مياشتې په ومبۍ ورځ هغه مړ شو. ۴۰ په جنوبی کنعان کښې د عراد
بادشاه خبر شو چې اِسرائيليان راروان دی. ۴۱-۴۹ د حُور غرهٔ نه واخله تر د
موآب مېدانونو پورې بنی اِسرائيلو په دې ځايونو کښې خېمې ولګولې، ضلمونه،
فونون، اوبوت، د موآب په علاقه کښې عی عباريم، ديبون جاد، علمون دبلاتايم، د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نبو غرۀ ته نزدې د عباريم غرونه او د اُردن سيند نه پورې يريحو ته مخامخ د
موآب په مېدانونو کښې، د بيت‌يسيموت او د کيکرو وادى په مينځ کښې.

## د کنعان د فتح کولو دپاره د مالِک خُدائ حُکم

۵۰ د اُردن نه پورې يريحو ته مخامخ د موآب په مېدانونو کښې مالِک خُدائ
موسىٰ ته وفرمائيل چې، ۵۱ "بنى اِسرائيلو ته ووايه، کله چې تاسو د اُردن نه د
کنعان مُلک ته واوړئ، ۵۲ تاسو د هغه مُلک ټول اوسېدونکى وشړئ. د هغوئ
ټولې مجسمې او بُتان مات کړئ او د هغوئ ټولې علاقائى عبادتخانې ورانې کړئ.
۵۳ هغه مُلک قبضه کړئ او په هغې کښې اوسېږئ، ځکه چې زۀ هغه تاسو له
درکوم. ۵۴ هغه زمکه د پچې په ذريعه په بېلو بېلو قبيلو او قومونو باندې تقسيم
کړئ. لوئ قبيلې له ډېره زمکه ورکړئ او وړې قبيلې له لږه زمکه ورکړئ. ۵۵
خو کۀ تاسو د هغه مُلک اوسېدونکى ونۀ شړل، نو هغوئ به ستاسو دپاره داسې
وى لکه چې په سترګو کښې تېرۀ خسنړے او د لارې خنډ وى، چرته چې تاسو
اوسېږئ نو هلته به هغوئ تاسو له تکليف درکوى. ۵۶ کۀ تاسو هغوئ ونۀ شړل،
نو زۀ به تاسو تباه کړم، لکه څنګه چې ما د هغوئ د تباه کولو منصوبه جوړه
کړې ده."

## د کنعان سرحدونه

**۳۴** ۱ مالِک خُدائ موسىٰ ته وفرمائيل ۲ او د بنى اِسرائيلو دپاره يې دا
اصُول ورته وښودل، "کله چې تاسو کنعان ته ورننوځئ، کوم مُلک چې زۀ تاسو
له درکوم، ستاسو د علاقې حدونه به داسې وى. ۳ جنوبى سرحد به د صين
صحرا او د ادوم سرحد پورې وى. دا به د نمرخاتۀ په طرف د مالګې درياب د
جنوبى آخرى سر نه شروع کيږى. ۴ بيا به دا په جنوب کښې د لړم درې طرف
ته تاو وى او د صين صحرا نه واخله تر قادِس برنيع پورې به وى. د هغه ځائ نه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به دا سرحد حصر ادار او عصمون ته ورسيږي، (٥) چرته چې دا د مِصر په
سرحد کښې او د مديترانی د سمندر په آخری سر کښې د وادئ طرف ته تاو وی.
(٦) د مديترانی د سمندر به يې د نمرپرېواتهٔ سرحد وی. (٧) شمالی سرحد به د
مديترانی د سمندر نه شروع کيږی چې د هور غرهٔ پورې به وی، (٨) او د هغه
ځائ نه د حمات درې پورې به وی او صداد ته به ورسيږی (٩) او زفرون ته به
هم ورسيږی او په حصر عينان کښې به ختم شی. (١٠) د نمرخاتهٔ سرحد به د
حصر عينان نه شروع کيږی چې د شفام پورې به وی. (١١) بيا به دا د عين
نمرخاتهٔ طرف رِبله ته ورسيږی او د ګليل درياب نمرخاتهٔ غاړې غرونو ته به
ورسيږی، (١٢) بيا د اُردن سيند سره د مالګې درياب ته به ورسيږی. دا به ستاسو
او د دې نه ګېرچاپېره سرحدونه وی.“ (١٣) نو موسیٰ بنی اِسرائيلو ته وفرمائيل،
”دا هغه مُلک دے چې د پچې اچولو سره به تاسو ته ملاويږی، هغه زمکه چې
مالِک خُدائ نهٔ نيمو قبيلو ته په حواله کړې ده. (١٤) د روبين او جاد او د منسی
نيمې قبيلې ته مخکښې خپل ميراث مِلاو شوے دے، چې د هغوئ د کورَنو په
مطابق تقسيم شوے دے. (١٥) دې دوه نيمو قبيلو ته د اُردن سيند نمرخاتهٔ طرف
ته يريحو ته مخامخ خپله زمکه مِلاو شوې ده.“

## د زمکې تقسيمولو دپاره د مشرانو ذمه واری

(١٦) مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائيل، (١٧) ”اِلیعزر اِمام او د نون زوئ يشوَع به
په خلقو باندې زمکه تقسيم کړی. (١٨) د هرې قبيلې نه يو يو مشر سړے هم
خوښ کړه چې د دې په تقسيمولو کښې د هغوئ مدد وکړی.“ (١٩)-(٢٨) دا هغه
سړی دی چې مالِک خُدائ خوښ کړل، د يهوداه قبيلې نه کالب زوئ د يفُنه، د
شمعون قبيلې نه شلوميئيل زوئ د عميهود، د بنيامين قبيلې نه اليداد زوئ د
کسلون، د دان قبيلې نه بُقی زوئ د يجلی، د منسی قبيلې نه حنیايل زوئ د ايفود،
د اِفرائيم قبيلې نه قموايل زوئ د سِفتان، د زبولون قبيلې نه اليصفن زوئ د
فرناح، د يساکار قبيلې نه فلطیايل زوئ د عزان، د آشر قبيلې نه اخيهود زوئ د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شلومی او د نفتالی قبیلې نه فدهیئیل زوئ د عمیهود. ۲۹ دا هغه کسان دی چې
مالِک خُدائ د کنعان په مُلک کښې په خلقو باندې د زمکې تقسیمولو دپاره مقرر
کړل.

## د لیویانو دپاره ښارونه

۳۵ ۱ د اُردن نه پورې یریحو ته مخامخ د موآب په مېدانونو کښې مالِک
خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل، ۲ ”بنی اِسرائیلو ته ووایه چې کوم میراث هغوئ ته
مِلاو شوے دے د هغې نه به څۀ ښارونه د اوسېدو دپاره او د ښارونو نه
ګېرچاپېره د څرن زمکه خامخا لیویانو له ورکوی. ۳ دا ښارونه به د لیویانو
وی او هلته به اوسېږی. د څرن زمکه به د هغوئ د څاروو او نورو څناورو دپاره
وی. ۴ د څرن زمکه به د ښار دېوالونو نه بهر پینځۀ سوه ګزه په هر طرف
خوره وی، ۵ چې هغه علاقه څلور واړو طرفونو ته تقریباً زر ګزه وی او ښار
یې په مینځ کښې وی. ۶ تاسو به لیویانو له د پناه دپاره شپږ ښارونه ورکوئ کۀ
چرې یو سړے یو کس په غلطۍ سره ووژنی نو هلته به تښتی. د دې نه علاوه،
هغوئ له دوه څلوېښت ښارونه ورکړئ ۷ د څرن د زمکې سره، د هغوئ به
ټول اتۀ څلوېښت ښارونه وی. ۸ په هره قبیله کښې د لیویانو د ښارونو شمېر
دې د هغې علاقې د غټوالی یا وړوکوالی په اندازه معلوم کړے شی.“

## د پناه ښارونه

۹ مالِک خُدائ موسیٰ ته وفرمائیل، ۱۰ ”بنی اِسرائیلو ته ووایه، کله چې تاسو
د اُردن سیند نه پورې غاړه واوړئ او د کنعان مُلک ته ورننوځئ، ۱۱ نو تاسو به
د پناه ښارونه خوښ کړئ چې یو سړے په غلطۍ سره څوک مړ کړی نو چې
هلته تښتېدلے شی. ۱۲ هلته به د مړی د خپلوانو نه په حِفاظت کښې وی څوک
چې بدل اخستل غواړی. چې په چا باندې د قتل اِلزام وی نو هغه به تر هغه پورې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نهٔ شي وژلے چې جرګې ته پېش شوے نهٔ وي. ۱۳ شپږ ښارونه خوښ کړئ،
۱۴ چې درې د اُردن دې غاړې ته وي او درې د کنعان په مُلک کښې وي. ۱۵
دا ځايونه به د بنی اِسرائيلو او د مسافرو دپاره د پناه ښارونه وي چې هغوئ د
پردی مُلک وي يا په مستقله توګه اوسېدونکي وي. هر څوک چې په غلطۍ سره
څوک ووژني نو هغه به دې ښارونو ته تښتېدے شي. ۱۶-۱۸ خو، کهٔ څوک د
وسلې، کاڼي، يا د لرګي سره څوک ووژني، نو هغه قاتِل دے، وبه وژلے شي. ۱۹
دا به د مړ شوی کس د نزدې خپلوانو ذمه واری وي چې قاتِل مړ کړی. چې کله
يې هم پېدا کړی، نو وبه يې وژنی. ۲۰ کهٔ څوک د چا سره کينه لری او د هغهٔ د
مرګ منصوبه جوړوی، په څهٔ يې ووِلی او يا ديکه ورکړی نو دا يې قصداً وژنی
۲۱ يا يې په سوک ووهی، نو هغه د قتل مجرم دے او هغه به وژلے شی. د مړی
د نزدې خپلوانو دا ذمه واری ده چې قاتِل مړ کړی. هغوئ يې چې کله هم پېدا
کړی، نو وبه يې وژنی. ۲۲ خو کهٔ يو کس په غلطۍ سره څوک ووژنی چې د هغهٔ
سره يې کينه نهٔ وی، کهٔ په څهٔ يې ووِلی او يا ديکه ورکړی، ۲۳ يا چې د چا
خيال نهٔ وی او يو کاڼے ووِلی او څوک وربانډې مړ شی اګر چې هغهٔ له يې د
تکليف رسولو اراده نهٔ وی او دشمن يې هم نهٔ وی، ۲۴ نو په داسې حالاتو کښې
به جرګه د هغه کس په حق کښې فېصله کوی د چا نه چې مړے شوے وی، نهٔ
چې د هغه مړ کس د خپلوان په حق کښې چې بدل اخستل غواړی. ۲۵ جرګه به
د مړی د خپلوان نه هغه کس بچ کوی چې په غلطۍ سره د قتل مجرم وی او
هغوئ به هغه واپس د پناه ښار ته بوځی کوم ته چې تښتېدلے وی. هغه به هلته تر
هغې پورې ايسارېږی چې مشر اِمام مړ نهٔ وی. ۲۶ چې کوم کس په غلطۍ سره
د قتل مجرم وی کهٔ هغه د پناه د ښار نه لاړ شی کوم له چې ورتښتېدلے وی ۲۷
او د مړی خپلوان هغه پېدا کړی او وې وژنی، نو د دې بدل اخستلو په وجه هغه
ګناهګار نهٔ دے. ۲۸ کوم کس چې په غلطۍ سره د قتل کولو مجرم وی هغه به
خامخا د پناه په ښار کښې تر هغه وختِه پورې پاتې کېږی چې تر کومې پورې
مشر اِمام مړ نهٔ وی، خو د هغې نه پس هغه واپس کور ته تلے شی. ۲۹ دا قانون
به ستاسو او ستاسو د اولاد دپاره وی چې په هر ځائ کښې اوسېږئ. ۳۰ چې په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چا باندې د قتل اِلزام وى نو هغه به صِرف په هغه وخت مجرم گڼلے شى او مړ
کولے به شى چې په هغهٔ باندې دوه کسان يا دوو نه زيات گواهان گواهى
ورکړى، د يو کس گواهى د قتل د اِلزام ثابِتولو دپاره کافى نهٔ ده. ۳۱ قاتِل به
خامخا وژلے شى. هغه د دې سزا نه په دې نهٔ شى خلاصېدلے چې د صُلحې
پېسې ورکړى. ۳۲ کهٔ څوک د پناه ښار ته تښتېدلے وى، نو هغه دې ته مهٔ
پرېږدئ چې د مشر اِمام د مرگ نه مخکښې د صُلحې پېسې ورکړى د دې دپاره
چې کور ته واپس راشى. ۳۳ هغه مُلک مهٔ پليتوئ چې چرته تاسو اوسېږئ، ځکه
د وينې تويَول د هغه مُلک پليتول دى او چې په کومه زمکه باندې وينه توئ شى نو
د هغې کفاره نهٔ شى ادا کېدلے، زمکه د هغه کس د وينې تويَولو نه بغير نهٔ
پاکيږى چا چې وينه توئ کړې وى. ۳۴ هغه مُلک مهٔ پليتوئ چرته چې تاسو
اوسېږئ، ځکه چې زهٔ مالِک خُدائ يم او د بنى اِسرائيلو په مينځ کښې اوسېږم.“

## د وادهٔ شوو ښځو ميراث

**۳۶** ۱ د جِلعاد د قبيلې د کورَنو مشران، د مکير زوئ او د منسى نمسے چې
د يوسف زوئ وو، موسىٰ او د بنى اِسرائيلو نورو مشرانو له لاړل. ۲ هغوئ
ووئيل، ”صاحِبه، مالِک خُدائ تا ته حُکم درکړے دے چې زمکه د پچې په ذريعه
په بنى اِسرائيلو تقسيم کړه. مالِک خُدائ دا حُکم هم کړے دے چې زمونږ د
خپلوان صِلافحاد جائيداد د هغهٔ لوڼو له ورکړه. ۳ خو دا خبره ياده ساته. کهٔ
هغوئ د بلې قبيلې سړو سره ودونه وکړل، نو د هغوئ جائيداد به د هغه قبيلې شى
او زمونږ برخه به کمه شى. ۴ د واپس ورکولو په کال کښې، کله چې کوم
جائيداد خرڅ شوے وى او هغه واپس خپل اصلى مالِک ته ملاويږى، نو د
صِلافحاد د لوڼو جائيداد به د هميشه دپاره هغه قبيلې ته ورکړے شى چې په
کومه کښې وادهٔ شوې وى او دا به زمونږ د قبيلې دپاره د تاوان خبره وى.“ ۵
نو موسىٰ بنى اِسرائيلو ته د مالِک خُدائ دا حُکمونه واورول. هغهٔ وفرمائيل، ”د



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

منسی قبیله چې څهٔ وائی هغه ټیک دی، (۶) او مالِک خُدائ فرمائی چې د
صِلافحاد لوڼه آزادې دی چې د چا سره هم وادهٔ کول غواړی خو په خپله قبیله
کښې به یې کوی. (۷) د یوې بنی اِسرائیلی قبیلې جائیداد به بلې قبیلې ته نهٔ شی
ورکولے. (۸) هره یوه ښځه چې په کومه بنی اِسرائیلی قبیله کښې میراث اخلی
نو هم د هغه قبیلې د سړی سره به وادهٔ کوی. نو داسې ټولو بنی اِسرائیلو ته به د
خپل پلار نیکهٔ په جائیداد کښې میراث ملاویږی، (۹) او د یوې قبیلې جائیداد به
بلې قبیلې ته نهٔ ملاویږی. هره بنی اِسرائیلی قبیله به خامخا خپله د میراث زمکه
لری.“ (۱۰)-(۱۱) نو د صِلافحاد لوڼو، محلاه، تِرضاه، حجلاه، مِلکاه او نوعاه هم
هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ موسیٰ له حُکم ورکړے وو او هغوئ
خپلو د ترونو زامنو سره ودونه وکړل. (۱۲) هغوئ د یوسف زوئ منسی قبیلې په
کورَنو کښې ودونه وکړل او د هغوئ جائیداد د هغوئ د پلار په قبیله کښې پاتې
شو. (۱۳) دا هغه اصُول او قانون دے کوم چې مالِک خُدائ د موسیٰ په ذریعه د
موآب په میدانونو کښې د اُردن نه پورې یریحو ته مخامخ بنی اِسرائیلو له ورکړو.



Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.